

دَ هریو مشهور نعت خوان انتخاب

دَ زړۀ سکون

نوی او خواږه نعتونه





لیکونکے

احمدعلی مردانی

صدارتی ایوارډیافته

خورونکے

اسلامی ادبی تولنه

یونیورسټی روډ مردان 0312-9818511

دَ زړۀ سکون

نوی او خواږه نعتونه

لیکونکے

احمدعلی مردانی

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

نوی خوارۀ نعتونه

دَزړۀ سکون

(بښکلی نعتونه)

لیکونکے

احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه بنوری ټاؤن کراچی

وایم اے عربی عبدالولی خان یونیورسټی مردان)

استاد گورنمنټ پرائمری سکول لیبر کالونی مردان

خورونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورسټی روډ مردان 0312-9818511

هرچاته ئې دَ چهاپ کُولو اجازت دے

دَ کتاب نوم	دَ زړۀ سکون (نعتونه)
صفحات	248
مصنف	مولانا احمدعلی مردانی
نظرثانی	جناب مهراندیش صیب
کتابت	النور کمپوزنگ سنټر
پبلشرز	مکتبه عشره مبشرهٔ لاهور
دَ چهاپ کال	مارچ 2017ء
بیعه	300روپئ
دَ ملاویدلو درك	0312-9818511

دَ میلاویدلو درکونه

★علی اینډ سنز کلاته هاؤس ګجو خان مردان

★ دَ ادبی دوستانو مرکه مردان

★ جامعه احیاء العلوم نسته روډ مردان

★ مدرسه اصحابِ صفهؓ مردان

★ دَ مردان په هره غټه کتب خانه کښې
میلاویدے شي .

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

دَ مصنف خبرے

الحمد للّٰه رب العٰلمین والصلوٰة والسلام علی رسوله الکریم وعلیٰ اٰله واصحابه اجمعین ومن تبعهم باحسان الیٰ یوم الدین . اما بعد! دا خبره لکه دَورځ پښان واضحه ده چې په مخلوقات کښې دَ خالقِ کائنات (دَاللّٰه تعالیٰ) نه ورستو دَ ټولو نه زیات ذکر دَ شفیع المذنبین خاتم النبیین امام المرسلین سید الاولین والاخرین حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ په مخ دَ مزکه کیږی .چاچې په دُنیا کښې کلمه ویئلے ده هغه په کلمه کښې دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ذکر نه پس دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ ذکر کوی .دغه شان څوك چې په دُنیا کښې اَذان کوی نو مؤذن هم په دغه اَذان کښې دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ذکر سره دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ذکر کوی .دغه رنګ په مونځ کښې دَ خالقِ کائنات دَ ذکر سره دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ ذکر راغلے دے .دَ اللّٰه تعالیٰ په کلام کښې هم په مختلفو مقاماتو کښې دَ اللّٰه تعالیٰ د ذکر سره دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ ذکر موجود دے .دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ سره مینه او

دَ هغوی ذکر کول عین عبادت دے یعنی اصل عبادت هم دغه مینه او ذکر دے. دغه ذکر یا نظم او نثر دواړو شکلو کښې موجود دے .ادیبانو په نثر کښې دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ صفات بیان کړی دی او شاعرانو په شعرونو کښې دَ نبی کریم ﷺ مدح وصفت بیان کړے دے.دغه مدح وصفت ته په عربی ژبه کښې نعت وئیلے شی . یعنی دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ تعریف وتوصیف بیانوولو ته دَاهل شریعت په اصطلاح کښې نعت وئیلے شی. دَ لفظ نعت په دے معنیٰ کښې اولنے استعمال په عربی ژبه کښې شوے وو بیا دَ عربی ژبے نه فارسی پنجابی اُردو پښتو او دغه رنګ نورو ژبو ته دا لفظ په دے معنی منتقل کړے شو . او نن هم په دغه معنیٰ باندې استعمال لیږی. نعتِ مصطفیٰ ﷺ لیکل او بیانوُل دا طریقه دَ صحابهؓ ده . دغه شان دا طریقه دَ نیکانو صالحانو اولیاء اللّٰه ده. په اصحابِ رسولؓ کښې په نعت خوانی سره یاد نوم دَ حضرت حسان بن ثابتؓ دے چې ورته شاعر رسول ﷺ لقب هم ورکړے شوے وو . دوی به بهترین انداز سره دَ شعرونو په ذریعه دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ مدح وصفت بیانوو. نعت لیکل او وئیل ډیر لوئے عبادت دے دَ دُنیا او دَ آخرت دَسعادت یو ذریعه

ده.په اَخرت کښې دَ نجات يو لوئے سبب دے او په دُنيا کښې دَ برکتونو او رحمتونو باعث دے. دَ نبی کريم ﷺ مدح ثنا که بلا واسطه وی نو هم عبادت دے او ډير دَ اجرعظيم سبب دے او که دا مدح وثنا بالواسطه وی نو هم دَ خير او اجر کامل نه خالي نه دے.په دې دواړو صورتو نو کښې په نعت خوانی شريعت کښې په دے ډير لوئے اجر مقرر کړے دے.

ما هم په دغې نيت دا مختصره مجموعه ليکلے ده چې اللّٰه تعالیٰ ئې ماله باعث دَ شفاعتِ محمد رسول اللّٰه ﷺ وګرځوی .او دَ اَخرت په هريو منزل ئې ماله دَ پاره نُور دَ اَخرت او سبب دَ نجات کامل اُګرځوی.

وصلی اللّٰه تعالیٰ علی خير خلقه محمد وآله واصحابه اجمعين ومن تبعهم باحسان الیٰ يوم الدين .

دَ دُعا او دَ شفاعت طلبګار

(ابو القاسم) احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلاميه

علامه محمد يوسف بنوریؒ ټاؤن کراچی

و ايم اے عربی عبدالولی خان يونيورسټی مردان)

استاد ګورنمنټ پرائمری سکول ليبرکالونی مردان

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

حمد باری تعالیٰ

تـــهٔ دَهـــر نـــور دَ هـــر آفتـــاب مـــالك ئـــي
دَ هـــريـــو درد دَ هـــر دريـــاب مـــالك ئـــي
انســـانـــان تـــول دي ستـــا دَ در غـــلامـــان
دَ هـــر انســـان دَ هـــريـــو بـــاب مـــالك ئـــي
تـــول مـــلائـــكـــه ستـــا د در مـــحتـــاج دي
دَ كـــائـــنـــات دَ ښـــهٔ خـــراب مـــالك ئـــي
تـــورات زبـــور انـــجيـــل قـــرآن دغـــه تـــول
دَ انبيـــاء دَ هـــر كتـــاب مـــالك ئـــي
جـــنـــت دوزخ تـــا پيـــدا كـــړي دواړه
دَهـــر عـــذاب او دَ ثـــواب مـــالك ئـــي
ميـــزان دَ عـــدل قـــائـــم كـــړے تـــا دے
دَ كـــائـــنـــات دَهـــر حســـاب مـــالك ئـــي
غـــرونـــه دا لـــوئـــي لـــوئـــي آســـمـــانـــونـــه بـــره
رڼـــا دَ ستـــورو دَ مهتـــاب مـــالك ئـــي
تـــهٔ دَ احـــمـــد مـــالك ئـــي حـــق وايـــمـــه
دَ هـــر ســـوال دَ هـــر جـــواب مـــالك ئـــي

حمد باری تعالیٰ

دَ هــــر صـــحـــرا دَ هـــر میدان مـــالك ئـــي
بــره دَ هـــر يـــو لـــوئـــي اسمـــان مـــالك ئـــي
داوُنـــي بـــوټـــی پیـــدا کـــړی تـــادی
دَ دريـــابـــونـــو دَجهـــان مـــالك ئـــي
ښـــائستـــهٔ قـــمـــر ســـره تهول ستـــوری ستـــادی
دَ هـــر ځـــنـــګـــل او بيـــابـــان مـــالك ئـــي
بـــره دَ عـــرش او دَ کـــرســـی ســـره تـــهٔ
دَ هـــر مـــکـــان او لامـــکـــان مـــالك ئـــي
دَ هـــر يـــو غـــنـــي دَجهـــان دلتـــه کښي
دَ هـــر يـــو ګـــل دَ ګـــلستـــان مـــالك ئـــي
دَ هـــر عـــالـــم او دَ جـــاهـــل دَ در
دَ هـــر غـــريـــب ســـره دَ خـــان مـــالك ئـــي
ګـــرمـــے يـــخـــنـــے ســـره دَ دوارو دلتـــه
دَ هـــر سپـــرلـــی او دَ خـــزان مـــالك ئـــي
دَ هـــر يـــو ســـاه تـــهٔ ئـــی مـــالك دَجهـــان
دَهـــر يـــو ګـــټـــے او تـــاوان مـــالك ئـــي
دَ احـــمـــد لاس کښـــي کـــهٔ قـــلـــم دلتـــه دے
ددي قـــلـــم دَ دي بيـــان مـــالك ئـــي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې دُنيا كښې محمد خير البشر ﷺ ووينی
داسې ده دلته چې دُنيا كښې ښائسته نمر ووينی
څوك چې صورت دَ محمد رسول الله ﷺ ووينی
څوك چې صورت دَ محمد نُور الهُدیٰ ﷺ ووينی
داسې ده دلته چې روښانه څوك قمر ووينی
څوك چې ښاغونه دَ نبيانو دَ امام ووينی
څوك چې غاښونه دغه دلته كښې تمام ووينی
داسې ده دلته چې لعلونه او ګوهر ووينی
څوك چې ظهور دَ محمد رسول الله ﷺ ووني
څوك چې تول نُور دَ محمد رسول الله ﷺ ووينی
داسې ده دلته چې په شپې پسې سحر ووينی
څوك چې انوار دَ محمد رسول الله ﷺ ووينی
څوك چې دربار دَ محمد رسول الله ﷺ ووينی
داسې ده دلته چې رڼا څوك دَ نظر ووينی
څوك په نظر چې محمد خير الانام ﷺ ووينی
احمده ! څوك چې په دُنيا دا لوئي مقام ووينی
داسې ده دلته چې ګلاب څوك معطّر ووينی

★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې په خپلو سترګو دلته پیغمبر ﷺ ووینی
لـکـه یـخ والـے چـې دَ سـتـرګـو دَ نـظـر ووینـی
څـوك پـه دُنیـا چې دَ نبیـانو تـاجدار ﷺ ووینـی
څوك په دُنیـا چـې مـحـمـد خیـر الابـرار ﷺ ووینی
داسـې ده دلتـه چـې روښـانـه بـره نـمـر ووینـی
څـوك چـې پـه خپـلـو سـتـرګـو ووینی تاجدار دَ جهان
څوك چې په خپلو سترګو ووینی غمخوار دَ جهان
دَ دلبـرانـو پـه دُنیـا کښـې بـه دلبـر ووینـی
څـوك چـې پـه خپلـو سـتـرګو ووینی امین دَ جهان
څـوك چـې پـه خپلـو سـتـرګو ووینی یٰسین دَجهان
داسـې ګـڼـره چـې مجسمـه څـوك اختـر ووینـی
څوك چې پـه خپلـو سترګـو ووینی رحمت دَجهان
څوك چې پـه خپلـو سترګـو ووینی مشفق مهربان
ګـڼـره ئـې دلتـه دَ جهـان چې څـوك افسر ووینـی
څـوك چې پـه خپلـو سترګـو ووینی محبوب دَ رب
څـوك چې پـه خپلـو سترګـو ووینی مطلوب دَ رب
داسې ګڼره چې څـوك دُنیـا کښې تـاج دَ سر ووینی
څـوك چـې پـه خپلـو سترګو ووینی احمده ! نبی ﷺ
څـوك چې په خپلـو سترګو ووینی رسول مدنی ﷺ

ځــادرِ دَ حُســن دښــکــلا بــه دَ هــر درووبــنــي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

درود زړۀ نـــه داغــونـــه دَ نــفـــرت لــرے کــوی
دَ زړۀ نـــه دَ دُنیـــا دَ درظــلـــمـــت لـــرے کــوی
پـــه دي ســـره پـــاکیـــړی دغـــه زړونـــه دَجهـــان
پـــه دي تـــول آبـــادیـــړی دا کـــورونـــه دَجهـــان
دُنیـــا کښـــی هـــریـــو کورنـــه شـــرارت لـــرے کوی
دَ زړۀ نـــه دَ دُنیـــا دَ درظــلـــمـــت لـــرے کــوی
پـــه دي ســـره ختـــمیـــړی دا تـــورتـــم دَکـــائـنـــات
پـــه دي ســـره ختـــمیـــړی هـــریـــوغـــم دَ کـــائـنـــات
دُنیـــا دَ هـــریـــو درنـــه هـــم لـــعـــنـــت لـــرے کـــوی
دَ زړۀ نـــه دَ دُنیـــا دَ درظــلـــمـــت لـــرے کــوی
پـــه دے ســـره جـــوړیـــړی هـــریـــو کـــاردلتـــه اســـان
پـــه دے ســـره لـــرکیـــړی هـــر اثـــر دَ هـــر شیـــطـــان
دُنیـــا کښـــي دَ هـــر در نـــه ضـــلالـــت لـــرے کـــوی
دَ زړۀ نـــه دَ دُنیـــا دَ درظــلـــمـــت لـــرے کــوی
هـــر درپـــه دے آبـــاد دے اے احـــمـــده! دَجهـــان
درود ســـره ښـــائستـــه دے دَ دُنیـــا دَ در انســـان
تیـــرے دَ کـــائـنـــات نـــه دَ بـــدعـــت لـــرے کـــوی
دَ زړۀ نـــه دَ دُنیـــا دَ درظــلـــمـــت لـــرے کــوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

درود سره دُنیا کښې هر یو در دے ښائسته شوے
درود سره دُنیا کښې هر بشر دے ښائسته شوے
درود دی رڼا ګانې دَ دُنیا ددغې در
درود ی رڼا ګانې په هر خوا ددغې در
قسم دے په دے دلته هر نظر دے ښائسته شوے
درود سره دُنیا کښې هر بشر دے ښائسته شوے
درود کښې سکون پروت دے په دُنیا کښې دَهر کور
درود کښې سکون پروت دے دَ محشر او هم دَ ګور
قسم دے په درود هر یو رهبر دے ښائسته شوے
درود سره دُنیا کښې هر بشر دے ښائسته شوے
درود کښې رحمتونه دَ مولیٰ غنی سبحان دی
دَ رحم بارانونه دَ مولیٰ غنی سبحان دی
هر باغ دَ کائنات ئي په اثر دے ښائسته شوے
درود سره دُنیا کښې هر بشر دے ښائسته شوے
درود کښې مینه پټه دَ مولیٰ غنی سبحان ده
درود کښې مینه پټه دَ نبی اٰخر زمان ﷺ ده
درود سره دُنیا کښې بره نمر دے ښائسته شوے
درود سره دُنیا کښې هر بشر دے ښائسته شوے
درود کښې پټ پراته دی دَ مولی تول جنتونه

درود کښې پټ پراته دي دَرسول الله ﷺ يادونه

درود سره دَ هريو درسحر دے ښائسته شوے

درود سره دُنيا کښې هر بشر دے ښائسته شوے

درود سره تول ستوري ښائسته شوي دَ اسمان دي

درود سره ګلونه تول ښائسته دَ ګلستان دي

په دے سره هر تاج دَ هريو سر دے ښائسته شوے

درود سره دُنيا کښې هر بشر دے ښائسته شوے

درود سره تړلے ده ربَ ښُکلا دَ هر چمن

احمد علی درود کښی ده ښُکلا دَ هر وطن

درود سره دُنيا کښې پاس قمر دے ښائسته شوے

درود سره دُنيا کښې هر بشر دے ښائسته شوے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

درود زړۀ نه اثر دَ هر شيطان لرے کوی

کينه حسد دَ زړۀ نه دَ انسان لرے کوی

داغونه دَ ګناه دَ زړۀ ختميږی دَ انسان

دا زړونه صفا کيږی په دُنيا کښی دغه شان

داغونه دَ هر زړۀ نه دغه شان لرے کوی

درود زړۀ نه اثر دَ هر شيطان لرے کوی

ظلمت دَ هر بدعت په دې لر کيږی دَ جهان

ظلمت دَ ضلالت په دې لر کيږی دَ جهان

دُنیــــا نـــــه دَ دُنیـــا دَ در خـــزان لـــرمے کـوی
درود زړۀ نـــــه اثــــر دَهـــرشیــطـــان لـــرمے کـوی
مــاحــول دلتــــه دُنیــا کښـــی دَنــفـرت ختـمـوی دا
مـــــاحـــول ددي دُنیـــــا دَ عــــداوت ختـــمــــوی دا
دُنیـــا کښـــي دَ دُنیـــا نـــــه هــر هـامـان لـرمے کـوی
درود زړۀ نـــــه اثــــر دَهـــرشیــطـــان لـــرمے کـوی
عـــلاج دَ هـــــر بیـــمــــار دمے امے احــمــده ! دَ جهـــان
عـــــلاج دَ هـــــریـــــو دردمے دا عـــلاج دمے دَ مـــــردان
دُنیـــا کښـــي دَ هـــر در نــــه گــمــراهـان لـرمے کـوی
درود زړۀ نـــــه اثــــر دَهـــرشیــطـــان لـــرمے کـوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـــــه مــدیـنــــه کښـــي مـــي جـــانـــان وُسیـــږي
زمـــــا نبـــــی آخـــــرزمـــــان ﷺ وُسیـــــږي
هـــلتــــــه کـــورونــــه دَرنـــا نــــــه جـــوړ دي
هـــلتــــــه کـــورونــــه دوفـــا نــــــه جـــوړ دي
نـــــورانــــی نـــــور دَ هـــــرمـــکــــان وُسیــــږي
هـــلتـــــه ښُـــکــــلا دَ هـــــریـــو در پـــرتــــــه ده
هـــلتـــــه ښُـــکـــلا دَ پیـــغـــمبـــر ﷺ پـــرتـــــه ده
دوســـت دَ الــلـــــه غـنـــی سبـــحـــان وُسیـــــږي
هـــلتـــــه رحـــمـــت پـــــه هـــریـــو چهـــت وریـــږي

هلته رحمت دَ پاك حضرت ﷺ وريږي
هلته ښُکلا دَ ګلستان وُسيږي
هلته محبوب دَ عالمانو وُسي
محبوب احمده! دَ نيکانو وُسي
دَ هريو در هلته سلطان وُسيږي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دَ زړهٔ په کور کښې مې طٰهٰ ﷺ وُسيږي
نوراني نور دې دُنيا وُسيږي
ځکه په زړهٔ کښې مې غمونه نشته
ځکه دَ زړهٔ مې فريادونه نشته
راسره کور کښې مصطفىٰ ﷺ وُسيږي
نوراني نور دې دُنيا وُسيږي
ځکه مې زړهٔ په اطمينان سره دے
ښهٔ مطمئنه هر بيان سره دے
محبوب مې کور کښې دَ مولىٰ وُسيږي
نوراني نور دې دُنيا وُسيږي
ځکه خوشحاله په هر در باندې دے
ياد شوې کور ښهٔ په بهتر باندې دے
دَ دُنيا تولے مقتدا وُسيږي
نوراني نور دې دُنيا وُسيږي

دَهـر نـعـمـت نـه لـوئـے نـعـمـت دے دلتـه
دَ هــر عــزت نــه لــوئـے عــزت دے دلتــه
زړۀ کښــې دنــنــه چــې زمــا وُسیـــرى
نــورانـــى نـــوردې دُنیـــا وُسیــــږى

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـلـګـرې چـې دَ چـا نورانـى نمر مدنى ﷺ شو
رهبـر شـو پـه دُنیـا چـې ئې رهبر مـدنى ﷺ شو
رهبـر شـو پـه دُنیـا کښـې دَ دُنیـا دَ رهبـرانـو
رهبـر شـو پـه دُنیـا کښـې دَ نیـکـانو صـالـحـانو
دَ چـاسـره مـلـګـرې چـې افسـر مـدنـى شـو
رهبـر شـو پـه دُنیـا چـې ئې رهبر مـدنى ﷺ شو
رهبــر دَ خــلائـق شـو پـه دُنیـا کښـې دَ دُنیـا
رهبــر دَ خـلائـق شو پـه دُنیـا کښـې پـه هـرخوا
مـحبوب چـې پـه دُنیـا دَ چـا دلبـر مـدنـى شو
رهبـر شـو پـه دُنیـا چـې ئې رهبر مـدنى ﷺ شو
رهبــر دَ هــر دانـا شـو پـه دُنیـا کښـې هـر سـاعـت
دُنیـا دَ پــاره جـوړ شـولـو یـو سپـورې دَ رحـمـت
دلبـر چـې پـه دُنیـا ئـې پیـغـمبر مـدنى ﷺ شو
رهبـر شـو پـه دُنیـا چـې ئې رهبر مـدنى ﷺ شو
رهبر شـو پـه دُنیا کښې هغـه هر ځائے کښې تمام

عــالــي پــه کــائــنــات ئــي دَ دُنيــا شــولــو مقــام
احــمــدعــلــی ! دَ چا چې دَ زړهٔ سر مــدني ﷺ شو
رهبــر شــو پــه دُنيــا چــې ئې رهبر مــدنی ﷺ شــو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پــاك رسول اللّٰــه ﷺ زمونږه نُور کامل په ذات دے
دا مــې عــقيــده ده چــې بهتــر لــه مخلــوقــات دے
دا مــې عــقيــده ده چــې بهتر هــغــه هرچا نــه دے
دا مــې عــقيــده ده چــې بهتــر لــه انبيــاء نــه دے
سيَــدالــورئ ﷺ زمــونــږ جــامــع دَ کــمــالات دے
دا مــې عــقيــده ده چــې بهتــر لــه مخلــوقــات دے
دا مــې عــقيــده ده هــم خــاتــم دَ مُــرســلانــو دے
دا مــې عــقيــده ده هــم مــحبوب دَ صــالــحــانو دے
خــورم قســم دُنيــا کښې مــجموعه دَ ټول صفات دے
دا مــې عــقيــده ده چــې بهتــر لــه مخلــوقــات دے
دا مــې عــقيــده ده نُــور دے نــور بشــهٔ مــنوَر ﷺ هغــه
دا مــې عــقيــده ده چــې دے سيَــد الــبشــر ﷺ هــغــه
خــورم قســم دُنيــا کښې لاثــانی پــه عبــادات دے
دا مــې عــقيــده ده چــې بهتــر لــه مخلــوقــات دے
دا مــې عــقيــده ده اولــيــن دے دَ دُنيــا نبــی ﷺ
دا مــې عــقيــده ده آخــريــن دے دَ دُنيــا نبــی ﷺ

دغــه شـان بـاعـث دَ کـائـنـات دَ بـرکـات دے
دا مـي عـقـيـده ده چـي بهتـر لـه مخلوقـات دے
دا مـي عـقـيـده ده چـي شـافـع دَ مذنبيـنـو ﷺ دے
دا مـي عـقـيـده ده چـي امام دَ صالـحينو ﷺ دے
وائـي احـمـد وائـی بنـۀ کـامل پـه بيـانـات دے
دا مـي عـقـيـده ده چـي بهتـر لـه مخلوقـات دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تـول مـنـی دا تـول چـي رب زمـونـږه يـو اللّٰـه دے
جـنـګ زمـونـږ اغيـار سره پـه سيَدالـورىٰ ﷺ دے
زۀ مـنـم چــي نـور دے نـورانـی هـغـه بشـر منم
زۀ ئـي کـائـنـات کـښـي اٰخـرى هـم پيـغـمبر ﷺ منم
دا بيـان دُنيـا کـښـي دَ نيـکـانـو عـلـمـاء دے
تـول مـنـی دا تـول چـي رب زمـونـږه يـو اللّٰـه دے
جـنـګ زمـونـږ اغيـار سره پـه سيَدالـورىٰ ﷺ دے
زۀ پـه کـائـنـات کـښـي دَ رسـول ﷺ هريو صفت منم
دا رنګ پـه محشر کـښـي ئـي تاجدار دَ شفاعت ﷺ منم
ښـۀ واضـحـه ذکـر دغـه کـړے اوليـاء دے
تـول مـنـی دا تـول چـي رب زمـونـږه يـو اللّٰـه دے
جـنـګ زمـونـږ اغيـار سره پـه سيَدالـورىٰ ﷺ دے
زۀ ئـي پـه دُنيـا کـښـي تـول روښـانـه شـريـعـت منم

زهٔ ئـي دَ هـر لارے رڼـا دلتـه کښې سنـت منم
دا بيـان ليـکـلـے امـامـانـو ښـهٔ صـفـا دے
تـول مـنـی دا تول چې رب زمونـږه يو اللّٰـه دے
جـنګ زمـونـږ اغيار سره په سيّدالورىٰ ﷺ دے
زهٔ ئـي کـائـنـات کښي لـکـه نمر پشان رڼا منم
زهٔ ئـي دَ دُنيـا دَ در روښـانـه مـقـتـدا مـنـم
اے احـمـده ! دا بيـان هـم دلتـه کښې نن ستـا دے
تـول مـنـی دا تول چې رب زمونـږه يو اللّٰـه دے
جـنګ زمـونـږ اغيار سره په سيّدالورىٰ ﷺ دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

اقتـدا کښـي دَ طـهٔ ﷺ ده کـاميـابـی
دغـه ستـا ده هـم زمـا ده کـاميـابـی
هـم صـديـقؓ ئـي مـقـتـدی ددي جهـان دے
خيـرسـري دَ مـصـطـفـىٰ ﷺ ده کـاميـابـی
دَ عـمـرؓ عـدل ددغـي در پـه لار دے
راشـه دلتـه دَ هـر چـا ده کـاميـابـی
دَ عثـمـانؓ سـخـاوت ښـور ددغـي در دے
پتـه دلتـه پـه رښتيـا ده کـاميـابـی
دَ حـضـرت عـلـيؓ عـظـمـت ددغـي در دے
ښـهٔ واضـحـه دا صـفـا ده کـاميـابـی

علامت دَ هر فلاح دے په جهان
دَ اخرا او دَ دُنیا ده کامیابی
اے احمد علی ! ځکه دَ فلاح ځائے دے
ایخی دلته رب مولیٰ ده کامیابی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مینه رسول ﷺ سره زیاتیږی په درود بانديٍ
دَ رب رضا هم ملاویږی په درود بانديٍ
هریو کار دلته که ؤ وی وران دَ دې دُنیا دَ در
کارونه دغه ټول سمیږی په درود بانديٍ
دَ لوئی ثواب ده ذریعه په دې دُنیا کښی دلته
ګناه دَ هر بشر رژیږی په درود بانديٍ
دُعا درود سره چې یَو شی قیمتی جوړه شی
ځکه هریو دُعا قبلیږی په درود بانديٍ
خیر ددُنیا پکښې ټول پروت دے څوك چې دلته وائی
زنګ دَ هر زړۀ نه لرے کیږی په درود بانديٍ
کامیاب به نشی چې څوك نۀ وائی درود په ژبه
احمده ! خلق وُچتیږی په درود بانديٍ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځے چې وُکړو دَ نبی ﷺ دَ شفاعت خبرے
راځے چې وکړو دَ نبی دَ رسالت خبرے

راځــے چــې وکـــړو تــذکــره دَ پــاك رسـول ﷺ دَ در

ددغـــی در دلتـــه چــې وکـــړو دَ عــظــمــت خبــرے

راځــے وُکـــړو تــذکـــره دَ مـحـمـد ﷺ دَ اصحـابؓ

راځــے چــې وُکـــړو ددې در دَ لـوئـے نسبت خبرے

راځــے چــې وکـــړو تــذکـــره دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ دَ آل

ددغـــې در راشـــے چـــې وکـــړو دا ســاعــت خبــرے

راشــی چــې وکـــړو تذکره دَ پاك رسـول ﷺ دَ جمال

ورســـره وُکـــړو دَ رســول ﷺ دَ مــحبـــت خبــرے

راشـــی چـــې وکـــړو دَ اخــلاقـــو تــذکـــره دَ نبـی ﷺ

ورســـره وُکـــړو دَ رســول دَ عبـــادت ﷺ خبـــرے

تـــذکـــره راشـــے دَ امـیـن دَ امـــانــت چـــې وُکـــړو

ورســـره وُکـــړوئـــې دا رنگ دَ صــداقــت خبــرے

تـــذکـــره وُکـــړو دَ وفـــا دَ هـــاشـــمـــی ﷺ ورســـره

ورســـره وُکـــړو دَ نبــــی ﷺ دَ ســخـــاوت خبــرے

احــمــده! ذکـــر دَ نبـــی ﷺ دَ هـــر صــفــت کـوۀ تــۀ

کـوۀ دُنیـــا کښــې دَ نبــی ﷺ دَ نُور سـنـت خبــرے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خــلائـــق کښـــې بهتـــريـــن جـــانـــان زمـــا دے

رحـــمة لــلــعــلــمـيـــن ﷺ جـــانـــان زمـــا دے

پـــه مــخـلـوق کښــې بـــه بـل داسے پيدا نشـی

لکه څنګه چې حسين جانان زما دے
لامکان ته بره تللے دَ جهان دے
دا محبوب دَ ربّ متين جانان زما دے
سپورے دلته په دُنيا دَ هر بشر دے
قدرمنده دا يٰسين جانان زما دے
مرتبه ئي ده اُوچته له هر چا نه
په لقب دا اولين جانان زما دے
دَ نبيانو په آخر کښې دے راغلے
مُلقب په آخرين جانان زما دے
تاج په سر دَ امامت لرى دُنيا کښې
دا امام المرسلين ﷺ جانان زما دے
نبوت په دُوى سره دے تمام شوے
دا خاتم النبيين ﷺ جانان زما دے
زۀ به ولے فخر نۀ کووم په دوى تل
له هر چا نه بهترين جانان زما دے
په رښتيا باندى ګويائي تول عالم دے
اے احمده! دا امين جانان زما دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

رهبرانو له رهبر ﷺ جانان زما دے
دَ نبيانو دا افسر ﷺ جانان زما دے

نمر ئي حُسن نه شرميږي دَ جهان
دا حسين ښائسته بشر جانان زما دے
دَ اللّٰه ديدن له تلے لا مکان ته
دَ هر چا دَ زړګی سر جانان زما دے
دَ معراج په شپه امام دَ انبياءوو
دا حسين ښائسته قمر جانان زما دے
هر طرف ئي دَ دُنيا په نُور رڼا دے
نوراني تمول منوّر جانان زما دے
دَ رحمت سپورے ئي ښور په ټول جهان دے
دَ هر چا نُور دَ نظر جانان زما دے
په نسبت سره عالي ئي هريو ځيز دے
بهترين دَ بحر وبر جانان زما دے
مجموعه دَ صفتونو چي يا ديږي
دا احمده! پيغمبر ﷺ جانان زما دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے په دُنيا کښي آخري دَ مُرسلانو نبي ﷺ
تا نه قربان تا نه قربان دَ اماماتو نبي ﷺ
تا نه قربان هر ګلستان هريو ښکلا دَ چمن
تا نه قربان بره آسمان هريو رڼا دَ وطن
اے دَ دُنيا دَ در دُنيا کښي دَ وليانو نبي ﷺ

تـانـه قـربـان تـانـه قـربـان دَ امـامـانو نبی ﷺ

تـانـه قـربـان هـريـو نـعـمـت ددې دُنيـا دَ در

تـانـه قـربـان هـريـو عـظـمـت ددې دُنيـا دَ در

اے قـدرمـنـده، عـزتـمـنـده دَ نيـکـانو نبـی ﷺ

تـانـه قـربـان تـانـه قـربـان دَ امـامـانو نبی ﷺ

تـانـه قـربـان ګـلـونـه ټـول ددې جهـان دَ در

تـانـه قـربـان لـعـلـونـه ټـول ددې جهـان دَ در

طـٰـهٰ يٰسيـنـه اے صـادق دَ صـادقـانو نبـی ﷺ

تـانـه قـربـان تـانـه قـربـان دَ امـامـانو نبی ﷺ

ستوري قـربـان درنـه ښـائسته ددې جهان بـره ټول

څيـزونـه ټـول درنـه قـربـان دَ لامـکـان بـره ټـول

عـالـی رهـبـره مـقـتـدا دَ رهـبـرانـو نبـی ﷺ

تـانـه قـربـان تـانـه قـربـان دَ امـامـانو نبی ﷺ

احمد قـربـان درنه دُنيا کښې هرساعت په جهان

درنـه قـربـان درنـه قربـان هريـو مکـان لامکـان

رڼـا دُنيـا کښـې دَ هـر دردَ عـالـمـانو نبـی ﷺ

تـانـه قـربـان تـانـه قـربـان دَ امـامـانو نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

طـريـقـه چـې دَ طـٰـهٰ ﷺ نـه وي پـه کښـې

خيـر بـه چـرے پـه دُنيـا نـه وي پـه کښـې

هریو کار دلته کښې تله په سنت
نقصان تول دے چې کار دا نۀ وی په کښې
دین دے هله چې وی خوښه دَ نبی ﷺ
بې له دے نه به شُکلا نۀ وی په کښې
خیر دے خیر چې دَ نبی ﷺ په طریقه وی
نه دے خیر چې دا رنګا نه وی په کښې
ورته هیڅ څوك دَ خیر کار نۀ شی وئیلے
چې دَ پاك رسول ﷺ ادا نۀ وی په کښې
کار اُنکړے اے احمده ! په دُنیا کښې
چې دَ پاك رسول ﷺ رضا نۀ وی په کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړۀ کښې مینه دَ طٰهٰ ﷺ نه وی چې کله
ایمان نشته ئې هم دا نۀ وی چې کله
په شیطان پسے روان به ۀ په دُنیا وی
لار دَ سیّدالوریٰ ﷺ نۀ وی کله
تور به زړۀ ئې په دُنیا کښې هر ساعت وی
زړۀ کښې نُور دَ مصطفیٰ ﷺ نه وی چې کله
نۀ دَ بل ساتی پرواه نۀ دَ خپل ځان
شرم سترګو کښې حیا نه وی چې کله
همیشه به وی دُنیا کښې په تکرو

لار دَ عــدل دَ رښتيـــا نـــه وی چـــې کــلـــه
دغــه پـــريـــږده پـــه دُنيـــا کښـــې تـــاوانـــی ده
لار احــمــــد ه ! دَ وفـــا نـــه وی چـــې کـــلــه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

پـــه مــکـــه کښـــې چـــې ددين شـــمع شوه بلــه
پـــه زړا بـــانــدې شيــطـــان شـــو بـدعـمــلــه
هـــرطـــرف تـــه دَ دُنيــــا رڼــا شـــوه
دَ دُنيـــا ټـــولــه فـــضـــا شـــولــه بـدلـــه
دَ هـــر کـــور دَ پـــاســه سيــورے دَ رحـمــت شو
هــريــو کـور شــولــو محـفـوظ لــه شيطـان غلـه
تيـــرے ختــمــے دَ دُنيــا دَ ګــمـــراهــے شــوے
سپـــوږ مـــی کـــلـــه چـــې دَ ديـــن راوُختـــلـــه
دَ بـدعــت قيــصــه شوه ختــمـه پــه دُنيـا کښـې
کــلـــه شـمـــع چـــې دا خــلــقــو ولُيـــدلـــه
تـــويـــه ګـــار لـــه هــريــو شــرکـــه شــو احـمـده !
خبـــردار شـــو چـــې انســـان لـــه خپــل مـنــزلـــه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تـــــۀ اوّليــن ئـــي تـــــۀ آخـــريـــن ئـــي
دَ هـــر بهتـــر نـــه تـــــۀ بهتـــريـــن ئـــي
جـــــــمـــــــــال دے ډيـــــــــر دے

کمال دے ډیر دے
امام دَ هر چا دَ مرسلین ئي
دَ هر بهتر نه تهٔ بهترین ئي
شمس الضحیٰ ﷺ ئي
عالی اعلیٰ ﷺ ئي
قسم دے ډیر زیات ښائسته حسین ﷺ ئي
دَ هر بهتر نه تهٔ بهترین ئي
اُمت دے لوئے دے
رحمت دے لوئے دے
شافع محشر کښې دَ مذنبین ﷺ ئي
دَ هر بهتر نه تهٔ بهترین ﷺ ئي
سنت دے خیر دے
صفت دے خیر دے
طهٰ یٰسین ئي، صادق امین ئي
دَ هر بهتر نه تهٔ بهترین ئي
نُور رهنما ئي
نُور دَ هر چا ئي
احمد دَ پاره رهبر دَ دین ئي
دَ هر بهتر نه تهٔ بهترین ئي

★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راتــه یـاد شـوے چـې ستـا کـور کـلـے وطـن دے
ګـران مـې ژونـدون ځـکـه پـه خپـل کلی کـښې نن دے
نـۀ پـه ژړا بـانـدې صبـریـږی نـۀ پـه بـل څـۀ بـانـدې
راتـه یـاد شـوے ځـکـه ستـا ښـکـلـے چـمـن دے
ګـران مـې ژونـدون ځـکـه پـه خپـل کلی کـښې نن دے
نـه بـل عـلاج لـری دُنـیـا کـښې پـه دُنـیـا بـانـدې دا
بـس یـو عـلاج ئـې پـه دُنـیـا کـښې ستـا دیـدن دے
ګـران مـې ژونـدون ځـکـه پـه خپـل کلی کـښې نن دے
راتـــه یـــادیـــږی رڼـــاګـــانـــې ستـــا ښُـــکـــلا د در
راتـه یـاد شـوے ستـا ښـائستـۀ ښـکـلـے مدفن دے
ګـران مـې ژونـدون ځـکـه پـه خپـل کلی کـښې نن دے
راتـــه یـــاد شـوی دی ګـلـونـــه دَ مـحـفـل دی تـول
پـه کـښې هـر ګـل ښـائسـت دُنـیـا کـښې دَ هـر تن دے
ګـران مـې ژونـدون ځـکـه پـه خپـل کلی کـښې نن دے
ځـکـه مـا نـعـت دَ مـحـمـد رسـول اللّٰـه ﷺ لیکلـے
دغـــه ســـکـــون مـــې پـــه دُنـیـــا دَ تـول بـدن دے
ګـران مـې ژونـدون ځـکـه پـه خپـل کلی کـښې نن دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راتـــه جـــانـــان دَ مـــدیـــنـــې مـــنـــورې یـــادیـــږی

راتـه ئـي دلتـه کښـي دَ کـور کلـي کـوڅـي يـاديـږي
راتـــه يـــاديـــږي ئـــي انـــوار دَ مـديـنـــي دَ لارو
راتـــه يـــاديـــږي ئـــي أثـــار دَ مـديـنـــي دَ لارو
راتـــه دَ لارو ئـــي ښـائسـتـــۀ تـولـے ذرمے يـاديـږي
راتـــه جـــانـــان دَ مـــديـنـــي مـنـوري يـاديـــږي
راتـــه يـــاديـــږي ئـــي ګـفـتـــار دَ مـديـنـــي دَ در
راتـــه يـــاديـــږي ئـــي ګـلـــزار دَ مـديـنـــي دَ در
راتـــه انـوار ئـــي پـــه دُنـيـــا کښـي دَ روضـي يـاديـږي
راتـــه جـــانـــان دَ مـــديـنـــي مـنـوري يـاديـــږي
راتـــه هـــر ګـــل دَ مـــديـنـــي دَ ګـلستـــان يـاديـــږي
راتـــه ګـلـــونـــه ددي در تـول عـــاليشـــان يـاديـــږي
راتـــه دَ نـــور جـــاري ددغـــي در چـيـنـــي يـاديـــږي
راتـــه جـــانـــان دَ مـــديـنـــي مـنـوري يـاديـــږي
راتـــه ښُـکـلا دَ مـديـنـــي دَ تـاجدار ﷺ يـاديـږي
راتـــه وفـــا دَ مـــرسـلانـو دَ سـردار ﷺ يـاديـــږي
تـــاتـــه احـمـده ئـــي دَ در تـولـي نـقـشـي يـاديـږي
راتـــه جـــانـــان دَ مـــديـنـــي مـنـوري يـاديـــږي

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دَ رحـــمـــت بـــاران وريـــږي مـــديـنـــه کښـــي
داســـے نشتـــه دَ دُنـيـــا پـــه يـو حـصـــه کښـــي

دَ دُنيـا دَ ډېر ښـائسته يـو ګـلدسته ده
داسې نشته ده بـُـکـلا يـو ګـلدسته کښې
پـه کتـوئـې دغـه ستـرګـې نشـه کيږي
داسې نشته دې مستـۍ پـه يو نشـه کښې
پـه خوشبوئـې مـعطّره دا دُنيـا ده
داسې نشته دې خوشبو پـه يو روضـه کښې
انـوارت ددغـې ډېر نـه خـوارۀ شـوي
انـوارات بـه داسې نـۀ وي يـو چينـه کښې
رنګ پـه رنګ دلتـه ګـلونـه دي احـمده!
هـريـو ګـل شتـه دَ دُنيـا دغـه حـصـه کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـديـنـې پشـان بـل ښـار نشتـه دُنيـا کښې
مـديـنـې پشـان ګـلـزار نشتـه دُنيـا کښې
تـذکـرۀ ئـې ده حسيـنـه دَ جهـان
ددې ډېر پـه شـان ګـفتـار نشتـه دُنيـا کښې
لـکـه نـمـر پشـان رڼـائـې دَ دُنيـا ده
ددې ډېر پـه شـان انـوار نشتـه دُنيـا کښې
پـه هـرځـائـې بـانـدې ددغـې ډېر سپـرلې دې
ددې ډېر پـه شـان بهـار نشتـه دُنيـا کښې
دَ احـمـد عـلـۍ دا ذکـر پـرې ښـائستـۀ دې

بـل دَزړۀ سـکـون قــرار نشتـــه دُنيـــا کښي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثـانـي نشتـــه دَرسول ﷺ پـه ټول جهـان کښي
لاثـــانـــي دے د دُنيـــا پــــه هــريـــان کښي
پـه ښُـکـلا ئي هر اُسمـان دے ښائستـۀ شوے
پـه ښُـکـلا ئـي ټول جهـان دے ښائستـۀ شوے
داســـے نشتـــه دے حسيــن پـــه لامـکـان کښي
لاثـــانـــي دے د دُنيـــا پــــه هــريـــان کښي
پــــه ښُـکـلا ئـي ښـائستــۀ شـوے هـر چـمـن
پـــه ښُـکـلائـــي ښـائستـــۀ شـوے هـروطـن
خـوشبـوئـي ئـي ده هـرځـائـے هر ګـلستان کښي
لاثـــانـــي دے د دُنيـــا پــــه هــريـــان کښي
پـه ښُـکـلا بـانـدې ښـائستــه ئـي مدينـه کړه
پـه ښُـکـلا بـانـدې ښائستـۀ ئي هر حصـه کړه
داسـے نشتـــه دے ښُـکـلا پـه يو مکـان کښي
لاثـــانـــي دے د دُنيـــا پــــه هــريـــان کښي
دَانـــوارونـــــه ئـــي ډك دا ټـــول جهـــان دے
دَانـــوارو نــــه ئـــي ډك هـــم لامـــکـــان دے
لـکـه نـمـر چـې وي روښـانــه پـه اُسمـان کښي
لاثـــانـــي دے د دُنيـــا پــــه هــريـــان کښي

عـــرش کـــرســـی ئـــې دَ ښُـــکلا پـــه تـمــاشــا دی
لـــوح قـــلــم ورســـره بـیـــا پـــه تـــمـــاشـــا دی
اے احـــمـــده ! تـول اخـلاق ئـــې دی قـــرآن کښې
لاثــــانـــی دے د دُنیــــا پـــه هـــریـــان کښـــې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثــانـــی نـــۀ لــری رسـول ﷺ پـــه یـو صـفـت کښـې
لاثــــانـــی دے دَ دُنیــــا پـــه شـــریـعـــت کښـــې
شـــریـعـــت ئـې ښـــۀ کـــامـل ددی جهــان دے
شـــریـعـــت ئـې ښـــۀ کـامـلــه عــالیشــان دے
نـــور انــوار لـــری هــر ځــائــے پــه هــر سـنـت کښـې
ثــانـــی نـــۀ لــری رسـول ﷺ پـــه یـو صـفـت کښـې
د دُنیــــا تـول احـــکـــامـــات پـــه کښـې مـوجـود دی
دَعـقـبـیٰ تـول احـــکـــامـــات پـه کښـې مـوجـود دی
هـریـو ځیـز شتـــه دَ رســـول ﷺ پـــه هدایت کښـې
ثــانـــی نـــۀ لــری رسـول ﷺ پـــه یـو صـفـت کښـې
مـــونـــځ روژه اوحــج چـې هـــر ځــــۀ دی کـــامـل دی
ښـــۀ کــــامــل دی هـغـــه هــر ځـــۀ چـی نـــازل دی
کـــامیـــابـــی ده دَ رســـول اللّٰـــه ﷺ نسبـت کښـې
ثــانـــی نـــۀ لــری رسـول ﷺ پـــه یـو صـفـت کښـې
اے احـــمـــد عـــلـــی ! انـــوار تـــول دَ نبـــی ﷺ دی

احکامات چې خومره تل دَ هاشمی ﷺ دی
کامیابی ده دَ رسول ﷺ په اطاعت کښې
ثانی نۀ لری رسول ﷺ په یو صفت کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راته معلومه ده چې سيّدالوریٰ ﷺ ښکلے دے
دغې نسبت سره هر دَ مصطفیٰ ﷺ ښکلے دے
ښکلے دے ښکلے ثانی نۀ لری دُنیا کښې دغه
ښکلے دے ښکلے ثانی نۀ لری ښُکلا کښې دغه
په دے دُنیا کښې دغه دربې انتها ښکلے دے
راته معلومه ده چې سيّدالوریٰ ﷺ ښکلے دے
دغې نسبت سره هر دَ مصطفیٰ ﷺ ښکلے دے
هريو محفل دَ پاك نبی ﷺ ښائسته مثال نۀ لری
داسې محفل په کائنات کښې بل جمال نۀ لری
نورانی نور سره تړلے په رڼا ښکلے دے
راته معلومه ده چې سيّدالوریٰ ﷺ ښکلے دے
دغې نسبت سره هر دَ مصطفیٰ ﷺ ښکلے دے
هريو محفل ئې لاجواب ددې دُنیا یادیږی
لاثانی دغه په ښُلا سره بیا بیا یادیږی
قسم دے نُور سره ښائسته دَ مجتبیٰ ﷺ ښکلے دے
راته معلومه ده چې سيّدالوریٰ ﷺ ښکلے دے

دغي نسبت سره هر درد مصطفیٰ ﷺ ښکلے دے
ورته کتو باندې نۀ سترګے دَ دُنيا مړېږي
ورته کتو باندې نۀ سترګے زما ستا مړېږي
احمده ! ځکه چې دا ځائے تول په طٰهٰ ﷺ ښکلے دے
راته معلومه ده چې سیّدالوریٰ ﷺ ښکلے دے
دغي نسبت سره هر درد مصطفیٰ ﷺ ښکلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته ښکلي ښارونه مدينې ته نۀ رسيږي
ښُکلا کښې دَ رسول الله ﷺ کوڅې ته نۀ رسيږي
مخلوق کښې ملائك دي مرتبه ئې ده اُوچته
په دوی کښې يوه هم ئې مرتبې ته نۀ رسيږي
يو لاکه څليريشت زره څۀ کم زيات پيغمبران
په دوی کښې يو نبي ﷺ ئې مرتبې ته نۀ رسيږي
تورات دے که زبور دے که انجيل هريو کتاب
دا ټول ئې دَ قرآن يو معجزې ته نۀ رسيږي
اصحابؓ ئې ټول عالي دي دَ دُنيا ددغي در
وليان ئې دَ دُنيا ټول يو جلوې ته نۀ رسيږي
هر کور ئې په دُنيا باندې مرکز دے دَ انوارو
له دے وجے دُنيا کښې څوك کعبے ته نۀ رسيږي
عظيم په هر صفت سره احمده هغه ياد دے

دُنیا ئي پـه دنُیـا کښي یو ے شپي تـه نۀ رسیـږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ختـمـــه سـلسـلــه دَ نبوت پــه تـا سـرداره ﷺ ده
ډکـــه لـــه حـکـمــت نــه ده دا ډکــه لــه انواره ده
ختـمـــه سـلسـلـــه دَ هـدایــت ده دَ جهـان پــه تـا
ختـمـــه سلسلـه دَ هـر عـزت ده دَ جهـان پــه تـا
دا پــه کــائـنــات کښـی پــه دُنیـا هر چا دَ پـاره ده
ډکـــه لـــه حـکـمــت نــه ده دا ډکــه لــه انواره ده
ختـمـــه سـلسـلـــه ده دَ هـــر حُسن اوږنـا پــه تـا
ختـمـــه سـلسـلـه ده کـائـنـات کښي دَ وفـا پـه تـا
نـیـغـــه پــه دُنیـا کښـي ستا دَ دیـن شـریـعـت لاره ده
ډکـــه لـــه حـکـمــت نــه ده دا ډکــه لــه انواره ده
ختـمــه سـلسـلـــه ده دَ نبیــانو پــه اٰخر کښـي ئـي
دلتـــه پـــه دُنیـا دَ مُـرسلانو پـــه اٰخـر کښـي ئـي
نـیـغـــه لاره دغـــه ښـــۀ صـفــا ده ښـــۀ هـواره ده
ډکـــه لـــه حـکـمــت نــه ده دا ډکــه لــه انواره ده
ختـمــه سلسلــه پـه تـا ده خـاتـم الـرسل ﷺ ئـي تـه
ختـمــه سلسلــه پــه تـاده نورسره هم کل ﷺ ئي تـه
مــادغـــه غـوښـتـلـے دَ الـلّــه پـروردیـګــاره ده
ډکـــه لـــه حـکـمــت نــه ده دا ډکــه لــه انواره ده

زۀ احمد علی به دا بیان دلته په جار کوُم
زۀ د دې خبرې ښۀ جار سره اقرار کوُم
دا بهترین لاره تول اُمت لره تیاره ده
ډکه له حکمت نه ده دا ډکه له انواره ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَ مکي حبیبه ! ﷺ دَ مدیني حبیبه ! ﷺ
تاله درتلل غواړمه تاته نزدې حبیبه ! ﷺ
تاسره هلته کښې زۀ پاتے کیدل غواړمه
تاسره هلته کښې زۀ تل اُسیدل غواړمه
کرېږم دلته کښې زۀ تل تاپسې حبیبه ! ﷺ
تاله درتلل غواړمه تاته نزدې حبیبه ! ﷺ
ژوندون مې ګران دے دلته پاتے کیدے نشمه
ژوندون مې ګران دے دلته ایساریدے نشمه
په تا پسې کرېږم دَ شنې روضې حبیبه ! ﷺ
تاله درتلل غواړمه تاته نزدې حبیبه ! ﷺ
ګران دے ژوندون زما دا ، لکه په اُور کښې چې وی
ګران دے ژوندون زما دا ، لکه په ګور کښې چې وی
راته یادیږې ډیر ډیر دَ مرتبې حبیبه ! ﷺ
تاله درتلل غواړمه تاته نزدې حبیبه ! ﷺ
ورځے اوشپے دلته کښې ګرانې په ماتیریږی

دَژوند لمحې دلته کېږي ګراني په ماتيرېږي
رابه شي کله په ما، دغه مزې حبيبه! ﷺ
تا له درتلل غواړمه تاته نزدې حبيبه! ﷺ
رابانديې روځې او شپې لکه دَکال تيرېږي
سختې دا ماليدلې په ما دا حال تيرېږي
احمد ته ورځې شولې دلته کېږي شپې حبيبه! ﷺ
تا له درتلل غواړمه تاته نزدې حبيبه! ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

څوك چې محمد رسول اللّٰه ﷺ پسې روان دی
دُوی لکه دَ ستورو قدرمنده عاليشان دی
څوك چې اقتدا کوی دَ سَيِدالورىٰ نبی ﷺ
څوك چې اقتدا کوی دَ نُور او دَ رڼا نبی ﷺ
خورم قسم ګلونه په هرځائے کېږي دَ ريحان دی
دُوی لکه دَ ستورو قدرمنده عاليشان دی
چاته چې محبوب وی دا صادقه او امين نبی ﷺ
چاته چې محبوب وی دا عالی صفت يٰسين نبی ﷺ
داسې خلق دلته شائسته شوی دَ جهان دی
دُوی لکه دَ ستورو قدرمنده عاليشان دی
چاته چې محبوب وی اداګاني دَ رسول اللّٰه ﷺ
چا ته چې محبوب وی صداګاني دَ رسول الله ﷺ

داسې خلق هرځائې ښۀ کامله په ایمان دي
دُوي لکه دَ ستورو قدرمنده عالیشان دي
چا ته چې محبوب وي هر صفت دَ مصطفیٰ نبی ﷺ
چاته چې محبوب وي صداقت دَ مصطفیٰ نبی ﷺ
دغه ښۀ صادقه دَ نبی ﷺ تول امتیان دي
دُوي لکه دَ ستورو قدرمنده عالیشان دي
چا ته چې محبوب وي هرسنت دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ
چاته چې محبوب وي شریعت دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ
خورم قسم ښائسته ګلونه دُوي دَ ګلستان دي
دُوي لکه دَ ستورو قدرمنده عالیشان دي
چا ته چې محبوب وي محفلونه دَ رسول ﷺ دَ در
چاته چې محبوب وي تول ګلونه دَ رسول ﷺ دَ در
اے احمده! دغه ښۀ صادقه عاشقان دي
دُوي لکه دَ ستورو قدرمنده عالیشان دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے هر صفت سره نبی اٰخرزمان ﷺ دے
ځکه چې محبوب هغه دَ پاك غنی سبحان دے
ښُکلے په اخلاق سره دے ښکلے هرصفت سره
ښکلے په دُنیا کښې دے ښائستۀ په شریعت سره
ښکلے په دُنیا کښې لکه ګل دَ ګلستان دے

څکه چې محبوب هغه دَ پاك غنى سبحان دے
ښکلے په حيا سره دے ښکلے په وفا سره
خورم قسم ډير ښکلے په دُنيا دے هر ادا سره
نمر په شان روښانه هر طرف ته په جهان دے
څکه چې محبوب هغه دَ پاك غنى سبحان دے
ښکلے سخاوت سره دے ښکلے محبت سره
ښکلے امانت سره دے ښکلے صداقت سره
دغه عقيده مې ده او دغه مې ايمان دے
څکه چې محبوب هغه دَ پاك غنى سبحان دے
ښکلے په هر نور سره دے ښکلے هرګفتار سره
ښکلے په دُنيا کښې دَ دُنيا دے په دربار سره
اے احمده ! دلته په هر چا دَ رب برهان دے
څکه چې محبوب هغه دَ پاك غنى سبحان دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

زلفے ئې والّيل دى ښائسته مخ ئې والضحىٰ دے
څکه چې محبوب هغه زمونږه دَمولىٰ دے
زلفے ئې والّيل دى تورے تورے دَ جهان
داسے به بل نۀ وى په دُنيا کښې يو سلطان
هر صفت سره هغه عالى دے ډير اعلىٰ دے
څکه چې محبوب هغه زمونږه دَمولىٰ دے

مخ ئې نوراني دے رڼا نور دے دَ هر در
مخ ئې نوراني دے عالیشان لکه قمر
یاد په کائنات کښې په هر در په نُور رڼا دے
ځکه چې محبوب هغه زمونږه دَمولیٰ دے
یاد دے په رحمت دَ کائنات دَهر یو در
نور دَ شریعت دَ کائنات دَ هر یو در
خورم قسم دُنیا کښې هر صفت سره جُدا دے
ځکه چې محبوب هغه زمونږه دَمولیٰ دے
یاد دے نوراني نور هم شفیع المذنبین ﷺ هغه
اے احمده! نور دے دَ دُنیا دَ در قسم دے په یقین هغه
دغه شان یاد شوے په خاتم الانبیاء ﷺ دے
ځکه چې محبوب هغه زمونږه دَمولیٰ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوږے دی زیاتے له ګبینه دَ طٰهٰ ﷺ خبرے
داسے به دلته په دُنیا وی دَ بل چا خبرے
دَ انوارا تو دَ رسول ﷺ چې تذکره کوی څوک
داسے ښائسته به یو ځائے نۀ وی په دُنیا خبرے
دَ رحمتونو په دُنیا چې ئې څوک ذکر کوی
ښائسته ۀ دی دغه په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ خبرے
څوک چې ئې ذکر دَ جمال په دے دُنیا کښې کوی

داسې به نۀ وی دَ دُنیا دَ دراعلیٰ خبرې
څوك چې ئې ذکر دَ محفل په دې دُنیا کوی نن
لاثانی دی دغې دردَ هرادا خبرې
څوك چې ئې ذکر په دُنیا دَ محبت کوی نن
احمده! دغه دی دُنیا کښې دَ وفا خبرې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوښې مې کوڅې دَ مدینې منورې دی
ځکه دلته کښې دَ پاك رسول ﷺ دَ نُورجلوې دی
دلته انوارات دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ دی
دلته برکات زمونږ دَ سیَدالوریٰ ﷺ دی
دلته دَ انوارو جاری شوې تل چینې دی
دلته کښې ښُکلا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده
دا ښکلې فضا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده
دلته کښې حسینې دَ دُنیا دا باغیچې دی
دلته کښې انوار دَ جبرائیل او میکائیل شته
دلته کښې انوار دَ اسرافیل او میکائیل شته
دلته کښې راغلې ډیرې نورې فریښتې دی
دلته کښې انوار هم دَ اصحابو‌ؓ دَ نبی ﷺ شته
دلته کښې انوار دَ کائنات دَ هرولی شته
څوك چې دغه نۀ وینی نو سترګې ئې ړندې دی

دلته کښې انوار شته دَ صدیقؓ هم دَ عمرؓ
دلته کښې انوار شته دَ عثمانؓ او دَ حیدرؓ
دلته معطره دَ بدن تـولـے خولي دی
دلته کښې انوار هم دَ حسنؓ او دَ حسینؓ شته
دلته کښې ګلزار هم دَ حسنؓ او دَحسینؓ شته
دلته کښې پرتـے دَ هر بشر تـولي مزي دی
دلته کښې انوار هم دَ بیبیانو دَ نبی ﷺ شته دے
دلته دا انوار دَ کائنات ښۀ حقیقی شته دے
اے احمده! نُور نـه ډکے دلته سجدي دی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سیَدالوریٰ ﷺ ئي تۀ، نورئی مصطفیٰ ﷺ ئي تۀ
زۀ امتی ستا یمه، تل رهبر ﷺ زمائي تۀ
مدحه ستا صفت لیکم
دا به هر ساعت لیکم
نُور دَ هر صبائي تۀ، احسن الوریٰ ﷺ ئي تۀ
زۀ امتی ستا یمه، تل رهبر ﷺ زمائي تۀ
تۀ رڼا رڼائي تول
ښُکلے ئي ښُکلائي تول
دَ هر در ښُکلائي تۀ، دَ هر در رڼائي تۀ
زۀ امتی ستا یمه، تل رهبر ﷺ زمائي تۀ

خوش ئـي تـۀ دَ هـر بشر
خوش ئـي تـۀ دَ هـر يـو در
خوش دَ پاك اللّٰه ئي تـۀ، ياد داسے هرخوائي تۀ
زۀ امتـى ستـا يمـه، تل رهبرﷺ زمـائـي تـۀ
تـۀ عـالـى نسبـت ئـي هـم
تـۀ عـالـى صـفـت ئـي هـم
خوش دَ انبيـاء ئي تـۀ، خـوش دَ عـلـماء ئي تـۀ
زۀ امتـى ستـا يمـه، تل رهبرﷺ زمـائـي تـۀ
تـۀ عـالـى مـقـام لـرے
ادب احتـرام لـرے
دَ احـمـد وبـنـا ئـي تـۀ، دا وبـنـا صـفـا ئـي تـۀ
زۀ امتـى ستـا يمـه، تل رهبرﷺ زمـائـي تـۀ

نعتِ مصطفٰیﷺ

مـدح خـوان يـم ثـنـا خـوان دَ مـحـمـدﷺ
زۀ هـر ځـائـے کښـې پـه جهـان دَ مـحـمـدﷺ
بيـش قيـمتـه پـه دُنيـا ئـي هـر بيـان دے
دى لـعـلـونـه هـر بيـان دَ مـحـمـدﷺ
زۀ هـر ځـائـے کښـې پـه هرلورئي ذکر کوومـه
يـادوومـه هـر احسـان دَ مـحـمـدﷺ
تـذکـرۀ ده بيـش قيـمتـه دَ رسـولﷺ

شان دے شان هریو اَذان دَ محمد ﷺ
په کلمه اوځکه مونږ کښې هغه یاد دے
دا دے حکم دَرحمٰن دَ محمد ﷺ
نوم سره ئې دَدرود حکم راغلے
دا تعلیم دے دا دے شان دَ محمد ﷺ
دَاخلاقو نه ئې جوړ دغه قراٰن دے
نازل شوے دا قراٰن دَ محمد ﷺ
لوئی نسبت ئې عالی کړے هریو څیز
ښۀ عالی دے هر مکان دَ محمد ﷺ
دَاسمان په بره ستورو باندې یاد دی
دا مقام لری دوستان دَ محمد ﷺ
تذکره ئې خوشبوئی دَ هریو دره
اے احمده! هر اعلان دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر چمن کښې ده ښُکلا دَ محمد ﷺ
هر وطن کښې ده رڼا دَ محمد ﷺ
هریو ګل ددغې در په خوشحالی دے
معطَره ده فضا دَ محمد ﷺ
دَانوارو سلسله ددغې دره
ابتداده انتها دَ محمد ﷺ

هریو څیز ئي په انوارو منور دے
نُور نه ډکه ده وینا دَ محمد ﷺ

ښۀ اخلاق ئي دَ دُنیا د ریادیږی
هر دا ده نُور ضیاء دَ محمد ﷺ

په حیا سره یاد شوي در په در دے
تذکره شته دَ وفا دَ محمد ﷺ

په امین باندې یاد شوي ټول عرب کښي
ښۀ صفت شته دَ رښیا دَ محمد ﷺ

سخاوت ئي دَ هر چا نه وو ډیر زیات
ذکر کړے دے هر چا دَ محمد ﷺ

اے احمده! یاد په هر صفت سره دے
داوینا ده ښۀ صفا دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ختمه شوے دَ نبیانو سلسله په محمد ﷺ ده
منوَره په دُنیا کښي هر حصه په محمد ﷺ ده

هر آسمان دَ پاره نُور دے لا مکان دَ پاره نور
دَ انوارو د دُنیا دا مجموعه دَ محمد ﷺ ده

دَ هریو وطن دُنیا کښي دَ هریو چمن ښُکلا ده
ښائسته هریو در دُنیا کښي، مدینه په محمد ﷺ ده

دَ هر در دَ هر بشر، هغه سیورے دَ رحمت دے

ښائسته هره يوه دلته ګلدسته په محمد ﷺ ده
اداګاني ئي لعلونه د دُنيا د دغي در دي
اے احمده ! دا آباده باغيچه په محمد ﷺ ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښهٔ ښائستهٔ ښکلے حسينه مدينه دَ محمد ﷺ ده
ښهٔ ښائستهٔ ښکلے دُنيا کښې باغيچه دَ محمد ﷺ ده
دَ قيامت پورے دُنيا کښې دا قرآن به دغه شان وی
دا ژوندے دلته دُنيا کښې معجزه دَ محمد ﷺ ده
دا جاری چې نن چينے دی دَ انوارو در په در
په دُنيا کښې په هر ځائے کښې هر چينه دَ محمد ﷺ ده
دا ګلونه تول اصحابؓ چې ښائسته په دوی جهان دے
دَ ګلونو دَ دُنيا داګلدسته دَ محمد ﷺ ده
هر ذَره ئي قيمتی ده ، هر حصه ئي قيمتی ده
بهترينه دَ دُنيا دَ در حصه دَ محمد ﷺ ده
ظلمتونو نه ده لرے ، نفرتونو نه ده لرے
دَانوارو نه ښهٔ ډکه ، طريقه دَ محمد ﷺ ده
دَ احسان بدله احسان ده ، دَ کرم ورسره بله
په دُنيا کښې په هر در، دغه بدله دَ محمد ﷺ ده
لکه ګل غوندے صورت ئي داسے نشته په دُنيا کښې
مشك عنبر ورته نهٔ رسی دا خوله دَ محمد ﷺ ده

اے احمده ! ښهٔ کامل دے، بل کا مل به دا سے نهٔ وی
ښــهٔ عـظـيـمــه دَ دُنيـا دا تـذکـره دَ مـحـمـد ﷺ ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُــور دُنيـــا کښــې دَ عـــالَـم ئــې مـحـمـده ! ﷺ
رڼـــا نُـــور دَ هـــرتـــورتـم ئــې مـــحـــمـده ! ﷺ
دَ هـــرچــــا دَ زړهٔ ســـکـــون دَ زړهٔ قـــرار ئـــې
دَ هـــر زړهٔ زخـــمـــی مـلهـم ئــې مـحـمـده ! ﷺ
دَ هـــر چـــا دَ ســتـــرګـــو نُـــور ئـــې دَ جهـــان
تــل عــلاج دَ هـــريـــو غـــم ئــې مـحـمـده ! ﷺ
مـــرتبـــه دے دَ شـــاهـــانـــو نـــه اوچتـــه
نـــه دَ چـــا ســـره تـــهٔ سم ئــې مـحـمـده ! ﷺ
مـــرتبـــه کښـــې دَ اٰدمؑ نـــه ئـــې اوچـــت
پـــه اولاد کښـــې دَ اٰدمؑ ئـــې مـــحـــمـده ! ﷺ
ســـخـــاوت دے لاثـــانـــی ددې جهـــان دے
تـــهٔ اوچـــت لـــه هـر حـــاتـم ئــې مـحـمـده ! ﷺ
اٰخـــری ئـــې پـــه ټـولـــی کښـــې دَ نبيـــانـــو
پـــه لـقـــب ســره خـــاتـم ئــې مـحـمـده ! ﷺ
دَ وفـــا صـــفـــت دے تـــا ســـره تـــړلـــے
مـجـوعـــه دَ نُـــور کـــرم ئـــې مـحـمـده ! ﷺ
اٰخـــريـــن ئـــې پـــه اٰخـــر کښـــې ئـــې راغـلـے

په رتُبه کښې مقدَم ئې محمده ! ﷺ
رهبرانو له رهبر دَ ټول جهان ئې
نوراني ټول مجسَم ئې محمده ! ﷺ
په عرب باندې هم ستا مهربانی ده
مهربان په ټول عجم ئې محمده ! ﷺ
دَ کوثر په حوض به خپل اُمَت راغواړې
تۀ شفیع ئې محترم ئې محمده ! ﷺ
ستا په شان به پیدا نۀ شی بل بشر
داسې یاد په هر قلم ئې محمده ! ﷺ
دَ احمد علی دَ زړۀ علاج سکون ئې
ځکه زړۀ کښې ئې هر دم ئې محمده ! ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته په هر صفت سره هر ګل دَ مدینې دے
ساکن ددغې در خیر الرُسل ﷺ دَ مدینې دے
اعلیٰ ځکه اعلیٰ دے ددې در دغه محفل
بالا ځکه بالا دغه محفل دے دلته تل
نبی ﷺ سره ښائستۀ هریو محفل دَ مدینې دے
ساکن ددغې در خیر الرُسل ﷺ دَ مدینې دے
اعلیٰ ئې ټول ځیزونه ، په دُنیا باندې یادیږی
اعلیٰ ئې دی باغونه ، په دُنیا باندې یادیږی

علاج هریو مرض لـه ذکـر تل دَ مدینې دے
ساکـن ددغـې در خیـر الرُّسل ﷺ دَ مدینې دے
وریـږی پـه دې در بانـدې، دَربَ فـضـل وکـرم
وریـږی پـه دې در بانـدې ، انـوار دلتـه هـر دم
حسین دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ هر خپل دَ مدینې دے
ساکـن ددغـې در خیـر الرُّسل ﷺ دَ مدینې دے
چیـنـے پـه کښـې بهیـږی، دَانـوارو دَ نبـی ﷺ
چیـنـے پـه کښې بهیـږی ، دَ مکی او مدنی ﷺ
احمد وائـی ښائستـۀ هـریو منزل دَ مدینې دے
ساکـن ددغـې در خیـر الرُّسل ﷺ دَ مدینې دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ هرسنت پکار دے
کـار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ شـریعت پکار دے
دغـه رښـا ده هـم ښُـکـلا ده دَ هـریـو بشـر
دغـه رښـا ده هـم ښُـکـلا ده دَ دُنیـا دَ در
همیشـه دلتـه هـریو کار ښـۀ دَ عـزت پکار دے
کـار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ شـریعت پکار دے
پـه کښـې عـزت دَ دوجهـان دے هـر بشـر دَ پاره
پـه کښـې عـزت دَ دوجهـان دے هـر افسـر دَ پاره
په هریو کار کښې دَ نبـی ﷺ ښـۀ اطاعت پکار دے

کار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ شـریعت پکار دے
پـه اطاعـت کښـې دَنبی ﷺ ،فلاح دَ دوجهان ده
پـه اطاعت کښې دَ نبی ﷺ ، فلاح دَ هرانسان ده
کار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ عبادت پکار دے
کار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ شـریعت پکار دے
هـرعبـادت دَ زړهٔ نـه زنګ ، دَ هـر یشـر ختموی
هـرعبـادت دَ زړهٔ نـه زنګ ، پـه هریو در ختموی
کار هـرطـرف تـه پـه دُنیا ، دَ صداقت پکار دے
کار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ شـریعت پکار دے
دا صـداقـت دَ مے لـوئـې صفـت دَ هـریشـر دَ پاره
دغـه بشُـکـلا ده پـه دُنیـا دَ هـرافسـر دَ پـاره
احـمـده ! دغـه دَ دُنیـا دَ در صـفـت پـکـار دے
کار پـه دُنیا کښـې همیشـه دَ شـریعت پکار دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر کـامیـابی لـه اطـاعـت ، دَ محمد ﷺ کافی دے
هـر کـامیـابـی لـره نسبت ، دَ محمد ﷺ کافـی دے
څـوك چـې نـن غواړي پـه هر در باندې فلاح دلته کښې
سـکـون د داسـے خـلقـو شتـه دے دَ ارواح دلتـه کښې
دغـی بشـر لـه شـریعت دَ محمد ﷺ کافـی دے
هر کـامیـابی لـه اطـاعـت ، دَ محمد ﷺ کافی دے

څوك چې رضا دَ الله غواړي ، هغه دلته کښې شته

څوك چې رضا دَ طٰه ﷺ غواړي هغه دلته کښې شته

په دغه وخت کښې نور رحمت دَ محمد ﷺ کافي دے

هر کاميابی له اطاعت، دَ محمد ﷺ کافي دے

ددې دُنيا او دَ آخر دَ کاميابی ده لاره

لاره ده لاره په دُنيا دا هر چا دَ پاره

مونږ له هر ځائے کښې نُور سنت دَ محمد ﷺ کافي دے

هر کاميابی له اطاعت، دَ محمد ﷺ کافي دے

لار دَ نبی ﷺ ده هر امام په دغه لاره تلے

لار دَ نبی ﷺ ده خاص وعام په دغه لاره تلے

مونږ له ژوندون دَ پاك حضرت دَ محمد ﷺ کافي دے

هر کاميابی له اطاعت، دَ محمد ﷺ کافي دے

لار دَ نبی ﷺ ده ټول اصحابؓ په دغه لاره تلی

ټول خلق دلته په هر باب په دغه لاره تلی

مونږ له پاك نوم دغه ساعت دَ محمد ﷺ کافي دے

هر کاميابی له اطاعت، دَ محمد ﷺ کافي دے

ښُکلا دُنيا کښې دَ نبی ﷺ نُور طريقې سره ده

احمده ! دلته دا ښُکلا پاکې روضې سره ده

هر يو بشر له محبت دَ محمد ﷺ کافي دے

هر کاميابی له اطاعت، دَ محمد ﷺ کافي دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته په ټول عالم کښې هريان دَ مديني دے
ساکن ددغې در ځکه سلطان دَ مديني ﷺ دے
ساکن ددغې در دے محمد خير الابرار ﷺ
ساکن ددغې در دے دَ کونينو تاجدار ﷺ
ځکه په کائنات کښې ډير لوئې شان دَ مدينے دے
ساکن ددغې در ځکه سلطان دَ مديني ﷺ دے
ساکن ددغې در دے دَ صديقؓ سره عمرؓ
ساکن دَ دغې در دَ عثمانؓ سره حيدرؓ
بلالؓ دَ مديني دے هم حسّانؓ دَ مديني دے
ساکن ددغې در ځکه سلطان دَ مديني ﷺ دے
ساکن ددغې در دے دَ حسينؓ سره حَسنؓ
سکون دلته کښې شته دے دَ دُنيا دَ هريدن
ښائستۀ په هر صفت ټول ګلستان دَ مديني دے
ساکن ددغې در ځکه سلطان دَ مديني ﷺ دے
ساکن ددغې در دي هم بيبيانے دَ نبي ﷺ
ساکن ددغې در دي رناګانے دَنبي ﷺ
په نُور سره ښائسته دا ټول جهان دَ مديني دے
ساکن ددغې در ځکه سلطان دَ مديني ﷺ دے
ساکن ددغې در دے اے احمده ! اطمينان

ساکن ددغي در دے اطمینان دَ ټول جهان
خوشحاله ځکه هر بشر انسان دَ مدینې دے
ساکن ددغي در ځکه سلطان دَ مدینې ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سردار دَ کائنات خیر الانام ﷺ دَ مدینې دے
دُنیا کښې مسلمانانو دا مقام دَ مدینې دے
مسکن دَ محمد ﷺ دے دا مدفن دَ محمد ﷺ
چمن دَ محمد ﷺ دے دا وطن دَ محمد ﷺ
دُنیا کښې ځکه هر ځائے احترام دَ مدینې دے
سردار دَ کائنات خیر الانام ﷺ دَ مدینې دے
انوار دی مدینه کښې په هر لار دَ محمد ﷺ
ښائسته دلته هر در دے هر ګلزار دَ محمد ﷺ
ښائسته دَ هر سحر سره ماښام دَ مدینې دے
سردار دَ کائنات خیر الانام ﷺ دَ مدینې دے
خوشبو په کښې پرته دَ مرسلانو دَ سردار ﷺ ده
خوشبو په کښې پرته دَ امامانو دَ تاجدار ﷺ ده
رهبر دَ امامانو ټول امام دَ مدینې دے
سردار دَ کائنات خیر الانام ﷺ دَ مدینې دے
رحمت په کښې هر ځائے کښې په هر در باندې وریږی
رحمت په کښې هر ځائے کښې هر بشر باندې وریږی

شــريــن لــــه هــرګبينــــه هــرکلام دَ مدينـي دے
ســـردار دَ کــائـنــات خيــر الانـام ﷺ دَ مـديـنـي دے
سـکـون پـه کـبـنـي دے پـروت دَ هـر بشـر دَ پاره دلتـه
ژونـدون پـه کـبـنـي دے پـروت دَهـر بشـر دَ پاره دلتـه
احــمــده ! ډك دَ مـيــنـــے نــه هر جـام دَ مديـنـي دے
ســـردار دَ کــائـنــات خيــر الانـام ﷺ دَ مـديـنـي دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

خورم قسم زموږ نبي ﷺ کامل دے په خپل ذات کبني
نشتــه نشتـــه دغـــه شـان بشـــر پـــه کائنات کبني
نـور ســره دے يـاد هـغــه دُنيا کبنـي مجسَم نبـي ﷺ
نشتــه نشتــه دغــه شـان بشـر پـه ټول جهـات کبني
مينـــــه مـحبــت ســره يـاديـږي پــه هـر در هـغـــه
داسـے مينـــه نشتــه دَ دُنيا پـه مخلـوقات کبني
سيـــوري دَ دُنيـــا دَهـــر بشـــر دے دَ هــر در هـغــــه
داسے سـيـوري نشتــه يو بشر لــه مشكلات کبني
نُـــور دَ هـــر نـــظـــر دے داســـے وائـي دَ دُنيـــا خـلـق
څـوك ئـي ثـانـي نشتـــه دَدُنيا پـه کمالات کبني
نـوم ئـي هـر يـو غـم لره دُنيا کبني زړۀ کافي ګنم
نشتـه نشتـه دغـه شان دُنيا کبنـي پـه صفات کبني
وُسـي مـؤمـنـانـو سره زړۀ کبنـي هرساعت هغـه

وُسی دَ احمدعلی په زړۀ کښې په خیالات کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نشته دَرسول اللّٰه ﷺ ثانی په ټول عالَم کښې
نشته نشته نشته په عرب او په عجم کښې
زړۀ لره سکون دے اطمینان دے مجسَم هغه
څوك چې يادوی ئې دَ دُنيا په هريو غم کښې
نور رڼا دُنيا کښې دَ دُنيا دَ هريو لارے دے
نور رڼا ده دلته دَ دُنيا په هر تورتم کښې
مينه محبت سره دے ياد په هريو درهغه
لاثانی يادېږی په دُنيا کښې په کرم کښې
سېورې دَ رحمت دے هر غريب دَ پاره دلته کښې
داسے نشته بل بشر دُنيا کښې په رحم کښې
شافع محشر دے دَ اللّٰه ربُّ العزت په در
ما احمد ليکلے ئې صفت دے په نظم کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ياد په هر صفت سره دُنيا کښې په هرلور دے
نوربشر ﷺ ياد شوې په دُنيا کښې کورپه کور دے
نور سره ياد شوې په صفت خير الوری ﷺ زمونږ
هم بشر ياد شوې محمد رسول اللّٰه ﷺ زمونږ
ياد په کائنات کښې په قوَت سره په زُور دے

یاد پـه هـرصـفـت سره دُنیا کښې پـه هرلـور دے
نُـور دَ هـــریـو زړۀ دے پـــه دُنیـــا دَ هــرانســـان
نـور دَ هـــریـــو زړۀ دے پـــه دُنیــا دَ مسـلـمــان
داسـے هـــرطـــرف تـــه آوازونـــه دی او شُـور دے
یاد پـه هـرصـفـت سره دُنیا کښې پـه هرلـور دے
نُور دَ هر مکان دے داسے یاد په ټول عالم کښې دے
نُور دَ هر انسان دے داسے یاد عرب عجم کښې دے
زړۀ صفـا کوی هغـه چې دلته کښې کُوم تور دے
یاد پـه هـرصـفـت سره دُنیا کښې پـه هرلـور دے
نُـور دَ هـریـو لارے اے احـمـدعـلـی یـادیـږی تـل
نُـور سـره کـامـل نبـی ﷺ دُنیـا کښې بیانیـږی تل
بـیـچ پـــه دغـــې نُـور ســره هـریـو بشـرلـه اُور دے
یاد پـه هـرصـفـت سره دُنیا کښې پـه هرلـور دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـر سـنـت دَ مـحـمـد ﷺ بهـتـریـنـه ښـۀ تـوښـه ده
شـریـعـت دَ مـحـمـد ﷺ بهـتـریـنـه ښـۀ تـوښـه ده
بهتـــریـــنـــه ښـــۀ تـوښـــۀ ده دَ دُنیـا دَهـــربشـــر
بهتـریـنـه ښـۀ توښـۀ ده پـه دُنیا کښې پـه هـردر
هـدایـت دَ مـحـمـد ﷺ بهـتـریـنـه ښـۀ تـوښـه ده
شـریـعـت دَ مـحـمـد ﷺ بهـتـریـنـه ښـۀ تـوښـه ده

ښۀ توښه دَ هر بشر ده هر رڼا دَ محمد ﷺ

ښۀ توښه دَ هر بشر ده هر ادا دَ محمد ﷺ

نُور رحمت دَ محمد ﷺ بهترینه ښۀ توښه ده

شریعت دَ محمد ﷺ بهترینه ښۀ توښه ده

ښۀ توښه دَ هر بشر ده هر وینا دَ محمد ﷺ

ښۀ توښه دَ هر بشر ده هر وفا دَ محمد ﷺ

دا دولت دَ محمد ﷺ بهترینه ښۀ توښه ده

شریعت دَ محمد ﷺ بهترینه ښۀ توښه ده

اے احمده ! ښۀ توښه ده اقتدا دَ محمد ﷺ

ښۀ توښۀ ده په آخر کښې تل رضا دَ محمد ﷺ

دا نعمت دَ محمد ﷺ بهترینه ښۀ توښه ده

شریعت دَ محمد ﷺ بهترینه ښۀ توښه ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے مسلمانه ! دَ رسول ﷺ مخالفت مۀ کوه

کارونه هیڅ کله دُنیا کښې دَ بدعت مۀ کوه

کار کوه هغه چې رسول اللّٰه ﷺ وی کړے دلته

کار کوه هغه چې خیرالوریٰ ﷺ وی کړے دلته

هیڅ کله دلته کښې کارونه دَ ذلت مۀ کوه

اے مسلمانه ! دَ رسول ﷺ مخالفت مۀ کوه

هم دَ قرآن سره سنت باندې عمل اُوکړه تۀ

کـامـل دُنیـا کښـې شـریـعـت بانديې عمل اُوکړه تـۀ
کــارونــه چـرې دَشـیــطــان دَ شـیــطـانـت مــۀ کـوه
اے مـسـلـمـانــه! دَرسـول ﷺ مـخـالـفـت مــۀ کـوه
راضـی رسـول کړه اوراضـی کـړه خپـل مـولیٰ ورسره
قــائـم پـــه دغــې بــانديې اُوســـه پــه دُنیـا ورسـره
دَ دیــن نـــه هیــڅ کـلـه دُنیا کښې بـغـاوت مــۀ کـوه
اے مـسـلـمـانــه! دَرسـول ﷺ مـخـالـفـت مــۀ کـوه
عــامـل پـه دیـن شـۀ بـاغـی جوړ ددغـه دین نـه نشـے
شـۀ بهتــریـن شـۀ بـاغــی جـوړ ددغــه دین نـه نشـے
مــخــالف کــار تــۀ هیڅ کلـه دَ شریـعـت مـۀ کـوه
اے مـسـلـمـانــه! دَرسـول ﷺ مـخـالـفـت مــۀ کـوه
کــارونـــه هــرځــائـے دَ نیـکـی او دَ احسـان کـوه تـۀ
هـرځـائـے کـارونــه دَ رضـا دپاك سبحـان کـوه تـۀ
کــار پـــه دُنیــا کښــې دَ دُنیـا دَ ضلالـت مــۀ کـوه
اے مـسـلـمـانــه! دَرسـول ﷺ مـخـالـفـت مــۀ کـوه
روان پــه نیـغــه شــه دَ نیـغـے لار نـــه لـرے نشـے
رنـا کښـې اُوســه چـې ددیـن انـوار نـه لـرے نشـے
کـار کښـې هیـڅ کلـه دَ شیـطان سره شرکت مـۀ کـوه
اے مـسـلـمـانــه! دَرسـول ﷺ مـخـالـفـت مــۀ کـوه
لار دَ جـنــت درنـــه چـې هیـره نشـی یـاده سـاتـه

هــره کــوځـــه دَزړۀ دُنيــا کښــې تــۀ آبــاده ســاتــه
دَ يــو شيــطــان ســره هــم دلتــه محبت مــۀ کوه
اے مســلــمــانــه! دَرسول ﷺ مخالفت مـۀ کوه

لار دَدوزخ ده دَنقصان چې څوك شيطان پسے ځي
نشته دے نشته کاميابي چې بد انسان پسے ځي
دبــدے لارے پيــروي او اطـــاعـــت مــــۀ کــوه
اے مســلــمــانــه! دَرسول ﷺ مخالفت مـۀ کوه

احـمـده! بـچ ســاتــه خپل ځان دَبغاوت نـه دَديـن
بچ ســاتــه بچ ستــاتــه خپل ځان دَعدوات نـه دَدين
کــارونــه هيڅ کلـه دُنيا کښې دَ ظلمت مـۀ کوه
اے مســلــمــانــه! دَرسول ﷺ مخالفت مـۀ کوه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَنبــي ﷺ شـــان اُګــوره ، شــان دَجــانــان اُوګــوره
اخـــلاق دَپـــاك نبـــي ﷺ دي دغـــه قـــراٰن اُوګـــوره
اخـــلاق دپـــاك نبـــي ﷺ دي دغـــه قـــراٰن دَربَ
اخـــلاق دَپـــاك نبـــي ﷺ دي تـول حـق بيـــان دَربَ
پـه کـائنـات کښـې هـر ځـائے تل پـه جهان اُوګوره
اخـــلاق دَپـــاك نبـــي ﷺ دي دغـــه قـــراٰن اُوګـــوره

هــــريــــو ادا ئــــي ښــکــلــے ددې دُنيــــا د در
هــــريــــو ادا ئــــي ښــکــلــے ده نُــور رڼــا دَدر

بـره پـه ستـورو کښـې ئـې پـه هر اَسمـان اُوګـوره
اخـلاق دَ پـاک نبـي ﷺ دې دغـه قـراَن اُوګـوره
یاد په کلمے کښې هم دے داسے عالی صفت دے
ذرے ذرے کښـې هـم دے داسے عالی صفت دے
تـذکـره دلتـه کښـې ئـې پـه هر اَذان اُوګـوره
اخـلاق دَ پـاک نبـي ﷺ دې دغـه قـراَن اُوګـوره
هـم پـه حیـا جُـدا دے هـم پـه وفـا جُدا دے
پـه دغـې خـورم قسـم زۀ پـه هر ادا جُدا دے
عـالـی صـفـت سره ئې هـر یـو بیـان اُوګـوره
اخـلاق دَ پـاک نبـي ﷺ دې دغـه قـراَن اُوګـوره
نُـور دَ اَسـمـان دے بـره دَ لامـکـان دے بـره
نـور رنـا شـوې دلتـه پـه هـر مـکـان دے بـره
ښـائسته پـه دغـه نُور ئې ټول عاشقان اُوګوره
اخـلاق دَ پـاک نبـي ﷺ دې دغـه قـراَن اُوګـوره
رحمت رحمت دے نبی ﷺ ټول شرافت دے نبی ﷺ
خورم قسم هر چا لره ډیر لوئے نعمت دے نبی ﷺ
دا مـنـوَر اُکـوره دا مهـربـان اُوګـوره
اخـلاق دَ پـاک نبـي ﷺ دې دغـه قـراَن اُوګـوره
ویـنـا خـوږه ئې ټـولـه پـه هر صفت ښائستـۀ ده
احـمـده! دغـه ویـنـا تـل هر ساعت ښائستـۀ ده

ښائسته ‌ۀ په دغه وينا هر ګلستان اوګوره
اخلاق دَ پاك نبي ﷺ دي دغه قران اوګوره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دا کتاب دَ ټولو يو دے دغه شان پيغمبر يو دے
دَ دُنيا ټولے دَ پاره ترقيامته رهبر يو دے
زۀ منم چې رښتيا وائي د دُنيا دَ در کسان
خو ممتار په دے صديقؓ دے هغه دلته په در يو دے
زۀ منم چې عادلان شته دَ عدل ئې مثال نشته
خو په دوی ټولو کښې دلته کښې عدل دَ عمرؓ يو دے
دَ حيا شته نمونے هم بهترين خلق ډير شته دے
خو عثمانؓ ددغې ټولو په دُنيا کښې افسر يو دے
دا منم چې شجاعت شته هرطرف ته په جهان
خو دَ دوی ټول سرتاج په دُنيا کښې حيدرؓ يو دے
هر وينا دَ خيرخوږه وی په دُنيا کښې هرطرف ته
خو هادي هريو بشر له هر بهتر نه بهتر يو دے
اے احمده ! هغه څوك دي دَ ګلونو ګلدسته ده
مجموعه دَ صفتونو په دُنيا کښې بشر يو دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حکم هريو حکم ما دَ پاك رسول ﷺ منلے دے
نُور سره ښائسته ‌ۀ ئې هريو ښار دے هريو کلے دے

نُـور سـره ښـائسـتـه ئـي هـرمکان دے لامکان بـره
نـور سـره ښـائسـتـهٔ ئـي نـورانـی دے هر آسمان بـره
هـم پـه دغـي نُـور سـره شيـطـان هرځائے نـه تلے دے
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي هريو ښار دے هريو کلے دے
نـور سـره ښـائسـتـهٔ ئـي دَ دُنيـا ټـول مـحـفـلـونـه دي
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي پـه هـرخوا ټول محفلونـه دي
دغـه نُـور پـه سترګو صـالـحـانو هـم ليـدلے دے
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي هريو ښار دے هريو کلے دے
نُـور سـره ښـائسـتـهٔ ئـي ده فـضـا ددي دُنيـا دَ در
نـورئـي تـل دے پـريښـے دَ دُنيـا پـه هـر بشـر اثـر
نـوردے نـورانـی پـه هـرصـفـت سـره ډير ښکلے دے
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي هريو ښار دے هريو کلے دے
نُـور سـره ښـائسـتـهٔ ئـي دَ صديقؓ سره عمرؓ دے هم
نُـور سره ښـائسـتـه ئـي پـه دُنيا کښې هر افسر دے هم
دغـي نُـور دُنيـا کښـي هـرشيـطـان لعين وژلے دے
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي هريو ښار دے هريو کلے دے
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي دَ عثمانؓ سره علیؓ دے ټول
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي پـه دُنيا کښې هر ولی دے ټول
اے احـمـده ! ذکـر تـا دَ نُـور ښائسـتـهٔ ليـکلے دے
نُـور سره ښـائسـتـهٔ ئـي هريو ښار دے هريو کلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ارمان مې دَ دُنيا دے چې ساکن دَ مدينې وے
خدمت سره ترلے دَ رسول ﷺ زۀ دَ کوڅې وے
ارمان مې دَ دُنيا دے دا خواهش لرم په زړۀ کښې
ارمان مې دلته دا دے دا خواهش لرم په زړۀ کښې
خادم په مدينه کښې دَ انوارو دَ روضې وے
خدمت سره ترلے دَ رسول ﷺ زۀ دَ کوڅې وے
ارمان مې دَ دُنيا دے دا دَ زړۀ مې تمنا ده
غوښتلے دَ الله نه ماهم دغسې دُعا ده
خدمت ته زۀ ولاړ هلته دَ ورځې او دَ شپې وے
خدمت سره ترلے دَ رسول ﷺ زۀ دَ کوڅې وے
ارمان لرم په زړۀ کښې دَ الله نه دغه غواړم
ارمان لرم په زړۀ کښې دَ مولیٰ نه دغه غواړم
خدمت ته وقف کړے دَ بدن مې دا حصې وے
خدمت سره ترلے دَ رسول ﷺ زۀ دَ کوڅې وے
ارمان لرم په زړۀ کښې هم په دے پسے کړيږم
په ذکر باندې کله دَ رسول الله ﷺ مريږم
په ژبه مې احمده! بس هم دغه تذکرې وے
خدمت سره ترلے دَ رسول ﷺ زۀ دَ کوڅې وے

★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په زړه مې رسوله! ﷺستا دَ ذکر تذکرې وے
ستا خوا سره نزدې وے ، ستا خواسره نزدې وے
ستا خواسره نزدې وے مدينه منوره کښې
ستا خوا سره نزدې وے دَ انوارو په هرشپه کښې
رڼا مې ستا په نُور سره دُنيا کښې دغه شپے وے
ستا خوا سره نزدې وے ، ستا خواسره نزدې وے
خدمت مې ستا دَ در کولُے هلته اُوسيدمه
خدمت مې هر سحر کولُے هلته اُوسيدمه
خادم په مدينه کښې ستا دَ در ښکلے کوڅې وے
ستا خوا سره نزدې وے ، ستا خواسره نزدې وے
خدمت په مدينه کښې مې دَ هر بشر کولُے
خدمت په مدينه کښې مې دَ هريو در کولُے
ياد شوې در په درزۀ په خادم دَ مدينې وے
ستا خوا سره نزدې وے ، ستا خواسره نزدې وے
هر وخت او هر ساعت مې ستا ښائستۀ روضه ليدلے
احمدعلي ! هم تا سره نزدې وے اُوسيدلے
ددغې در په وجه معطرے ئې خولے وے
ستا خوا سره نزدې وے ، ستا خواسره نزدې وے

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے حسینه مدینه جوړه شوه
دَ مصطفیٰ ﷺ په نُور ښائسته جوړه شوه
نمر او سپوږمي کښې رڼاګاني راغلے
دَ ژوند دَ پاره آئینه جوړه شوه
ښُکلا ګلونو کښې هر خوا ته راغله
دَ مدینې چې باغیچه جوړه شوه
نمر چې ښکاره دَ مدینه دَدر شو
نوراني هر ځائے هر حصه جوړه شوه
نُور دَ نبي ﷺ سره ښائسته شول ستوري
دَ نُور هر کور کښې یو چینه جوړه شوه
سپوږمي ښکاره چې دَ نبي ﷺ شو کله
دَ حُسن ښکلے ګلدسته جوړه شوه
هریو فضا شوه معطر په نبي ﷺ
احمده ښکلے هر ذرَه جوړه شوه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے په دُنیا کښې لوئے مقام دَ مدینې دے
حسین ښکلے صورت ماهِ تمام دَ مدینې دے
مقام دَ مدینې دے دَ هر در نه ډیر اُوچت
مقام دَ مدینې دے هر ګوهر نه ډیر اُوچت

حسین هر یو سحر دے هر ماښام دَ مدینې دے
قسم دے په دُنیا کښې لوئے مقام دَ مدینې دے
مقام دَ مدینې دے له آسمانه ډیر اُوچت
مقام دَ مدینې دے عالیشانه ډیر اُوچت
شور شوې هر طرف ته دا اسلام دَ مدینې دے
قسم دے په دُنیا کښې لوئے مقام دَ مدینې دے
مقام دَ مدینې دے ښۀ عالی او عالیشان
دا وائی په دُنیا کښې ټول صالحه عالمان
امام دَ اماماڼو لوئې امام دَ مدینې دے
قسم دے په دُنیا کښې لوئے مقام دَ مدینې دے
مقام ئې ډیر اُوچت دے داسے وائی پیغمبر ﷺ
مقام ئې ډیر اوچت دے اے احمده! په هر در
هر ځائے کښې په دے وجه احترام دَ مدینے دے
قسم دے په دُنیا کښې لوئے مقام دَ مدینې دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اُوچت له هر آسمانه شان دے شان دَ مدینې
حسین له هر بیان نه دے بیان دَ مدینې
مسکن دَ مصطفیٰ ﷺ دے دَ انوارو دَ جهان
مسکن دَ مصطفیٰ ﷺ دے دَ نبی آخر زمان ﷺ
په دے وجه اُوچت دے هر مکان دَ مدینې

حسین له هر بیان نه دے بیان دَ مدینې
مسکن دے دَ صدیقؓ او دَ عمرؓ ددې جهان
مسکن دے دَ عثمانؓ او دَ حیدرؓ ددې جهان
په دے وجه ښائسته دے ګلستان دَ مدینې
حسین له هر بیان نه دے بیان دَ مدینې
مسکن دے دَ حسنؓ او دَ حسینؓ ددې دُنیا
مسکن دَ ښُکلو ستورو دے دُنیا کښې دَ رڼا
ځکه ښۀ منوّر دے هر میدان دَ مدینې
حسین له هر بیان نه دے بیان دَ مدینې
مسکن دے اے احمده! دَ نیکانو صالحانو
مسکن دے ددُنیا دَ لویو لویو عالمانو
ښائسته په هر صفت دے هر انسان دَ مدینې
حسین له هر بیان نه دے بیان دَ مدینې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے دے زمونږه مصطفیٰ ﷺ ښکلے
داسے بل څوك نشته په دُنیا ښکلے
ښکلے دَ هر چانه په دُنیا کښې دے
نشته نشته داسے یو پیدا ښکلے
ښکلے په سیرت سره دُنیا کښې دے
ښکلے په صورت دے مجتبیٰ ﷺ ښکلے

ښـکـلـے دے ډيـر ښـکـلـے هـر صـفـت ســره
ښـکـلـے پــه صـفــاتــو دے طــه ﷺ ښـکـلـے
ښـکـلـے پــاس قـمــر نـــه هـغـه ښـکـلـے دے
نشتـــه بـل څـوك دغـــه شــان والـلّـــه ښـکـلـے
ښــکــلــى ئــي اصـحـــابؓ لـکـــه دَ ستـورو دي
ښــکــلــے دَ دُنيــــا ئــــي هــر ادا ښــکــلــے
ښــکــلــے پــــه ويـنـــا ســـره احـــمـــده ! دے
نشتـــــه نشتـــــه دا ســے يـو پيشـوا ښـکـلـے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کــار بــه پــه دُنيــا کښـې هـميشــه زۀ دَ سـنت کـوُم
تــل بـــه دَ الـلّـــه او دَ رســول ﷺ زۀ اطـاعـت کـوُم
لـــړے بـــه اُوسيـــږمـــه دَ شـرك نـــه دَ بـدعـت نـه زۀ
لـــړے بـــه اُوسيـــږمـــه دَ هـرقـسـمـــه نـفـرت نـه زۀ
زۀ بـــه هـــريـــو کـــار پـــه دې دُنيـــا دَ مـحبـت کـوُم
تــل بـــه دَ الـلّـــه او دَ رســول ﷺ زۀ اطـاعـت کـوُم
لـــړے بـــه اُوسيـــږمـــه شراب نـه پـه دُنيـا کښې زۀ
لـــړے بـــه اُوسيـــږمـــه خراب نـه پـه دُنيـا کښې زۀ
کــار بـــه هـميشـــه دَ هـريـو در دَ مـصـلحـت کـوُم
تــل بـــه دَ الـلّـــه او دَ رســول ﷺ زۀ اطـاعـت کـوُم
لـــړے بـــه اُوسيـــږمـــه دَ بـدو مـحـفـلـونـو نـــه

لـــرے بـــه اُوسیـــږمـــه دَ بـــدو عـمـلـونـو نـــه
نـــۀ بـــه غـلا غُـلـتـی کـوُمــه نـۀ بـه شرارت کـوُم
تـــل بـــه دَ الـلّٰـــه او دَ رسـول ﷺ زۀ اطـاعـت کـوُم
لـــرے بـــه اُوسیـــږمـــه دَ شـــر نـــه شـرارت نـــه زۀ
لـــرے بـــه اُوسیـــږمـــه شیـطـان نـــه شیـطـانـت نـــه زۀ
نـــۀ بـــه دروغ وائـمـــه او نـــۀ بـــه زۀ غیبـــت کـوُم
تـــل بـــه دَ الـلّٰـــه او دَ رسـول ﷺ زۀ اطـاعـت کـوُم
لـــرے بـــه اُوسیـــږمـــه دَ کـفـــر مـحـفـلونـو نـــه
لـــرے بـــه اُوسیـــږمـــه دَ شـــر دَ تـعـویـذونـو نـــه
زۀ احـمـد بـــه هـر ځـائـے دَ شیطان مـخـالـفـت کـوُم
تـــل بـــه دَ الـلّٰـــه او دَ رسـول ﷺ زۀ اطـاعـت کـوُم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ پـــه هـریـو کـار کښي اطـاعـت دَ شـریـعـت کـوُم
کـــار هـریـو دُنیـــا کښي همیشـه بـه دَ سـنـت کـوُم
زۀ پـه طـریـقـه دَ پـاك رسـول الـلّٰـه ﷺ خوشحـالـه یم
زۀ پـــوره خبـــر ددغـــي در دَ نُــور جـمـــالـــه یـم
زۀ ددغـــي لار بـــه پـــه دُنیـــا کښي تـــل صـفـت کـوُم
کـــار هـریـو دُنیـــا کښي همیشـه بـه دَ سـنـت کـوُم
مـــاده خـوښـۀ کـړے هـر ویـنـا دَ پـاك رسـول الـلّٰـه ﷺ
مـــاده خـــوښـــۀ کـړے هـر ادا دَ پـاك رسـول الـلّٰـه ﷺ

زهٔ په دغې وجې به له بدونه نفرت کوُم
کار هريو دُنيا کښې هميشه به دَ سنت کوُم
ماده خوښه کړے نُور رڼا دَ مصطفىٰ ﷺ دَ در
ماده خوښه کړے هر ښُکلا دَ مصطفىٰ ﷺ دَ در
دلته دغه ذکر زهٔ په نيت دَ عبادت کوُم
کار هريو دُنيا کښې هميشه به دَ سنت کوُم
مادې ټول خوش کړې محفلونه دَ رسول اللّٰه ﷺ
مادې ټول خوش کړې چمنونه دَ رسول اللّٰه ﷺ
قدر په دُنيا کښې زهٔ احمد ددې نعمت کوُم
کار هريو دُنيا کښې هميشه به دَ سنت کوُم

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

سنت دَ محمد ﷺ هريو انسان دَ پاره دے
دُنيا کښې دغه نُور دَ ټول جهان دَ پاره دے
دُنيا کښې دغه نُور دَ هريو در دَ پاره دے
دُنيا کښې دغه نُور هريو بشر دَ پاره دے
دا نُور په دې دُنيا کښې غريب خان دَ پاره دے
دُنيا کښې دغه نُور دَ ټول جهان دَ پاره دے
دُنيا کښې دغه نُور دَ هر محفل دَ پاره دے
دُنيا کښې دغه نُور دَ ځان او بل دَ پاره دے
دا نُور ددې دُنيا هريو مکان دَ پاره دے

دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ ټـول جهــان دَ پــاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ هـر بُـدهـا دَ پــاره دے
دُنيـــا کښـــي دغــه نُـور دَ هــر دانــا دَ پــاره دے
دا نُـــور دَ دي دُنيـــا هـــر يـو نـــادان دَ پـــاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ ټـول جهــان دَ پــاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ هـر بــادشاه دَ پاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ هـر گـمراه دَ پــاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ مسـلـمــان دَ پــاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ ټـول جهــان دَ پــاره دے
دُنيـــا کښــي دے دا نُـور دَ پــاکستــان دَ پـاره هـم
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دے دَ مـردان دَ پــاره هـم
احـمـده ! دغــه نُـور مــاشوم اوځوان دَ پــاره دے
دُنيـــا کښــي دغــه نُـور دَ ټـول جهــان دَ پــاره دے

نعتِ مصطفٰی ﷺ

اسـلام مـېِ ديـن دے ددي ديـن مـخـالفـت نـهٔ منم
کــار دَ بـدعـت نـهٔ منم، بـل شــريعـت نــهٔ منم
ديــن شــريـعـت دَ محـمـد رسـول اللّـه ﷺ دے زمـا
نــوراني نُــور پــه دي دُنيــا کښي مـقـتـدا دے زمـا
کــار پــه دُنيــا کښـي پــه يو در دَ شرارت نـهٔ منم
کــار دَ بـدعــت نــهٔ منم ،بـل شـريعـت نــهٔ منم

مدحه تعریف دَ نورانی شمس الضحیٰ ﷺ کوُمه
مدحه تعریف دَ مصطفیٰ ﷺ او مجتبیٰ ﷺ کوُمه
دُښمن دَ پاك نبی ﷺ دَ مدحے او صفت نهٔ منم
کار دَ بدعت نهٔ منم ،بل شریعت نهٔ منم
خوښ مې هر کار دَ محمد ﷺ دے قربانيږمه ترے
خوښ مې هر دار دَ محمد ﷺ دے زهٔ زاريږمه ترے
زهٔ له دے در نه په مخلوق کښې بل اوچت نهٔ منم
کار دَ بدعت نهٔ منم ،بل شریعت نهٔ منم
خوښ مې یاران دَ محمد ﷺ دی دَ دُنیا دَ در
خوښ مې یاران دَ محمد ﷺ دی نُور رنړا دَ در
عالی مخلوق کښې زهٔ احمد ترے بل نسبت نهٔ منم
کار دَ بدعت نهٔ منم ،بل شریعت نهٔ منم
★★★★★★

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفیقه

ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك
انت التواب الرحیم وصلی اللّٰه تعالیٰ علی خیر خلقه
محمد واٰله واصحابه واهل بیته اجمعین ومن تبعهم
باحسان الیٰ یوم الدین ۔ اٰمین یارب العٰلمین۔

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

(دويمه برخه)

حمد باري تعالیٰ

ربّ زمونږه يو دے شريك نۀ لري په ذات کښې
نۀ ئې څوك شريك شته په دُنيا کښې په صفات کښې

نۀ هغه والد دے نۀ ولد هغه بې نيازه دے
نۀ ورسره څوك شته دے شريك په عبادات کښې

هر څۀ نه خبر دے په هر څيز باندې نظر ئې دے
نۀ ئې مددګار شته دَ دُنيا په معاملات کښې

هر ځائے کښې بۀ اورى دَ هرچا فرياد آواز هغه
ذات ئې پکاريږى دَ دُنيا په مشکلات کښې

هر څۀ دَ هغۀ دى دَ آسمان سره دَ زمکے تول
رنګ په رنګ هغۀ دى پيدا کړى مخلوقات کښې

ژوند او مرګ ئې دواړه په دُنيا کښې پيدا کړى دى
روح ئې پيدا کړے دَ دُنيا په حيوانات کښې

لوئې لوئې ئې نهرونه دريابونه پيدا کړى دى
غرونه پيدا کړى دى هغۀ په جمادات کښې

زۀ به احمد ولے دَ هغۀ ثنا صفت نۀ کووم
هر ځائے پکاريږى په دُنيا کښې سخت حالات کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نشتـــه دے نشتـــه ستـــا ثـــانـــی حبیبـــه! ﷺ
نـــورانـــی نُـــورئـــي روحـــانـــی حبیبـــه
ستـــا دَمـــقـــام پـــه لـــوئـــي عـــظـــمـــت ګـــواه دی
تـــول آیـــاتـــونـــه قـــرانـــی حبیبـــه! ﷺ
ستـــا پـــه انـــوارو مـــنـــوَر خـــلـــق دی
دلتـــه هـــم بـــره آســـمـــانـــی حبیبـــه! ﷺ
دَامـــامـــانـــو تـــاج پـــه ســـر لـــرے تـــهٔ
پـــه هـــر ځـــائـــے ستـــا ده سلطـــانـــی حبیبـــه! ﷺ
چـــې ستـــا لـــه ذکـــر نـــه بـــل ذکـــر کـــوی
دغـــه بـــه وِی ئـــې نـــادانـــی حبیبـــه! ﷺ
ستـــا نـــه قـــربـــان بـــه خـــو خـــو وارے شـــمـــه
دا مـــې جـــذبـــه ده ایـــمـــانـــی حبیبـــه! ﷺ
د دَې دُنـــیـــا دَ هـــریـــو در هـــر ځـــیـــز
تـــا نـــه قـــربـــان زمـــا ځـــوانـــی حبیبـــه! ﷺ
کـــهٔ دا بـــدن لـــه تـــانـــه زار کـــړمـــه زهٔ
کـــمـــه بـــه وی دا قـــربـــانـــی حبیبـــه! ﷺ
دَزړۀ ســـکـــون دَ پـــاره دلتـــه کښې مـــا
احـــمـــد ده کـــړے نـــعـــت خـــوانـــی حبیبـــه! ﷺ

★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په لقب سره موصوف شمس الضحیٰ ﷺ دے
یاد دُنیا کښې محمد رسول اللّٰه ﷺ دے
په لقب سره یاد شوې بره نمر دے
یا قمر دَ ټول جهان رڼا دے
په لقب سره یاد شوې په امام دے
مقتدا دَ هر یو در په دې دُنیا دے
په لقب سره یاد شوې په امین دے
په صادق سره یاد شوې په وینا دے
په لقب سره یا د شوې په یٰسین دے
مزمل او مدثر دے هم طٰهٰ ﷺ دے
په لقب سره یاد شوې اولین دے
آخرین په کائنات دَ انبیاء ﷺ دے
په لقب سره یاد شوې په رحمت دے
دَ سرسیورې په دُنیا کښې دَ هرچا دے
اے احمد علی ! کامل په هر صفت دے
مجموعه دَ صفتونو په دُنیا دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نۀ وینم رسوله ! ﷺ ستا پشان په دې ګلونو کښې
نۀ په دغه زمکه کښې او نۀ په آسمانونو کښې

نــۀ ويــنــم پــه زمـكــه دَ دُنيـا پــه ګـلستـان كنبـې زۀ
نـۀ ويـنـم يـو ګـل دا سـے حسين په ټول جهان كنبې زۀ
بهتــريــن راغـلـے ئـې پــه ټـولـو صـفـتـونـو كنبـې
نـۀ ويـنـم رسـولـه ! ﷺ سـتـا پشان په دے ګلونو كنبې
نـۀ پــه دغــه زمـكــه كنبـې او نـۀ پـه اَسمانونو كنبې
نــۀ ويـنـم پــه سترګـو نـۀ ليدلے بـه بل چا وى څوك
بنـكـلـے پـه صـورت سره چې بنكلے په ادا وى څوك
داسـے بشــر نشتــه خـورم قسـم پـه جهـانونو كنبـې
نـۀ ويـنـم رسـولـه ! ﷺ سـتـا پشـان پـه دې ګلونو كنبې
نــۀ پــه دغــه زمـكــه كنبـې او نـۀ پـه اَسمانونو كنبې
نــۀ ويــنـم پــه سترګـو هـر بشـر دا سـے ويـنـا كـوى
نــۀ ويــنـم پــه سـتـرګــو دا ويـنـا خلق صـفـا كـوى
داسـے عــالـى نشتــه دَ دُنيـا پـه نسبتـونـو كنبـې
نـۀ ويـنـم رسـولـه ! ﷺ سـتـا پشان په دے ګلونو كنبې
نــۀ پــه دغــه زمـكــه كنبـې او نـۀ پـه اَسمانونو كنبې
نــۀ ويــنـم پـــه ســتـــرګــو دَ احمد علـى ويـنـا ده دا
نــۀ ويــنـم پــه سترګـو دا ويـنـا ئـې پــه هـرخـوا ده دا
ژوند څـكــه تيـرومـه دَ رسـول اللّـه ﷺ يـادونو كنبې
نـۀ ويـنـم رسـولـه ! ﷺ سـتـا پشـان پـه دې ګلونو كنبې
نــۀ پــه دغــه زمـكــه كنبـې او نـۀ پـه اَسمانونو كنبې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك روان چې دَ نبی ﷺ په طريقه دي
بهترينه دَ دُنيا په هر حصه دي
دَ شيطان دَ شيطانت نه دي محفوظه
عاليشانه دُوی هر خوا په مرتبه دي
دَ هر در دي امامان دغه کسان
بهرين ددې دُنيا ټول نمونه دي
هر ادا کښې ئې ښکلا ددې جهان ده
رڼاګانې ددُنيا ددغې شپه دي
دَ سحر ښُکلا دَ دُوی سره ده جوړه
اے احمده! دُوی منُونکی دَ کعبه دي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نشته دَ رسول ﷺ په شان په ټولو جهانو نو کښې
دايان ليدلے ما په غټو کتابونو کښې
دا بيان ليکلے دے دُنيا کښې هر امام ولی
دا بيان ليکلے په دُنيا کښې خاص وعام ولی
نشته دَ رسول ﷺ پشان بل څوك په آسمانونو کښې
دايان ليدلے ما په غټو کتابونو کښې
دا بيان ليکلے په دُنيا کښې صالحانو دے
دا بيان ليکلے په دُنيا کښې عالمانو دے

داسے حسین نشته دَ دُنیا په دے ګلونو کښې
دابیان لیدلے ما په غټو کتابونو کښې
دا بیان لیکلے هر فقیه ددې اُمت دے تول
دا په دے دُنیا کښې ښهٔ واضحه حقیقت دے تول
هر صفت سره ممتاز دے دلته صفتونو کښې
دابیان لیدلے ما په غټو کتابونو کښې
دا بیان لیکلے په عرب کښې علماء دے هم
دا بیان لیکلے د دُنیا هر مقتدا دے هم
نشته نشته دا سے دَ دُنیا په نعمتونو کښې
دابیان لیدلے ما په غټو کتابونو کښې
دا بیان لیکلے هر عالم ددې عجم دے هم
دا بیان لیکلے عزت منده محترم دے هم
اے احمده ! یاد دے دَ قرآن په آیاتونو کښې
دابیان لیدلے ما په غټو کتابونو کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ ژوند په هره لاره نُور سحر دے مبارك شه
سفر دَ مدینې تول منوَر دے مبارك شه
سفر دَ مدینې دے مبارك شهٔ دَ جهان
سفر دَ مدینې دے مبارك شهٔ عالیشان
دُنیا کښې دَ عزت دغه سفر دے مبارك شهٔ

دَ ژوند په هره لاره نُور سحر دې مبارك شه
سفر دَ مدينې دې دَ انوارو دَ دُنيا
سفر دَ مدينې دې دَ انوارو په هر خوا
سفر دغه دُنيا کښې معطّر دې مبارك شهٔ
دَ ژوند په هره لاره نُور سحر دې مبارك شه
سفر د مدينې دې خوشبو داره دَ جهان
خبر دې حقيقت نه طلبګاره هر انسان
ديدن دَ مدينې دَ هريو در دې مبارك شهٔ
دَ ژوند په هره لاره نُور سحر دې مبارك شه
په دې سفر کښې شته دې هم سکون اطمينان
په دې سفر کښې شته دې رحمتونه دَ جهان
دُنيا کښې دا رحمت دَ بحر وبر دې مبارك شهٔ
دَ ژوند په هره لاره نُور سحر دې مبارك شه
قدم په قدم هلته کښې رڼا رڼا رڼا ده
رڼا نه ډکه هلته دَ دُنيا ټوله فضا ده
احمد علی! ټول نُور د پاس قمر دې مبارك شهٔ
دَ ژوند په هره لاره نُور سحر دې مبارك شه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زنګ دې دَ زړهٔ نه دَ قرآن په تلاوت لرې کړه
په نُور سنت سره تيرې دَ هر بدعت لرې کړه

لرے دَ زړۀ نه دَ دُنيا دغه هر زنګ لرے کړه
لرے وجود نه دَ شيطان هر شيطانت زنګ لرے کړه
په نُور سنت سره تيرے دَ هر بدعت لرے کړه
مينه په زړۀ کښې دَ سنت دَ محمد ﷺ راوله
مينه په زړۀ کښې دَ هر ساعت دَ محمد ﷺ راوله
توروالے زړۀ نه په دُنيا کښې دَ نفرت لرے کړه
په نُور سنت سره تيرے دَ هر بدعت لرے کړه
زړۀ نه دے زنګ دَ ګناهونو دَ دُنيا لرے کړه
زړۀ نه دے زنګ دَ ګناهونو ښۀ صفا لرے کړه
دَ زړۀ نه زنګ دے په دُنيا کښې دَ لعنت لرے کړه
په نُور سنت سره تيرے دَ هر بدعت لرے کړه
کينه حسد په زړۀ کښې پاتے دلته ستا چې نشي
کينه حسد په زړۀ کښې پاتے په دُنيا چې نشي
زنګ دَ خپل زړۀ نه په دُنيا دَعداوت لرے کړه
په نُور سنت سره تيرے دَ هر بدعت لرے کړه
زنګ دَ دروغو ستا په زړۀ باندې چې پاتے نشي
رنګ دَ دروغو ستا په زړۀ باندې چې پاتے نشي
زنګ دَ دروغو دَ دُنيا په صداقت لرے کړه
په نُور سنت سره تيرے دَ هر بدعت لرے کړه
زنګ دَ شرابو خپل وجود نه په دُنيا لرے کړه

زنګ دَ شرابو ټول وجود نه ښۀ صفا لرے کړه
زنګ دَ خپل زړۀ نه دَ هر سود او دَ غیبت لرے کړه
په نُور سنت سره تیرے دَ هر بدعت لرے کړه
زنګ لرے زړۀ نه کړه دَ شرك په نُور ایمان سره تۀ
زنګ لرے زړۀ نه کړه دَ کفر دغه شان سره تۀ
احمده ! زړۀ نه هر یو زنګ دے دا ساعت لرے کړه
په نُور سنت سره تیرے دَ هر بدعت لرے کړه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا چې نورانی ښار دَ رسول الله ﷺ لیدلے دے
ښکلے دے ډیر ښکلے په انوارو هغه ښکلے دے
چا چې دی لیدلی محفلونه دَ رسول الله ﷺ
چا چې دی لیدلی چمنونه دَ رسول الله ﷺ
نُور دَ کامیابے ئې په جهان باندې موندلے دے
ښکلے دے ډیر ښکلے په انوارو هغه ښکلے دے
څوك چې مدینې ته حاضر شوی دی دیدن لره
دۀ انوار اغستی په دُنیا کښې خپل بدن لره
څوك چې دغې درته دلته یو وارے ورغلے دے
ښکلے دے ډیر ښکلے په انوارو هغه ښکلے دے
چا چې خوښه کړے طریقه دَ پاك نبی ﷺ ښکلے
چا چې خوښه کړے طریقه دَ مدنی ﷺ ښکلے

دۀ سـره ښـائسـتــه د دۀ دَ کـور سـره هم کلـے دے

ښـکلـے دے ډیر ښـکلـے په انوارو هغه ښکلے دے

څـوك چـې روان شـوی دی احـمـده ! دَ طـهٔ ﷺ پـه لار

څـوك چـې روان شـوی دی دُنیـا کښې دَ رڼـا پـه لار

حُسن پـه تـقـدیـر کښـې د دۀ رَب دۀ لـه لیکلے دے

ښـکلـے دے ډیر ښـکلـے په انوارو هغه ښکلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـائسـتـــهٔ دے هـریـو در دَ مـدیـنـې رڼـا رڼـا

ښـائسـتـــهٔ دے پیـغـمبـر ﷺ دَ مدینـې رڼا رڼا

بـل نشتـه په جهان کښې داسے ښـکلے په صورت

ښـائسـتـــهٔ دے نُـور بشــر دَ مـدیـنـې رڼـا رڼـا

ښـائسـتـــهٔ دے پیـغـمبـر ﷺ دَ مدینـې رڼا رڼا

حسیــن دے لاثـانـی هـغـهٔ یـاد شوے پـه صفت

حسیــن دے پـــاس قـــمـــر دَمـدیـنـې رڼـا رڼـا

ښـائسـتـــهٔ دے پیـغـمبـر ﷺ دَ مدینـې رڼا رڼا

مــحبــوب دے پـــه دُنیـــا دَمـلائیـکـو دَ جهـــان

رڼـــا دے مـــنـــوَر دَ مـــدیـــنـــې رڼـا رڼـــا

ښـائسـتـــهٔ دے پیـغـمبـر ﷺ دَ مدینـې رڼا رڼا

مــحبــوب دَرَبّ اکبــر دے اے احـمـده ! دَ جهـــان

حسیــن دے ښـائسـتـــهٔ نـمـر دَمـدیـنـې رڼـا رڼا

شائسته ده دے پیغمبر ﷺ دَ مدینې رڼا رڼا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

باب چې دَنُور او دَ سنت راشی
هلته بدعت نه به نفرت راشی
هلته کښې نُور به دَ سنت نۀ مومے
کوم ځائے چې ذکر دَ بدعت راشی
هلته کښې دین دَ مصطفیٰ ﷺ به نۀ وی
شیطان چې کله شیطانت راشی
هلته انوار دَ محمد ﷺ به نۀ مومے
چرته سنت نه چې نفرت راشی
هلته بښکلا به دَ سنت نۀ مومے
کوم ځائے چې دین نه بغاوت راشی
احمده! هر څۀ په سنت ښکلی دی
پس له سنت نه شریعت راشی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اللّٰه ئې خپل محبوب دَ ټول جهان ﷺ یادوی
مخلوق ئې په نبی آخرزمان ﷺ یادوی
مخلوق ئې یادوی په مزمل او مدثر ﷺ
مخلوق ئې یادوی دَ رهبرانو په رهبر ﷺ
مخلوق ئې د دُنیا دَ در سلطان ﷺ یادوی

مـــخـــلـــوق ئـې پـــه نبـی اٰخــرزمــان ﷺ یــادوُی

مـخـلـوق ئـې دَیسیـن پـــه لـقـب دلتـــه یـــادوُی

مـخـلـوق ئـې دَ امیـن پـــه لـقـــب دلتـــه یـــادوُی

صـــادق هـــغـــه دُنیـــا کښـې هـــر انســـان یـــادوُی

مـــخـــلـــوق ئـې پـــه نبـی اٰخــرزمــان ﷺ یــادوُی

مـخـلـوق ئـې یـادوُی پـــه اولیـن سـره دُنیـا کښـې

مـخـلـوق ئـې یـــادوُی پـــه اٰخریـن سره دُنیـا کښـې

دُنیـــا کښـــې بهتـــریـــن ئـې عـــالیشـــان یـــادوُی

مـــخـــلـــوق ئـې پـــه نبـی اٰخــرزمــان ﷺ یــادوُی

مـــخـــلـــوق ئـــې یـــادوُی دَ امـــامـــانـو پـــه امـــام

مـخـلـوق ئـې یـادوُی هـم پـه لـقـب خیـر الانـام ﷺ

دُنیـــا کښـــې ئـــې دَ ربَ فـضـل احســـان یـــادوُی

مـــخـــلـــوق ئـې پـــه نبـی اٰخــرزمــان ﷺ یــادوُی

مـخـلـوق ئـې پـه شمس الضحیٰ ﷺ هروخت یادوُی

مـخـلـوق ئې پـه بدرالـدجیٰ ﷺ هر وخت یادوُی

احـــمـــد عـــلـــی رنـــا ئـــې دَ آســـمـــان یـــادوُی

مـــخـــلـــوق ئـې پـــه نبـی اٰخــرزمــان ﷺ یــادوُی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لـــری دُنیـــا کښـــې ښـــهٔ بیشـــمیـــره صـــفتـــونـــه

زارکـــړمـــه زار تـــریـــنـــه زهٔ تـــول جهـــانـــونـــه

تاج دَعزت ئي دے په سر
تاج دَعظمت ئي دے په سر
خلقه شرميږی ئي دَ حُسن نه ګلونه
زارکړمه زارترينه زۀ تول جهانونه
نوراني نوردے دَ هر در
لقب ئي دے خيرالبشرﷺ
دا جهان تول کوی هم داسے بيانونه
زارکړمه زارترينه زۀ تول جهانونه
پاس دَدُنيا دے بره نمرﷺ
شائسته حسين لکه قمرﷺ
په هريو درتري تقسيميږی رحمتونه
زارکړمه زارترينه زۀ تول جهانونه
ښُکلا ښُکلا ده دَسحر
احمده! نُوردے دَنظر
يادئي دُنيا کښي ختموُی دَزړۀ غمونه
زارکړمه زارترينه زۀ تول جهانونه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هريو کار دَسنت ډير لری ثواب
دا رښا ده دَغريب اودَ نواب
پته دے کښي دَرسول اللهﷺ رضا ده

دا ښُکلا ده په دُنیا دَ هریو باب
دا ښُکلا ده دَ انسان دَ هریو در
داسې وائي په دُنیا کښې هر کتاب
دا عزت دے دَ محشر په لوئې میدان
دا یو ډهال دے دَ محشر دَ هر عذاب
نیك دے نیك که په سنت باندې عامل دے
اسانتیا ده په محشر کښې دَ حساب
اے احمد علي ! سنت نه چې وي لرے
ورته وائي ټول نیکان خلق خراب

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته دې دُنیا هریو مکان دے په تا ﷺ
ښائسته اے پاك رسوله! ﷺ هر اسمان دے په تا ﷺ
ښائسته هریو چمن دے دَ دُنیا په تا سره
ښائسته هریو وطن دے دَ دُنیا په تا سره
ښائسته ددې دُنیا هر ګلستان دے په تا
ښائسته اے پاك رسوله! ﷺ هر اسمان دے په تا ﷺ
ښائسته دي تا سره دغه ګلونه دَ جهان
ښائسته دي تا سره ټول محفلونه دَ جهان
ښائسته ښکلے حسین دا ټول جهان دے په تا ﷺ
ښائسته اے پاك رسوله! ﷺ هر اسمان دے په تا ﷺ

ښــائسته‌ــۀ پـــه تــاســره دے هــر بشــر ددې جهــان
ښــائستـــه پـــه تـاســره دے دَ دُنيــا هــر مسلمــان
ښــائستـــۀ ددې دُنيــا هــريـو بيــان دے پــه تــا ﷺ
ښائستـه اے پاك رسوله! ﷺ هر اسمان دے په تا ﷺ
ښــائستـــۀ پـــه تـــاســره ده هــره لاره دَجهـــان
ښــائستـــۀ هــم تـــاســره دے دَ کلمـے سـره أذان
ښــائستـــه ددې دُنيـــا هــريــو اعـلان دے پــه تــا
ښائستـه اے پاك رسوله! ﷺ هر اسمان دے په تا ﷺ
ښــائستـــه پـه تـاسـره دے هــريــو شعـر دَ احـمـد
تـــوښــــۀ دَ اخــــرت ده دا تــوښـــــه ده دَ لـــحــد
کــامــل دَ مســلــمــان دغـــه ايـمـان دے پــه تـــا ﷺ
ښائستـه اے پاك رسوله! ﷺ هر اسمان دے په تا ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

انــوار دَ مــحــمــد ﷺ پـــه مـديـنـه کښـې دى پـراتــه
انوار دَ محمد ﷺ پـه هـر کـوڅـۀ کښې دى پراتـه
انــوار دَ مــحـمـد ﷺ دى دَ دُنيا پـه هـر اسـمان کښې
انــوار دَ مــحــمــد ﷺ دى بـــره بـــره لامـکـان کښـــې
انــوار ئـــې دَ جهـــان پـــه حـصــه کښـــې دى پـــراتـــه
انــوار دَ مــحـمــد ﷺ پـــه مـديـنـه کښـې دى پـراتــه
انوار دَ محمد ﷺ دى پـه عـرب او پـۀ عجم کښې

انوار دَ محمد ﷺ دی هر طرف ته تول عالم کښې
انوار دَ پاك رسول الله ﷺ په شپه کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ په مدینه کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ دی په ځنګل او په صحرا کښې
انوار دَ محمد ﷺ دی دَ دُنیا هره رڼا کښې
انوار ئې دَ دُنیا هره ذرَه کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ په مدینه کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ لری په زړۀ کښې مسلمان
انوار دَ محمد ﷺ دی دَ فلاح پوره سامان
انوار دَ مصطفیٰ ﷺ په تذکره کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ په مدینه کښې دی پراته
انوار ئې محفلونو کښې پراتۀ دَ مدینې دی
انوار ئې چمنونو کښې پراته دَ مدینې دی
احمده! تول انوار ئې په روضه کښې دی پراته
انوار دَ محمد ﷺ په مدینه کښې دی پراته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ځان دَ هر بدعت نه په دُنیا کښې تو یه ګار کړه
لاړ شۀ دَ سنت په لاره ځان په دغه لار کړه
ځان په دغه لار کړه دغه لاره دَ نیکانو ده
ځان په دغه لار کړه دغه لار دَ امامانو ده

ځان دَ پاك رسول ﷺ دَ هريو حکم تابعدار کړه
لاړ شـۀ دَ سنت په لاره ځان په دغه لار کړه
ځان په دغه لار کړه دغه لاره دَ صديق ؓ ده
لاره په دُنيا کښې بهترينه دَ عتيق ؓ ده
هريو څيز دُنيا کښې ددې لارې نه خپل زار کړه
لاړ شـۀ دَ سنت په لاره ځان په دغه لار کړه
ځان په دغه لاره کړه دا لاره دَ عمر ؓ ده هم
لاره دَ عثمان ؓ ده دغه لاره دَ حيدر ؓ ده هم
ځان ددغې ډلے نه دُنيا کښې خبردار کړه
لاړ شـۀ دَ سنت په لاره ځان په دغه لار کړه
لاره دَ بلال ؓ ده دغه لاره دَ حسان ؓ ده
لاره عزتمنده ده دا لاره عاليشان ده
ويښ وُسه دُنيا کښې دَ غفلت نه ځان بيدار کړه
لاړ شـۀ دَ سنت په لاره ځان په دغه لار کړه
لاره دغه لاره په دُنيا دَ عالمانو ده
لاره دغه لاره په دُنيا دَ متقيانو ده
خوښه طريقه دَ محمد خير الابرار ﷺ کړه
لاړ شـۀ دَ سنت په لاره ځان په دغه لار کړه
لاره دَ اصحابو ؓ تولو ياده په دُنيا کښې ده
ځکه دا ښائسته ده هم آباده په دُنيا کښې ده

ځان په حقيقت کښې په دے کار سره ديندار کړه
لاړ شــۀ دَ سـنـت پـه لاره ځـان پـه دغـه لار کـړه
لاره اے احمدعلي ! ښـۀ نيغـه پـه دُنيا کښې ده
لاره نيـغـه لاره دَ دُنيـا پـه هـر ادا کښـې ده
ځـان هـر ځـائـے مـلـګرې دَ دې نُـور او دَ انـوار کړه
لاړ شــۀ دَ سـنـت پـه لاره ځـان پـه دغـه لار کـړه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـخ دَ وَالـضُّـحـیٰ دے دَ نبيـانـو دَ سـردار ﷺ
ښـکلے دے ښائستۀ دے ډير حسين دے حسندار ﷺ
هـر صـفـت کامل لـرى ښائستـۀ ددې جهان هغـه
هـر صفـت کـامـل لـرى ښائستۀ دَ هر مکان هغه
يـاد دَ مـديـنـې مـنـورې دے تـاجـدار ﷺ
ښـکلے دے ښائستۀ دے ډير حسين دے حسندار ﷺ
شافـع مـحشر ﷺ دے شفاعت ئې دَ محشر دے حق
شافـع مـحشر ﷺ دے دا عزت ئې دَ محشر دے حق
فـضـل وکـرم دلتـه پـه دُنيـا دے دَ هـر لار
ښـکلے دے ښائستۀ دے ډير حسين دے حسندار ﷺ
سـاقـى کـوثـر ﷺ دے ورتـه وائـى دَ دُنيـا خلق
سـاقـى کـوثـر ﷺ دے ورتـه وائى پـه هرخوا خلق
يـاد پـه دې صـفـت سره دے دلتـه کښې بـار بـار

ښکلے دے ښائسته دے ډیر حسین دے حسندار ﷺ
حُسن دَ جهان ورته وئیلے په دُنیا کښې شي
حُسن دَ آسمان وئیلے په دُنیا کښې شي
هر ځائے کښې علاج دے دَ رنځور او دَ بیمار
ښکلے دے ښائسته دے ډیر حسین دے حسندار ﷺ
وائی اطمینان دے دَ مخلوق دغه بیان دے هم
وائی اطمینان دے ددې زمکے او آسمان دے هم
یاد په کائنات کښې دے سکون دَ هر دیار
ښکلے دے ښائسته دے ډیر حسین دے حسندار ﷺ
حُسن دَ ګلونو ورته وائی دَ دُنیا خلق
حُسن دَ باغانو ورته وائی دَ دُنیا خلق
دغه شان حسین ئې دے احمده ! هر ګفتار
ښکلے دے ښائسته دے ډیر حسین دے حسندار ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې باغی دَ تاجدار ﷺ شونو پرے ځۀ
چې روان په کړه لار شونو پرے ځۀ
دَ نبی ﷺ سره چې دلته وفا نۀ کړی
کۀ دَ هر چا تابعدار شونو پرے ځۀ
دَ رسول الله ﷺ چې نۀ منی نُو غرق دے
دَ شیطان چې وفادار شونو پرے ځۀ

کار چې دلته دَ بدعت کوی په مینه
په ظاهره کۀ هوښیار شونو پرے څۀ
دَ خیر طمع دَ هغۀ نه نۀ شے کولے
چې د دین سنت غدّار شونو پرے څۀ
دَ شیطان ملګرې هریو بدعتی وی
په ظاهر کۀ حُسندار شونو پرے څۀ
بې ایمانه ایماندار نۀ وی احمده!
په ظاهر کۀ ایماندار شونو پرے څۀ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دلته څوك چې كړی سنت او بدعت ګڼلی وی
لکه څوك چې كړی رحمت او لعنت ګڼلی وی
دَ ازغو او دَ ګلونو کار جُدا دے
داسے نښته چې دَ دوی شی عادت ګڼلی وی
زهر زهر وی ګبین به نۀ شی کله
هم دَ زهرو او د ګبین دے فطرت ګڼلی وی
دوست وی دوست هغه دښمن ګڼلے نۀ شی
دا کیدے نۀ شی چې نرم سخت شی ګڼلی وی
هریو څیز دَ جهان بیل په خپل صفت دے
نۀ ده نۀ ده چې عزت شی ذلت ګڼلی وی
اے احمده! دَ بدعت لاره جُدا ده

مقبول نۀ دے په دُنیا کښې سنت ګډوډ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تل په ما زما دَربّ مهربانی ده
چې نصیب ئې زما کړے نعت خوانی ده
هر یو غم له دَ جهان دغه کافی ده
هر یو غم له دَ انسان دغه کافی ده
هم په دے سره هر ځائے کښې اسانی ده
چې نصیب ئې زما کړے نعت خوانی ده
هر بشر له سکون دے دَ هر در
دا رڼا ده دَ دُنیا د دغې نمر
تذکره دغه دُنیا کښې نورانی ده
چې نصیب ئې زما کړے نعت خوانی ده
دا خوشبو دَ هر محفل ده دَ جهان
دا خوشبو ده په دُنیا دَ هر اسمان
تذکره دا بهترینه لاثانی ده
چې نصیب ئې زما کړے نعت خوانی ده
تذکره دَ هر بدن دا دَ سکون ده
تذکره دَ هر وطن دا دَ سکون ده
دواګانو کښې دوا ده روحانی ده
چې نصیب ئې زما کړے نعت خوانی ده

وقف کړے ما احمد ورله دا ژوند دے
ځکه ژوند مې دَدُنيا دا قدرمند دے
وقف کړے ما هم دے لره ځواني ده
چې نصيب ئې زما کړے نعت خواني ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترين دے دَسنت دَرنګ لباس
په اساسو کښې دَدين دے لوئے اساس
شيطانان ئې دښمنان ددې جهان دی
لوئے دښمن ئې په دُنيا کښې دے خنّاس
هر مشرك سړی ته بد ښکاري دا کار
بد ګڼړي هر بدعتی دغه په لاس
رنګ په رنګ شياطين شته ئې دُښمنان
اے احمده! ځۀ جنات دی څه دي ناس

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نعت خواني له دے پکار ښائسته آواز
ځکه دغه دَنبي ﷺ دے لوئے اعزاز
نعت خوانی ده عبادت په دې جهان
نعت خوانی ده سعادت په دې جهان
بهترين دے دغه کار په هر يو ساز
ځکه دغه دَنبي ﷺ دے لوئے اعزاز

نعت خوانی ده نُور رڼا دَ هر محفل
تذکره ده دا دَ خاتم الرُّسل ﷺ
تل پکار ده نعت خوانی په ښۀ انداز
ځکه دغه دَ نبی ﷺ دے لوئے اعزاز
نعت خوانی کښې وی صفت دَمحمد ﷺ
نعت خوانی کښې وی سیرت دَ محمد ﷺ
ښکاره کیږی په دے نُور سره هر راز
ځکه دغه دَ نبی ﷺ دے لوئے اعزاز
نعت خوانی کښې تذکره وی دَ سنت
اے احمده! نُور دے نُور دَ شریعت
مینه مینه دلته نۀ وی دَ مجاز
ځکه دغه دَ نبی ﷺ دے لوئے اعزاز

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سنت ده دلته یو ډیوه د دې ژوند
ښائسته دُنیا کښې ده حصه د دې ژوند
بله ډیوه ددې دُنیا دَ در ده
رڼا په دې ده هره شپه ددې ژوند
رڼا دا زړونه ددُنیا په دے دی
رڼا په دې ده هر ذره ددې ژوند
رڼا عرب کښې په عجم کښې دا ده

قســـــم دے ده یــــو ائیـــــنـــــــه ددې ژونـــد
رڼـــــــا تیــــــرو کښـــــي دَ دُنیــــــا دَ دره
پـــه دې هــرخیـز دے تـول ښـائسـتــۀ ددې ژونـد
نشتـــــه احـــمـــده ! یـــو رڼـــا تـــرے بــلـــه
پـــــه دې ده دلتــــه کښـــي رُتبـــه ددې ژونـد

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـې تـابـع دَ پـاك رسـول ﷺ دَ گفتـار تـۀ شـوے
حـقـقـیـت کښـې دَ نبـی ﷺ پیـروکـار تـۀ شـوے
چـــې تـــابـــع ددغـــې نُـــور پـــه دې جهـــان شـــوے
حـقیـقـت کښــې نـورانـــی پـــه انـوار تـــۀ شـوے
چـــې تـــابـــع ددغـــې حُـســن پـــه جهـــان شـــوے
پـــه دُنیـــا کښـــې دَ دُنیـــا حسـنـدار تـــۀ شـوے
چـــې تـــابـــع ددغـــې عـــطـــرو دَ جهـــان شـــوے
مـــعـــطّـــره ددُنیـــا پـــه گـــلـــزار تـــۀ شـــوے
چـــې تـــابـع دَ پـــاك رسـول الـلّـــه ﷺ دَ ال شـوے
عـــزتـــمـــنـــده دَ دُنیـــا پـــه دربـــار تـــۀ شـوے
چـــې تـــابـــع شـــوے دَ اصـــحـــابـــو ؓ دَ رســـول
دَ دُنیـــا دَ پـــاره سـبـوري بهـــار تـــۀ شـــوے
چـــې تـــابـــع دَ دغـــې در دَ ازواج تـــۀ شـــوے
اے احـمـده ! پـه دُنیـا کښـې هـوښیـار تـۀ شـوے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنیا کښې چا رڼا چې دَ سنَت مونډلے ده
قسم دے دۀ رڼا دَ شریعت مونډلے ده
رڼا دَ شریعت ده دا رڼا ده دَ سنَت
رڼا دَ هر یو زړۀ ده دا رڼا دَ شریعت
قسم دے دا رڼا ئې دَ عزت مونډلے ده
قسم دے دۀ رڼا دَ شریعت مونډلے ده
رڼا دَ هدایت ده دا رڼا دَ شریعت
رڼا دَ سعادت ده دا رڼا دَ شریعت
قسم دے دۀ ښُکلا په حقیقت مونډلے ده
قسم دے دۀ رڼا دَ شریعت مونډلے ده
ښُکلا دَ هر وطن ده دا ښُکلا دَ هر چمن
رڼا دَ هر وطن ده دا رڼا دَ هر چمن
خوشبوئې په دُنیا کښې هر ساعت مونډلے ده
قسم دے دۀ رڼا دَ شریعت مونډلے ده
ښُکلا دَ اولیاء ده دا ښُکلا دَ علماء
ښُکلا ده په دُنیا کښې اے احمده ! دَ هر چا
ښُکلا چې دلته چا دَ پاك حضرت ﷺ مونډلے ده
قسم دے دۀ رڼا دَ شریعت مونډلے ده

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رُتبـــه ئـــي چـــې دُنيـا کښـې دَعـزت مـونـدلـے ده
قسـم دے دا پـــه نُـور ئـــي دَسـنـت مـونـدلـے ده
رُتبـــه ئـــي چـــې مـونـدلـے دَعـزت او دَعـظـمـت
رُتبـــه ئـي چـې مـونـدلـے قـدرمنده هرساعت
رُتبـــه ئـــي دَنبـــي ﷺ پـــه اطـــاعـت مـونـدلـے ده
قسـم دے دا پـــه نُـور ئـــي دَسـنـت مـونـدلـے ده
رُتبـه ئـي ده مـونـدلـے پـه هر ځـائـے چې ښـۀ اوچـتـه
خبـر دے مسـلـمـان ئـي پـه دُنيـا کښې دَبرکتـه
رُتبـــه ئـــي دَنبـــي ﷺ پـــه مـحبت مـونـدلـے ده
قسـم دے دا پـــه نُـور ئـــي دَسـنـت مـونـدلـے ده
رُتبـــه ئـي چـې مـونـدلـے دَاسمان پـه شان اُوچتـه
رُتبـــه ئـي چـې مـونـدلـے لامـکـان پـه شان اُوچتـه
رُتبـــه ئـي دَنبـي ﷺ پـه لـوئـے نسبـت مـونـدلـے ده
قسـم دے دا پـــه نُـور ئـــي دَسـنـت مـونـدلـے ده
رُتبـه ئـي چـې مـونـدلـے دَلـوئـے غـر پشان اُوچتـه
رُتبـــه ئـي چـې مـونـدلـے رښـا نمر پشـان اُوچتـه
رُتبـــه ئـــي دَنبـــي ﷺ پـــه شـريـعـت مـونـدلـے ده
قسـم دے دا پـــه نُـور ئـــي دَسـنـت مـونـدلـے ده
رُتبـــه ئـي چـې مـونـدلـے دَقـمـر پشـان روښـانـه

احمد وائي دُنيا کښې بهترينه هر چانه
قسم دے دَ نبي ﷺ ئي په نسبت موندلے ده
قسم دے دا په نُور ئي دَ سنت موندلے ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنيا کښې چا چې دلته کښې روضه ليدلے ده
قسم دے دَ جنت ئي يو ټکړه ليدلے ده
دُنيا کښې چا ليدلے چې دے در دَمصطفیٰ ﷺ
دُنيا کښې چا ليدے چې دے در دغه رڼا
دَ حُسن ئي دُنيا کښې ګلدسته ليدے ده
قسم دے دَ جنت ئي يو ټکړه ليدلے ده
دُنيا کښې چا ليدلے چې چمن دَ پاك نبي ﷺ
دُنيا کښې چا ليدلے چې وطن دَ پاك نبي ﷺ
دَ حُسن ئي ښائسته يو نمونه ليدلے ده
قسم دے دَ جنت ئي يو ټکړه ليدلے ده
دُنيا کښې چا ليدلے چې بهار دَ محمد ﷺ
دُنيا کښې چا ليدلے چې دربار دَ محمد ﷺ
رڼا ئي دَ دُنيا دَ در يو شپه ليدلے ده
قسم دے دَ جنت ئي يو ټکړه ليدلے ده
دُنيا کښې چا ليدلے چې دے در دَ مزمل ﷺ
حُسن ته نۀ رسيږي بره نمر د مزمل ﷺ

دُنیـــا کښــې دَ رڼـــائـې یــو چینـــه لیـدلـے ده
قســـم دے دَ جـنــت ئــې یـو ټـکـړه لیـدلـے ده
لیـدلـے چـا چې دلتــه کښې ګلزار دے دَ احمد ﷺ
وریــږی هـغـــه ځـائـے کښـې رحـمتونــه دَ احـد
احـمـده ! دَ صـفـات ئــې مـجـموعــه لیدلے ده
قســـم دے دَ جـنــت ئــې یـو ټـکـړه لیـدلـے ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رڼـــا دَ هــدایــت ده چـــا چـــې دا مــونـدلــے ده
رڼـا چــې دَ سـنــت دلتــه کښـې چا موندلے ده
رڼـــا ده دَ ســنـــت دَ هـــریـــو کـــورکـلــی دَ پـــاره
رڼـا ده دَ ســنــت دَ هـریــو تـور ښـکـلـی دَ پـاره
دُنیـــا کښـــې دا رڼـــا ده ، اولیـــاء مــونــدلــے ده
رڼـــا دَ هــدایــت ده چـــا چـــې دا مــونـدلــے ده
رڼـــا ده دَ ســنـــت دَ هـــر مــحـفـل دَدې دُنیـــا
رڼـــا ده دَ ســنـــت دَ هـــر مــنـــزل ددې دُنیـــا
ښُـکـلا ده دغـــه ټـولـــه ، عـلـمـــاء مـوندلے ده
رڼـــا دَ هــدایــت ده چـــا چـــې دا مــونـدلــے ده
رڼـــا ده دَ ســنـــت هـــریـــو بشــرلـــــه دَ دُنیـــا
رڼـــا ده دَ دُنیـــا هـــریـــو رهبــرلـــــه دَ دُنیـــا
دُنیـــا کښـې دا نیـکـــانــو پــه هرخوا موندلے ده

رڼــــا دَ هـــدايــــت ده چــــا چـــي دا مـــونــدلــــے ده
رڼــــا ده دَ ســــنـــــت دغـــــه رڼــــا دَ هـــــرې لار
رڼـــا ده دَ ســنـــت وائـــی احــمــد دغـــه پـــه جــار
قســـم دے دا رڼــــا ده دلتـــــه مـــــا مـــونــدلــــے ده
رڼــــا دَ هـــدايــــت ده چــــا چـــي دا مـــونــدلــــے ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خبـــره چـــاچـــي دلتـــــه دَنبــــی ﷺ مـنـلـــے ده
ښــائستـــــهٔ دے چـــي ئـــي دغـــه ابـدي منلــے ده
خبـــره ښــــهٔ کـــامـلـــــه پـــه دُنيـــا دَ ســعـــادت ده
خبـــره ښــــهٔ کـــامـلـــــه پـــه دُنيـــا دَ هـدايـــت ده
دُنيــــا کښـــي ئـــي خبـــره هـــرولـــی مـنـلــے ده
ښــائستـــــهٔ دے چـــي ئـــي دغـــه ابـدي منلــے ده
خبـــره پـــــه دُنيـــا کښـــي دَآخـــر دَ نُـــور جـمـــال ده
خبـــره پـــــه دُنيـــا کښـــي تـولـــه دغـــه دَ کـمـــال ده
خبـــره هـــريـــو نيك دَ هـــاشـمـــی ﷺ مـنـلـــے ده
ښــائستـــــهٔ دے چـــي ئـــي دغـــه ابـدي منلــے ده
خبـــره پـــــه دُنيـــا کښـــي دَ فـلاح دَ هـــرانســـان ده
خبـــره پـــــه دُنيـــا کښـــي دَ فـلاح دَ تـول جهـــان ده
خبـــــره دَنبـــــی ﷺ ښـــــهٔ امَتـــــی مـــنـــلــــے ده
ښــائستـــــهٔ دے چـــي ئـــي دغـــه ابـدي منلــے ده

خبره په دُنیا کښې تول دغه دَ رڼا ده
احمد علی! خبره دَ نبی ﷺ دَ نُور ادا ده
خبره هر مؤمن دَ مدنی منلے ده
ښائسته دے چې ئې دغه ابدی منلے ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے مدینه ده داسے نشته په ښارونو کښې
نشته نشته نشته داسے گل په دے گلونو کښې
دلته جمع شوے دَ دُنیا دَ در دے تول جمال
دلته جمع شوے دَ دُنیا دے هر یو لوئے کمال
ذکر ئې راځی ښۀ په اعلاؤ صفتونو کښې
نشته نشته نشته داسے گل په دے گلونو کښې
هر عقیدت مند سړے ددغې در میلمه دے نن
هر یو قدرمند سړے ددغې در میلمه دے نن
ذکر ئې راغلے دَ هر چا په تعریفونو کښې
نشته نشته نشته داسے گل په دے گلونو کښې
سوچ نه ده اُوچته مرتبه ئې دَ دُنیا دَ در
سوچ نه ده اوچته تذکره ئې دَ دُنیا د در
نشته نشته نشته دغه شان په چمنونو کښې
نشته نشته نشته داسے گل په دے گلونو کښې
داسے یاده کړے ده نیکانو صالحانو تل

داسې یاده کړې اې احمده! عالمانو تل
نشته نشته داسې دَ دُنیا په مثالونو کښې
نشته نشته نشته داسې ګل په دې ګلونو کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلې مدینه دَ محمد خیرالانام ﷺ ده
دغه بهترینه دَ دُنیا په هر مقام ده
دغه بهترینه په دُنیا کښې دَ هردرنه ده
دغه بهترینه په دُنیا کښې هر ګوهرنه ده
ښۀ ښائسته دُنیا کښې دَ دُنیا په هر کلام ده
دغه بهترینه دَ دُنیا په هر مقام ده
ښکلې ده ښائسته ده ښۀ حسینه دَ دُنیا دغه
ښکلې ده ښائسته ده ښۀ حسینه په هرخوا دغه
یاده بهترینه دَ دُنیا په هر یو ګام ده
دغه بهترینه دَ دُنیا په هر مقام ده
ښکلې ده ښائسته لکه دَ ګل ګلاب پشان
ښکلې ده ښائسته لکه رڼا آفتاب پشان
دغه خوښه کړې په دُنیا کښې خاص وعام ده
دغه بهترینه دَ دُنیا په هر مقام ده
ښکلې ده ښائسته حسینه دغه دَ قمر پشان
وائی احمد وائی دغه ښکلې ده سحر پشان

دغــه ښـائسـتــهٔ شـوے دَ نبیــانـو پــه امـام ﷺ ده
دغـــه بهتـــرینـــه دَ دُنیـــا پـــه هــر مـقــام ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـکـلـے مـدینـه پـه دے دُنیـا کښـې دَ جهـان ده
دغـــه عـزتـمـنـده پـــه نبـی اٰخــرزمـان ﷺ ده
دغـــه عــزتــمــنـده ده دُنیـــا کښـــې پـــه هـــردر
ښـکـلـے ده ښـائسـتـهٔ دغـې دُنیا کښـې سراسر
دا لـــکـــه ښــائسـتـــهٔ ددغـی ګـل د ګـلستـان ده
دغـــه عـزتـمـنـده پـــه نبـی اٰخــرزمـان ﷺ ده
دغـــه ده ښـائسـتـــهٔ دَ کـائـنـات پـــه هـرصفـت
دغـــه ده ښــائسـتـــهٔ پـــه دے دُنیـــا لـکــه جنـت
دغـــه نـــورانـــی ددې دُنیـــا پـــه هـــر مـکـــان ده
دغـــه عـزتـمـنـده پـــه نبـی اٰخــرزمـان ﷺ ده
دغـــه خـوشبـوداره ده ښـائسـتـــهٔ ده پـــه رسول ﷺ
ډکـــه لـــه انـواره ده ښـــائسـتـــهٔ ده پـــه رسول ﷺ
دغـــې کښـــې ښـُــکـــلا دَ انـــواراتـــو دَ قـــراٰن ده
دغـــه عـزتـمـنـده پـــه نبـی اٰخــرزمـان ﷺ ده
ښـکـلـے ده ښـــهٔ ښـکـلـے داسـے وائـی هــر بشـر
وائـــی وائـــی وائـــی دا احــمـد ښـــهٔ مـختـصـر
دا خـــلاصـــه دُنیـــا کښـــې ددُنیـــا دَ ښـــهٔ بیــان ده

دغـــه عـزتــمــنــده پـــه نبـی اٰخـرزمـان ﷺ ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُــور دَ مــحــمــد رسـول اللّٰـــه ﷺ نُور دَ اسلام دے
دغــه نُـور ښـائـسـتـــهٔ دَ کــائـنـات پـه هـرمـقـام دے
نُــور دَ شـریـعـت دے نُور دَ سیّدالوریٰ ﷺ زمـونـږ
نُــور دَ هـرسـنـت دے نُور دَ سیّدالوریٰ ﷺ زمـونـږ
دغــه دَ اللّٰـــه پـــه مـونـــږه دلتـه کښې انعـام دے
دغــه نُـور ښـائـسـتـــهٔ دَ کــائـنـات پـه هـرمـقـام دے
نُــور دَ هـرتـورتـم دَ پـاره نُور دا پـه دُنیـا کښې دے
نُور عـرب عـجـم دَ پـاره نور دا پـه هـرخوا کښې دے
نُــور پـــه دے دُنیـاکښې هـرصـفـت سره تـمام دے
دغــه نُـور ښـائـسـتـــهٔ دَ کــائـنـات پـه هـرمـقـام دے
نُــور دَ اسـمـــانـــونـو هـم دے نُــور دَ لامــکـــان بــره
نُــور دَ جهـــانـــونـو نـور دے نـور دَ هــرذیشـان بــره
نُور پـه کـائـنـات کښې دغـه نُور دَ حق پیغام دے
دغــه نُـور ښـائـسـتـــهٔ دَ کــائـنـات پـه هـرمـقـام دے
نُــور دا دَمــردان دَ پـــاره نــور هـــریـو مــکـــان لـره
وائـــی احـــمـــد وائـی دغــه نُور دے هــر انسـان لـره
نُــور ســـره تـــړلـے دَ رسـول اللّٰـــه ﷺ کـلام دے
دغــه نُـور ښـائـسـتـــهٔ دَ کــائـنـات پـه هـرمـقـام دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـولـو مـخـلـوقـاتـو کښـي اُوچـت لـری مـقـام
ډيـر دے عـاليشـانـه دَ نبيـانـو دے امـام ﷺ
ډيـر دے عـاليشـانـه دَ نبيانـو دے افسـر ﷺ هغـه
ډيـر دے عـاليشـانـه عزتـمنده منوَر ﷺ هغـه
نُـور دے پـه دُنيـا کښـي دَ دُنيـا دَدرتـمـام
ډيـر دے عـاليشـانـه دَ نبيـانـو دے امـام ﷺ
ډير دے عـاليشـانـه مصطفیٰ ﷺ او مجتبیٰ ﷺ هغه
ډيـر دے عـاليشـانـه پـه نبيـانو کښي اعلیٰ هغه
هـر لـقـب اوچـت دے دَنبـی خيـر الانـام ﷺ
ډيـر دے عـاليشـانـه دَ نبيـانـو دے امـام ﷺ
ډيـر دے عـاليشـانـه لـه أسمـانـه دے اُوچـت هغـه
ډيـر دے عـاليشـانـه لـه هرچانـه دے اُوچـت هغـه
ښـهٔ ښـائستـهٔ دُنيـا کښـي پـه دُنيـا لـری کلام
ډيـر دے عـاليشـانـه دَ نبيـانـو دے امـام ﷺ
ډير دے عـاليشـانـه مخلـوقاتو کښي خير البشر ﷺ
ډيـر دے عـاليشـانـه نـورانـی هغـه نُورونظر
وائـی احـمـد وائـی عـزت مـنـدئـي دے غـلام
ډيـر دے عـاليشـانـه دَ نبيـانـو دے امـام ﷺ

★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دین ئي بهترینه په دُنیا کښي په هر ګام دے
دا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ د نُور مقام دے

هر څۀ پیدا شوی کائنات کښي ئي له مخه دی
هر څۀ پیدا شوی ټول جهات کښي ئي له مخه دی
نُور کامل دُنیا کښي ئي ښائسته حسین کلام دے
دا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ د نُور مقام دے

دغه بیان شته دے ښۀ په لویو کتابونو کښي
دغه بیان شته دے دَ نیکانو په قولونو کښي
رحمة اللعٰلمین ﷺ سحر دے هم ماښام دے
دا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ د نُور مقام دے

شپه ئي دَ معراج ده نوراني په آسمان کښي
شپه ئي دَ معراج ده نوراني په لامکان کښي
دغه شپه کښي مونځ دَ پاك اللّٰه دَ در انعام دے
دا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ د نُور مقام دے

دین کښي ئي فلاح ده دَ دُنیا او دَ عقبیٰ دَ در
دین کښي ئي فلاح ده اے احمده! دَ هر چا دَ در
هر بشر دَ پاره کۀ آزاد دے کۀ غلام دے
دا دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ د نُور مقام دے

★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمونږ دَ امامانو په امام ﷺ سره یادیږي
حسین ددې دُنیا خیرالانام ﷺ سره یادیږي

یادیږي په طٰهٰ ﷺ او مزمل ﷺ سره دُنیا کښې
یادیږي مدثر ﷺ سره دُنیا کښې په هرخوا کښې
هر ځائے ښۀ په ادب او احترام سره یادیږي
حسین ددې دُنیا خیرالانام ﷺ سره یادیږي

یادیږي په یٰسین ﷺ سره دُنیا کښې په هردر
یادیږي په امین ﷺ سره دُنیا کښې په هردر
عظیم په هرصفت په لوئے مقام سره یادیږي
حسین ددې دُنیا خیرالانام ﷺ سره یادیږي

یادیږي بره نمر سره ښائسته خیر البشر ﷺ
یادیږي پاس قمر سره رڼا تهول منوَر
سخی دَ هریو در ښۀ په اکرام سره یادیږي
حسین ددې دُنیا خیرالانام ﷺ سره یادیږي

یادیږي اوّلین سره دُنیا کښې په لقب
یادیږي آخرین سره دُنیا کښې په لقب
دُنیا کښې تل په ژبه خوږ کلام سره یادیږي
حسین ددې دُنیا خیرالانام ﷺ سره یادیږي

یادیږي په خاتم دَ مرسلانو ﷺ دَ دُنیا

یادیږی په په لقب سره دُنیا کښې مصطفیٰ ﷺ
احمده! نورانی په نُور تمام سره یادیږی
حسین ددې دُنیا خیرالانام ﷺ سره یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنیا کښې په محبوب دَ پاك سبحان سره یادیږی
نبی دا په نبی آخرزمان ﷺ سره یادیږی
یادیږی په رحمت سره دُنیا کښې هربشرله
یادیږی هدایت سره دُنیا کښې هر بشر له
هادی دَ زمانے په ښۀ لوئے شان سره یادیږی
نبی دا په نبی آخرزمان ﷺ سره یادیږی
یادیږی په خوشبو سره دُنیا کښې په هردر
یادیږی په خوشبو سره وینا کښې په هردر
دُنیا کښې هرطرف ته مهربان سره یادیږی
نبی دا په نبی آخرزمان ﷺ سره یادیږی
یادیږی اداګانې ئې لعلونه دَ جهان
یادیږی اداګانې ئې ګلونه دَ جهان
بهتر په کائنات کښې ښۀ انسان سره یادیږی
نبی دا په نبی آخرزمان ﷺ سره یادیږی
یادیږی په سکون سره دُنیا کښې دَ بشر
یادیږی ښۀ ژوندون سره دُنیا کښې په هردر

قسم دے هم محبوب دَ دوجهان سره یادیږی
نبی دا په نبی اٰخرزمان ﷺ سره یادیږی
یادیږی در په در صفا رڼا دَ شریعت
یادیږی در په در صفا رڼا نُور دَ سنت
دُنیا کښې دَ اللّٰه په لوئے احسان سره یادیږی
نبی دا په نبی اٰخرزمان ﷺ سره یادیږی
یادیږی ئې اوصاف دغه ښُکلا دَ هرچمن
یادیږی ئې اوصاف دغه ښُکلا دَ هروطن
احمده ! بهترین په هربیان سره یادیږی
نبی دا په نبی اٰخرزمان ﷺ سره یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کامله دَ دُنیا په هرصفت سره یادیږی
نبی ﷺ زمونږه هرځائے په عزت سره یادیږی
نبی ﷺ زمونږه هرځائے دَ عزت لری مقام
عالی ددے دُنیا دا هرساعت لری مقام
کامله دَ دُنیا په شریعت سره یادیږی
نبی ﷺ زمونږه هرځائے په عزت سره یادیږی
کامله دَ دُنیائي هریو کار دے دَ جهان
کامله دَ دُنیا ئي هرګفتار دے دَ جهان
کامله په انورو دَ سنت سره یادیږی

نبـی ﷺ زمونـږه هـرځـائے په عـزت سره یادیږی
کـامـلــــه پـــه اخـلاق سـره یـادیــږی درپـــه در
کـامـلــــه پـــه اخـلاق سـره یـادیــږی مـعـطّـر
کـامـلـه پـه دُنیـا کښـې هـدایـت سره یـادیـږی
نبـی ﷺ زمونـږه هـرځـائے په عـزت سره یادیږی
کـامـلــــه پـــه حیـا او پـــه وفـا سـره یـادیـــږی
کـامـلــه پـــه دُنیـا کښـــې هـر ادا سـره یـادیـږی
دُنیـا کښـــې دَ هــر در پـــه سعـادت سـره یـادیـږی
نبـی ﷺ زمونـږه هـرځـائے په عـزت سره یادیږی
سـخـــی دَهـــریـو در دَهـــردربـــار هغـــه یـادیـــږی
سـخـی پـه کـائـنـات کښې باربار هغـه یادیږی
هرځـائے کښې ښـهٔ پـه مینـه محبت سره یادیږی
نبـی ﷺ زمونـږه هـرځـائے په عـزت سره یادیږی
یـادیـــږی هـغـــه هرځـائے کښې رهبر دَ هر بشر
احـــمــدعـــلـــی ددغـــې نـــه دے هـــر بشـــر خبـــر
رهبــر دَ کـائـنـات دے پـــه رحـمـت سـره یـادیـږی
نبـی ﷺ زمونـږه هـرځـائے په عـزت سره یادیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـــائسـتـــهٔ دَ مـحـمـد خیـر الابـرار ﷺ وطن دے
ښـائسـتـــهٔ دَ مُـرسـلانـو دَ تـاجدار ﷺ وطن دے

ښائسته ۀ ښکلے وطن دَ محمد خیر الانام ﷺ دے
ښائسته ۀ ښکلے وطن دَ اماما نو دَ امام ﷺ دے
ښائسته دَ ټولو خلقو دَ سردار وطن دے
ښائسته ۀ دَ مُرسلانو دَ تاجدار ﷺ وطن دے
ښائسته ۀ ښکلے وطن دے دَ طٰهٰ ﷺ او دَ یٰسین ﷺ
قسم دے ډیر ښائسته دے په دُنیا کښې بهترین
قسم دے دَ محبوب دَ ربِّ غفار وطن دے
ښائسته ۀ دَ مُرسلانو دَ تاجدار ﷺ وطن دے
ښائسته ښکلے وطن دے هر صفت سره اعلیٰ
ښائسته ښکلے چمن دے هر صفت سره اعلیٰ
وطن دغه دَ خلقو دَ غمخوار ﷺ وطن دے
ښائسته ۀ دَ مُرسلانو دَ تاجدار ﷺ وطن دے
ښائسته ۀ ښکلے وطن دے عزتمنده عالیشان
احمد علی! تعریف ئې دے لیکلے په جهان
قسم دے مدینه دا ښائسته ښار وطن دے
ښائسته ۀ دَ مُرسلانو دَ تاجدار ﷺ وطن دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اعلیٰ په هر صفت سره اعلیٰ دا چمن دے
قسم دے په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ دا چمن دے
اعلیٰ ورته وئیلی دی نیکانو صالحانو

اعلیٰ ورته وئیلی په دُنیا کښې امامانو
قسم دے بهترین دَ نور رڼا دا چمن دے
قسم دے په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ دا چمن دے
اعلیٰ ورته وئیلی دی صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ
اعلیٰ ورته وئیلی دے بلالؓ سره حسّان
دُنیا کښې لاثانی تل په هرخوا دا چمن دے
قسم دے په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ دا چمن دے
اعلیٰ ورته وئیلی دی حُسین سره حسنؓ
اعلیٰ ورته وئیلی دی اصحابوؓ کښې هرتن
هر ښار نه په دُنیا کښې ښهٔ بالا دا چمن دے
قسم دے په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ دا چمن دے
اعلیٰ ورته وئیلی دی عرب کښې عربیانو
اعلیٰ ورته وئیلی دی عجم کښې عجمیانو
احمده! تل ممتاز په دے وېنا دا چمن دے
قسم دے په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ دا چمن دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تابع شهٔ دَنبی ﷺ دَ شیطانت خبرے پریده
خبره دَ سنت کړه دَ بدعت خبرے پریده
خبره همیشه کوه دَ پاك رسول ﷺ دَ در
خبره همیشه کوه دَ سیّدالبشر ﷺ

خبـــرے دَرنـــا کـــړه دَ ظــلــمــت خبــرے پــریــده
خبـــره دَ ســنــت کـــړه دَ بــدعـــت خبــرے پــریــده
خبـــره هـــمیشـــــه کـــوه دَ سیَــدالـــورىٰ ﷺ
خبـــره هـمیشـــه کـوه دُنیـــا کښـي دَ ربتیـــا
خبـــره کـــړه دَ حــق دَ ضــلالـــت خبــرے پــریــده
خبـــره دَ ســنــت کـــړه دَ بــدعـــت خبــرے پــریــده
خبـــرے دَ امیـــن دَ امـــانـــت کـــوه هـــر خـــوا
خبـــرے ئـــي دُنیـــا کښــي کـــوه دلتـــه دَ وفـــا
هـــر کـــار کـــړه دَ اصـلاح دَ شـرارت خبـرے پـریـده
خبـــره دَ ســنــت کـــړه دَ بــدعـــت خبــرے پــریــده
هـــر کـــار کښــي پیـــروی کـوه دَ سیَـدالابـــرار ﷺ
کـــارونـــه ښــۀ پـــه ســوچ کـوه چـي اُتـکـړے تـلـوار
د دیـن ســره کـــړه میـنـــه دَ نـفـرت خبـرے پـریـده
خبـــره دَ ســنــت کـــړه دَ بــدعـــت خبــرے پــریــده
د دیـــن ســـره کـــړه میـنـــه دغـــه لاره دَ نبـی ﷺ ده
د دیـن ســره کـــړه میـنـــه دغـــه لار دَ مـدنـی ﷺ ده
احـــمـــده ! کـــړه دوستـــی دَ عـــداوت خبـــرے پــریــده
خبـــره دَ ســنــت کـــړه دَ بــدعـــت خبــرے پــریــده

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ښکلے ښائسته پـه مدینه کښي دا زمونږ نبي ﷺ دے

لکه دَ ګل په باغیچه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
شپه دَ معراج وه ټول نبیان او مرسلان جمع وو
شپه دَ معراج وه عزتمنده دَ جهان جمع وو
نُور دَ معراج په دغه شپه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
لکه دَ ګل په باغیچه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
شپه دَهجرت وه هره لاره دَ مکې رڼا وه
شپه دَ هجرت وه هره لار دَ مدینې رڼا وه
ښائسته حسین په هر کوڅۀ کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
لکه دَ ګل په باغیچه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
ښکلے ښائسته دَ مدینې په هر محفل کښې هغه
ښکلے ښائسته دَ مدینې په هر منزل کښې هغه
ښائسته حسین په ائینه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
لکه دَ ګل په باغیچه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
ښکلے ښائسته هغه رهبر دَ ټول جهان دَ پاره
رهبر رهبر دے اے احمده ! دَ مردان دَ پاره
آرام فرما دے په روضه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے
لکه دَ ګل په باغیچه کښې دا زمونږ نبی ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شته دے شته دے خلق چې سنت سره کړی مینه
داسے خلق شته چې شریعت سره کړی مینه

شته داسې کسان چې په سنت باندې نثار دي
شته داسې کسان چې دَ سنتو تابعدار دي
داسې خلق شته چې شرافت سره کړې مينه
شته دې شته دې خلق چې سنت سره کړې مينه
داسې خلق شته دې چې تابع دَمصطفیٰ ﷺ دي
داسې خلق شته دې چې تابع دَ نُور رڼا دي
شته داسې کسان چې هدايت سره کړې مينه
شته دې شته دې خلق چې سنت سره کړې مينه
داسې خلق شته چې رضا غواړي دَ رسول ﷺ
داسې خلق شته چې رڼا غواړي دَ رسول ﷺ
شته داسې مخلوق چې سعادت سره کړې مينه
شته دې شته دې خلق چې سنت سره کړې مينه
داسې خلق شته چې لاره غواړي دَ رسول ﷺ
ځان دلته دُنيا کښې بچ کوي دَ هر فُضُول
داسې خلق شته چې تلاوت سره کړې مينه
شته دې شته دې خلق چې سنت سره کړې مينه
اے احمده! شته دې دَ نيکانو ډلے ډلے
شته دې په دُنيا دَ صالحانو ډلے ډلے
شته داسې کسان چې آخرت سره کړې مينه
شته دې شته دې خلق چې سنت سره کړې مينه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ محمد ﷺ منم مقام ئې دَ مولیٰ نه پس
زۀ منم ټول نیکان مخلوق دَ انبیاء نه پس
تورات زبور شته هم انجیل دَ رب کتاب منه
دا ټول منمه دَ قرآن دَ حق وینا نه پس
ستوری دُنیا کښې دَ رڼا دی ټول اصحابؓ دَ نبی ﷺ
منم دَ دوی ټولو رڼا زۀ دَ طٰهٰ ﷺ نه پس
اوّل صدیقؓ دے بیا عمرؓ بیا دَ عثمانؓ رُتبه ده
بیا نُور اصحابؓ دی د دُنیا دَ مرتضیٰؓ نه پس
دَ صداقت زۀ په دُنیا کښې هر مقام منمه
خو دا منمه دَ صدیقؓ زۀ دَ رښتیا نه پس
دَ عدل ټول قسمونه دلته کښې منلی ما دی
خو دا منمه دَ عمرؓ دَ رهنما نه پس
سخاوت هر ځائے په دُنیا کښې دغه ښکاری چې نن
دا ټول منمه دَ عثمانؓ دَ ابتدا نه پس
دَ شجاعت قیصے منمه ټولے دلته کښې زۀ
دغه منمه دَ علیؓ پشان خیر خواه نه پس
نیکان منمه په دُنیا باندی احمده ! زه ټول
خو دُوی منمه په دُنیا رسول اللّٰه ﷺ نه پس

★★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ زړونـو پـه دُنیا کښې تل علاج دے محـمـد ﷺ
قسم دے پـه دُنیـا کښـې دَ سـرتـاج دے محمد ﷺ
رحـمـت ئـې دَ دُنیـا پـه هریو در کښـې ملاویـږی
رهبـر دَ مـؤمـنـانـو دَ افـواج دے مـحـمـد ﷺ
رڼـا ئـې رڼـا کـړی دَ دُنیـا دے هـریـو در
ښائسته حسین دُنیا کښې په مزاج دے محمد ﷺ
ښـائستـهٔ دے خوشبوداره بهتـرینـه پـه هـردر
دُښـمـن ددې دُنیـا دَ بـدرواج دے مـحـمـد ﷺ
احـمـدعـلـی ! روښـانـه ئې ستـاکور کړلو دَ زړهٔ
کـامـلـه پـه دُنیـا بـاندې سراج دے محـمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـورانـی دَ پـاك رسـول ﷺ پـه نُـوررڼـا شـهٔ
دَ رنــځــور دَ زړهٔ عـلاج دَ زړهٔ دوا شـهٔ
هـر سـنـت سـره کـړه میـنـه دَ رسـول ﷺ
پیـروکـار دَ مـحـمـد رسـول اللّـه ﷺ شـهٔ
لـرے نشـے دَ سـنـت دَ مـحـمـد ﷺ نـه
طـریـقـے سـره ښـائستـهٔ دَ مصطفیٰ ﷺ شـهٔ
هـر ادا دَ پـاك رسـول اللّـه ﷺ نـه واخـلـه
پـه سیـرت سـره کـامـلـه دَ دُنیـا شـهٔ

اے احمده ! طریقه دا دَ فلاح ده

راشه راشه دَ فلاح دَ پاره راشئ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهار بهار دے محمد عربی ﷺ

زما دلدار دے محمد عربی ﷺ

ختم په دُوی شولو خزان دَ جهان

خفه له دُوی شولو شیطان دَ جهان

سکون قرار دے محمد عربی ﷺ

بهار بهار دے محمد عربی ﷺ

رڼا په دوی سره هر درد غه شو

نوراني نور هریو سحر دغه شو

نُور دَ ګفتار دے محمد عربی ﷺ

بهار بهار دے محمد عربی ﷺ

دَ هریو درنه تول غمونه لاړل

دَ هریو در مصیبتونه لاړل

غمخوار غمخوار دے محمد عربی ﷺ

بهار بهار دے محمد عربی ﷺ

لاړے تیري ددي دُنیا نه تولے

لاړے تیري دلته هر خوا نه تولے

نُور دَ هر دار دے محمد عربی ﷺ

بهار بهار دے محمد عربی ﷺ
ښکاره شو هر ځائے کښې سنت دَ نبی ﷺ
ښکاره شو هر ځائے شریعت دَ نبی ﷺ
داسے سردار دے محمد عربی ﷺ
بهار بهار دے محمد عربی ﷺ
درئې رحمت دَ کائنات دے ټول
درئې رحمت دَ مخلوقات دے ټول
داسے تاجدار دے محمد عربی ﷺ
بهار بهار دے محمد عربی ﷺ
بیان پوره شو دَ احمد علی دا
اعلان پوره شو دَ احمد علی دا
دوست دَ غفار دے محمد عربی ﷺ
بهار بهار دے محمد عربی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې تابع دَ پاك رسول ﷺ دَ سنت نۀ دے
نو کامله په اسلام شریعت نۀ دے
دَ سنت پشان دولت نشته دُنیا کښې
غټ دولت دے داسے بل یو دولت نۀ دے
ټول وجود دَ پاك رسول الله ﷺ رحمت دے
ټول رحمت دے داسے بل یو رحمت نۀ دے

دَ بدعت سره دَعویٰ دَمینے کول
دا هیڅ کله دَ نبی ﷺ محبت نۀ دے

دَ شیطان رضا چې غواړی په دُنیا کښې
تابع دے دَ پاك رسول ﷺ دا ساعت نه دے

هره لاره چې کړه وی دَجهان
خورم قسم دغه ځائے پروت هدایت نۀ دے

کومه لاره چې مولیٰ طرف ته تلے
دغه لاره باندې پروت ضلالت نۀ دے

دَ رسول ﷺ په لاره لاړ شۀ کامیابی ده
نۀ دے نۀ دے بل ځائے کښې سعادت نۀ دے

اے احمده ! دَ سنت لاړ دَ عزت ده
دا عزت دے داسے بل یو عزت نۀ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے دَ هر دردَ زړۀ قرار دے محمد ﷺ
محبوب دَ مخلوقات دَ ربّ غفار دے محمد ﷺ

جمال ته ئې حیران دی مخلوقات تول دَ جهان
جمال ته ئې حیران دی مخلوقات تول دَ آسمان
کامل په هریو حُسن حسندار دے محمد ﷺ
محبوب دَ مخلوقات دَ ربّ غفار دے محمد ﷺ

قسم دے معزه دَ نبیانو دے محفل کښې

قسم دے معزز دَ امامانو دے محفل کښې
ممتاز دَ کائنات په هريو دار دے محمد ﷺ
محبوب دَ مخلوقات دَ ربَ غفار دے محمد ﷺ
خدمت باندې جبرئيل کوئی ئې فخر دَ جهان
خدمت باندې ئې فخر کوی دلته مسلمان
أسمان کښې بره ربَ سره رازدار دے محمد ﷺ
محبوب دَ مخلوقات دَ ربَ غفار دے محمد ﷺ
حجره ئې ده اُوچته له أسمانه په صفت
قسم دے په محشر به دَ اُمت کړی شفاعت
احمده ! ستا رهبر دَ هرې لار دے محمد ﷺ
محبوب دَ مخلوقات دَ ربَ غفار دے محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته دَ هر ګلزار نه دے ګلزار دَ محمد ﷺ
ښائسته دَ هر ګفتار نه دے ګفتار دَ محمد ﷺ
قسم دے لاثانی دے محمد خیر الابرار ﷺ
امام دے دَ نبیانو معزه په هر لار
ښائسته دَ هرې لارے نه ده لار دَ محمد ﷺ
ښائسته دَ هر ګفتار نه دے ګفتار دَ محمد ﷺ
ولیان دَ زمانے ورته نۀ رسی دَ جهان
اصحابؓ د پاك نبی ﷺ دی قدرمنده عالیشان

هـرچـا نــه لـوے مـقـام لـري هـريـار دَ مـحـمـد ﷺ
شـائسـتــه دَ هــرګـفـتــار نــه دے ګـفـتــار دَ محمد ﷺ
ګـلــزارئــي پــه دُنيـا دَ هــرګـلــزار نــۀ دے اُوچـت
دُنيـا کښـي ئـي روضـه کښي حُسن پروت دے دَ جنت
هـر در دَ پـاك نبـي ﷺ دے خـوشبـودار دَ محمد ﷺ
شـائسـتــه دَ هــرګـفـتــار نــه دے ګـفـتــار دَ محمد ﷺ
دربـار دَ مـحـمـد ﷺ کښـي هـريـو حُسن دَ جهان دے
دربار دَ مـحـمـد ﷺ کښي حُسن پروت دَ ګلستان دے
ګـواه پــه دے بيــان دي ټـول آثــار دَ مـحـمـد ﷺ
شـائسـتــه دَ هــرګـفـتــار نــه دے ګـفـتــار دَ محمد ﷺ
دربــار دَ مـحـمـد ﷺ دے دَ انـوارو مـجـمـوعـــه
احــمــده ! پـــه دُنيـــا کښـــي دَ انـوارو ده چيـنـــه
انــوار دَ مـحـمـد ﷺ دي ټـول اذکـار دَ مـحـمـد ﷺ
شـائسـتــه دَ هــرګـفـتــار نــه دے ګـفـتــار دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ديــن دَ مـحـمـد ﷺ دے رحـمـتـونـو نـــه دے ډك
ديـــن دَ مــحـمـد ﷺ دے بـرکـتـونـو نـــه دے ډك
ديـــن دَ مـــحـــمـــد ﷺ دے دَ وفـــا او دَ حيـــا
ديـن دَ مــحـمـد ﷺ دَ ثـوابـونـونـــه دے ډك
ديـــن دَ مـــحـــمـــد ﷺ دَ هـــر در رڼـــا رڼـــا

دين دَ محمد ﷺ ښکلو خويونو نه دے ډک
دين دَ محمد ﷺ دے دَ دُنيا دَ درد علاج
دين دَ محمد ﷺ دَ صفتونو نه دے ډک
دين دَ محمد ﷺ لکه ګل پشان حسين
ځکه وايم زه چې دَ ګلونو نه دے ډک
دين دَ محمد ﷺ دے هدايت دَ ټول جهان
ځکه دا دَ لويو مثالونو نه دے ډک
دين دَ محمد ﷺ دے احمده ! نُور سحر
ځکه دَ دُنيا ښۀ عملونو نه دے ډک

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لوګے درنه لوګے شمه اے سيَدالبشره ! ﷺ
دَ زړۀ نه دغه وايمه رسوله ! پيغمبره ! ﷺ
هر در ددې جهان دے اوچت شوې ستا له مخه
بشر ددې جهان دے اوچت شوې ستاله مخه
کاذب نۀ يمه دلته يم ريښتونے په خبره
دَ زړۀ نه دغه وايمه رسوله ! پيغمبره ! ﷺ
اسمان بره روښانه شو په نُور دے منوَر
جهان بره روښانه شو په نُور دے منور
شغلے شولے جُدا هم دَ قمره او دَ نمره
دَ زړۀ نه دغه وايمه رسوله ! پيغمبره ! ﷺ

رڼــا شــوه هــرطــرف تــه جهـــالــت شولو فنــا
رڼــا شــوه هــرطــرف تــه ضــلالــت شــولو فنــا
رڼــا دې جهـــان ســره أســمـــان شــولــو هــم بــره
دَزړۀ نـــه دغـــه وايــمـــه رسـولـــه! پيـغـمبـره! ﷺ
دَ ستـــرګــو رڼـــا راغــلـــه ستـــا رڼـــا ســره هــرخـوا
رڼــا دَزړونــو راغــلـــه پـــه تيــرو کـښـــې دَدُنيــا
خــوشبــو دَ ســنــت راغـلــه هــريـو درشـو معطّـره
دَزړۀ نـــه دغـــه وايــمـــه رسـولـــه! پيـغـمبـره! ﷺ
انـــوار دَ شـــريـــعـــت شــولـــو خــوارۀ پـــه هــرطــرف
انـــوار دَ هـــدايـــت شــولـــو خــوارۀ پـــه هــرطـــرف
احـــمــــد عـــلـــى لـيـکـلـــې دا خبــره مــخـتـصــره
دَزړۀ نـــه دغـــه وايــمـــه رسـولـــه! پيـغـمبـره! ﷺ

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ځـوک چې پـه لار دَ مـحـمـدرسـول الله ﷺ تلـې دے
هـغـــه رڼـــالـــه پـــه دُنيـــا کـښـې دَعقبىٰ تـلـې دے
لاره ده لاره دَ نبـــى ﷺ دَ هـــــريـــو لار نــــــه غـــوره
لاره ده لاره دَ نبـــــى ﷺ قســـــم دے ده بهتـــــره
پـــه دغـــه لاره چې ځـوک دلتـه پـه دُنيـا تلـې دے
هـغـــه رڼـــالـــه پـــه دُنيـــا کـښـې دَعقبىٰ تـلـې دے
دلتـــــه ګـــلـــونـــــه دَدُنيـــا د درپـــراتـــــه دي تـــول

دلتــــه لــعــلــونــه دَ دُنيـا دَ در پــراتـــه دی تـول
هوښيار سړے دے چې په لار دَ مصطفیٰ ﷺ تلے دے
هـغـــه رښـالـــه پـــه دُنيـا کښې دَ عـقبیٰ تـلـے دے
دلتـــــه خـــوشبـــو ده بهتـــريـنـــــه دَ دُنيــــا دَ در
دلتـــــه خـــوشبـــو ده بهتـــريـنـــــه دَ هــريـــويشـــر
پـو هـه سـړے دے چـې پـه لاره دَ طـٰهٰ ﷺ تلـے دے
هـغـــه رښـالـــه پـــه دُنيـا کښې دَ عـقبیٰ تـلـے دے
دلتـــه کښــې حُسن دَ هـردر دَ پـاره رَبّ ايـخـے دے
دلتـه کښې هرقسـمـه مـولیٰ زمونږ ادب ايـخـے دے
ښۀ خوش قسمت دے چې په لاره دَ مولیٰ دے تلے دے
هـغـــه رښـالـــه پـــه دُنيـا کښې دَ عـقبیٰ تـلـے دے
دلتـه جـمـال کـمـال دے پــروت احـمده ! هريشـر لـه
دلتـه جـمـال کـمـال دے پـروت ښائسته هريو نظر له
ډير خوش نصيب دے چې په لار دَ مجتبیٰ ﷺ تلے دے
هـغـــه رښـالـــه پـــه دُنيـا کښې دَ عـقبیٰ تـلـے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـــکـــلـــي هـــريـــو در دَ مـــديـــنـــې دے
ښـــکـــلـــي پيـــغـمبـــر ﷺ دَ مـــديـــنـــې دے
ښــکــلــي ســاکــنـــان دَمــديــنـــې دی تـــول
ښــکــلــي انســانـــان دَ مــديــنـــې دی تـــول

ښکلي هر بشر دَ مديني دے

ښکلي پيغمبر ﷺ دَ مديني دے

ښکلي هر يو ګل ددغي در دے

ښکلي هر محفل ددغي در دے

ښکلي هر نظر دَ مديني دے

ښکلے پيغمبر ﷺ دَ مديني دے

ښکلي هر مکان دَ مديني دے ډير

ښکي ګلستان دَ مديني دے ډير

ښکلي هر سحر دَ مديني دے

ښکلے پيغمبر ﷺ دَ مديني دے

ښکلي هر يو در دے خوشبوداره ډير

ډك دَ انوارت دے لار په لاره ډير

ښکلي نُور او نمر دَ مديني دے

ښکلے پيغمبر ﷺ دَ مديني دے

ښکلي هر يو لعل دَ مديني دے ډير

اے احمده! تا نه به دا نشی هير

ښکلي پاس قمر دَ مديني دے

ښکلي پيغمبر ﷺ دَ مديني دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلي ګلستان دَ مديني منوري دے

نُــور دَ دوجهـــــان دَ مــدیــنـــي مــنــوري دے

ښــکــلـــی تـول انـصـــار دَمـدیـنـي مـنـوري دي

ښــکـــلـــی تـول انـــوار دَ مـدیــنـــي مـنــوري دي

ښـکـلـي پـاس آسـمــان دَ مـدیـنـي منوري دے

ښــکـلــي ګـلستــان دَ مـدیـنـــي مـنـوري دے

ښـــکـلـــي هــر ســحــر دَ مـدیـنـي مـنـوري دے

ښــکـلـــي هـــر بشــر دَ مـدیـنـي مـنـوري دے

ښـکـلـي هـر مـکـــان دَ مـدیـنـــي منوري دے

ښــکـلــي ګـلستــان دَ مـدیـنـــي مـنـوري دے

ښــکـلــي پـــاس فـضـــا دَ مـدیـنـي مـنــوري ده

ښــکـلـــي ده ښُــکـلا دَ مــدیـــنــي مـنــوري ده

ښــکـلـــي هــر بیـــان دَ مـدیـنـــي مـنـوري دے

ښــکـلــي ګـلستــان دَ مـدیـنـــي مـنـوري دے

ښــکـلـــي هـر صـفـت دَ مـدیـنـي مـنـوري دے

دغــــه حـقـیـقـــت دَ مـــدیـــنـــي مـــنـــوري دے

دا احـــمـــده ! شـــان دَ مــدیـــنـــي مـــنـــوري دے

ښــکـلــي ګـلستــان دَ مـدیـنـــي مـنـوري دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـــا دَ ســنـت ســره چـي مـیـنـه مـحبت کړیدے

دَ هـر بـدعـت نـه هغـۀ هرځـائـے کـنـبي نفرت کړیدے

چاچې اسلام سره دُنیا کښې دلته مینه کړے
کار په دُنیا ئې همیشه دَ شریعت کړیدے
چاچې دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ په لاره تلل خوښ کړی
دَ هر ابلیس هغه هرځائے مخالفت کړیدے
چا چې اغستے طریقه دَپاك رسول ﷺ دَ ژوند نه
کار ئې دُنیا کښې همیشه دَ محبت کړیدے
چا چې وفا دَ پاك نبی ﷺ سره دُنیا کښې کړے
په هریو کار کښې دَ رسول ﷺ ئې اطاعت کړیدے
چا چې سیرت دَ محمد ﷺ سره ژوندون ښائستۀ کړه
کار په دُنیا کښې ئې قسم دے دَ جنت کړیدے
چا چې اخلاق دَپاك نبی ﷺ دَخپل دَ ژوند حصه کړه
احمده ! هرځائے کښې ئې هرچا نن صفت کړیدے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خپله تعریف دے بیان کړے زمونږ ربَ دَنبی ﷺ
لازم په هرچا باندې هرځائے دے ادب دَ نبی ﷺ
لازم په هرچا باندې دے هرځائے ادب دَ حضور ﷺ
یاد دے چې یاد دے هغه هرځائے په بشر او په نُور
عالی دُنیا کښې په دُنیا دے هر مکتب دَنبی ﷺ
لازم په هرچا باندې هرځائے دے ادب دَ نبی ﷺ
لازم په هرچا ددې در دے احترام او ادب

لازم په هر خوا دي در دے احترام او ادب
ادب کوی دَ ټول عجم سره عرب دَنبی ﷺ
لازم په هرچا باندې هرځائے دے ادب دَ نبی ﷺ
دا مرتبه او لوئے مقام دَ بل چا نشته دے دلته
دا مرتبه او احترام دَ بل چا نشته دے دلته
قسم دے ډیر زیات دے عالی پوره نسب دَنبی ﷺ
لازم په هرچا باندې هرځائے دے ادب دَ نبی ﷺ
په هر ماشوم بُډها او ځوان دغه ادب لازم دے
په هر مؤمن او مسلمان دغه ادب لازم دے
عالی صفت لری دُنیا کښې هر مرکب دَنبی ﷺ
لازم په هرچا باندې هرځائے دے ادب دَ نبی ﷺ
په هرجا اهل او عالم دغه لازم کړے دے ربَ
احمده! دغه لازم شوے په عجم او عرب
راته مقام دا ملاؤ شوے په سبب دَنبی ﷺ
لازم په هرچا باندې هرځائے دے ادب دَ نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اچولے چا چې دلته دَ سنت ښائسته لباس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے
هرځائے کښې به خوشحاله دَ دُنیا وی په هردر
هر چا له په دُنیا کښې به وی دلته کښې رهبر

دُنیا کښې چې دَ چا سره دا نُور دلته په لاس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے
هر کار کښې به دده سره دَربَ وی ملګرتیا
ګفتار کښې به دَ دهٔ سره دَربَ وی ملګرتیا
بچ شوے چې بدعت نه په دُنیا دَهر بکواس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے
وریږی به په دهٔ باندې دَ پاك اللّٰه رحمت
وریږی به په دهٔ باندې انوار دَ شریعت
دُښمن چې دَ چا دلته په دُنیا باندې خنّاس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے
محبوب چې ورته وی دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ ګفتار
محبوب چې ورته وی دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ هر کار
ښائسته دغه بشر دغې دُنیا کښې حق شناس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے
محبوب چې ورته ال وی دَ حضرت رسول اللّٰه ﷺ
محبوب چې ورته حال وی دَ حضرت رسول اللّٰه ﷺ
ښائسته ئې دَ دُنیا دَ در دا مینه او احساس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے
محبوب چې ورته وی ټول اصحاب رضی اللہ عنہم دَ محمد ﷺ
احمده! وی محبوب ورته کتاب دَ محمد ﷺ

شاکر چې په دُنیا کښې په غُربت او په افلاس دے
قسم دے په یقین وایمه پاس دے هغه پاس دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شته دَ قرآن سنت اجرونه درانۀ
دغه اجرونه لکه غرونه درانۀ
هریو قدم دَ پاك نبی ﷺ په لاره
قسم دے دا دی قدمونه درانۀ
هریو ادا دَ پاك نبی ﷺ دَ در
قسم دے دغه دی ګلونه درانۀ
چې دَ سنت په طریقه اُوشی کار
دغه شان دلته وی کارونه درانۀ
چې دَ نبی ﷺ په اتباع کښې اُوشی
داسے دی داسے عملونه درانۀ
په کښې پراته چې دَ نبی ﷺ سنت وی
په دُنیا داسے دی کورونه درانۀ
څوك چې اخلاق دَ پاك نبی ﷺ کړی خپل
قسم دے دغه دی خویونه درانۀ
نشته دے نشته دَ بدعت څۀ اجر
نۀ وی په یو ځائے کښې زګونه درانۀ
شته په سنت باندې اجرونه ښۀ ډیر

لـــري ډېـــر ډېـــر دا ثـــوابـــونـــه درانـــهٔ
مـــنـــزل دَ هـــغـــو خـــلـــقـــو ډېـــر اُوچـــت وي
لـــري چـــې دلتـــه کښـــې ســـوچـــونـــه درانـــه
هـــريـــو مثـــال دَ پـــاك نبـــي ﷺ دَ در
دا دي احـــمـــده ! مثـــالـــونـــه درانـــهٔ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شتـه دے داسـے خلق چې کړي مينه دَ سنت سره
مينـه لـري زړهٔ کښـې دَ نبـي ﷺ دَ شـريعـت سره
شتـه دے داسـے خلق چې په دين باندې مئين دي ښهٔ
شتـه دے داسـے خلق چې تابع دَ ربَ متين دي ښهٔ
داسے خلق شته دے چې کړي مينه پاك حضرت ﷺ سره
مينـه لـري زړهٔ کښـې دَ نبـي ﷺ دَ شـريعـت سره
داسـے خـلق شتـه دے چې زاريږي دَ نبي ﷺ نـه تل
داسـے خلق شتـه دے چې زاريـږي هـر ولي نـه تل
هـريـوه خبـره ئـې وي هـر ځـائـے محبـت سـره
مينـه لـري زړهٔ کښـې دَ نبـي ﷺ دَ شـريعـت سره
شتـه دے داسـے خلق چې روان دي پاك نبي ﷺ پسے
شتـه دے داسـے خـلق چې روان دي مدني ﷺ پسـے
دا خـلـق ليـدلـے شـي دَ دُنيـا پـه صداقـت سـره
مينـه لـري زړهٔ کښـې دَ نبـي ﷺ دَ شـريعـت سره

مینــــه لــری زړهٔ کښــې دَ اصــحــابوٓ دَنبی ﷺ سره
مینــــه لــری زړهٔ کښــې دَ احبــابو دَ نبــی ﷺ ســره
دُوی تــول پیــجـنـدے شی دَ بـدعـت نــه په نفرت سره
مینــــه لــری زړهٔ کښــې دَ نبــی ﷺ دَ شــریـعـت سره
داسے خـلق شتــه دے چې ئې مینه شتـه قرآن سره
مینـه ئې پــه زړهٔ کښې دَ رسول ﷺ وی هر بیان سره
داسے خـلق شتــه دے چې یادیږی ښهٔ عـزت سـره
مینــــه لــری زړهٔ کښــې دَ نبــی ﷺ دَ شــریـعـت سره
شتـه دے اے احـمـده ! ښهٔ ښهٔ خلق په دُنیا کښې ډیر
ذکـر دَ نبی ﷺ کوی دُنیا کښې پــه هرخوا کښې ډیر
داسے خـلق شتــه دے چ یــادیــږی لوئے نسبت سره
مینــــه لــری زړهٔ کښــې دَ نبــی ﷺ دَ شــریـعـت سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حُســن دَ دُنیــا دَ درد ے تــول دَ مـصـطـفــیٰ ﷺ ســره
داســے حُســن نشتـــه پــه دُنیا کښې دَ بـل چا سـره
هــریـو در حَسین دے پــه دُنیــا کښــی دَ طٰهٰ نبــی ﷺ
هریـو در حُسیـن دے پـه دُنیـا دَ مصطفیٰ ﷺ نبی ﷺ
هــریــو درعـــالــی دے پــه اعــلاؤ کښې اعـلیٰ سره
حُســن دَ دُنیــا دَ درد ے تــول دَ مـصـطـفــیٰ ﷺ ســره
زلفے هم ښائسته دی دَ حضرت خیر الوریٰ ﷺ زمونږ

لوئے مقام لری په کائنات کښې مجتبیٰ ﷺ زمونږ
بره له اسمانه هم راز دار دے دَ مولیٰ سره
حُسن دَ دُنیا دَ درد ے ټول دَ مصطفیٰ ﷺ سره
خوند کوی ډیر خوند هریو صفت ئې دَ دُنیا دَ در
نشته نشته دَ طٰهٰ ﷺ په شان بل یو بشر
هر کور رڼا دے دَ رسول ﷺ په نُور رڼا سره
حُسن دَ دُنیا دَ درد ے ټول دَ مصطفیٰ ﷺ سره
وائی احمد وائی عالیشان لری مقام هغه
بره ډیر اُوچت له هر اسمان لری مقام هغه
یاد عالی صفت سره هرځائے کښې دے وینا سره
حُسن دَ دُنیا دَ درد ے ټول دَ مصطفیٰ ﷺ سره

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشه راشه تابعدار دَ مصطفیٰ ﷺ شه
مه ځه کوږ په نیغه لار دَ مصطفیٰ ﷺ شه
نیغه لاره دَ نبی خیر الابرار ﷺ ده
راشه راشه په دے دار دَ مصطفیٰ ﷺ شه
دَ هر در نه دغه در ښائسته حسین دے
په دے در ښه خوشبودار دَ مصطفیٰ ﷺ شه
دَ رڼا او دَ انوارو لاره دا ده
تابعدار دَ هر ګفتار دَ مصطفیٰ ﷺ شه

شیطانان په دغه لاره باندې نهٔ ځی
بهترین په نُور انوار دَ مصطفیٰ ﷺ شهٔ
دلته هر ساعت سپړلے وی دَ جهان
بهترین په هر یو کار دَ مصطفیٰ ﷺ شهٔ
اے احمده! لاره نیغه دَنبی ﷺ ده
هر قدم باندې زار زار دَ مصطفیٰ ﷺ شهٔ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك تابع چې دَ صادق ﷺ او أمین ﷺ نهٔ دے
تابع هغه دَربُّ العٰلمین نهٔ دے
پیروی چې کوی څوك دَ شیطانانو
تابع هیڅ کله دَ طٰهٰ یٰسین ﷺ نهٔ دے
پیروی چې کوی څوك دَ مشرکانو
پیروکار دَ پاك نبی ﷺ ددې دین نهٔ دے
پیروی چې کوی څوك دَ کافرانو
دا بدتر دے هیڅ کله بهترین نهٔ دے
اتباع چې کوی څوك دَ بداخلاقو
دَ دُنیا دَدر هیڅ کله حسین نهٔ دے
اتباع چې دَنبی ﷺ نهٔ کړی څوك
اے احمده! دا محبوب دَ متین نه دے

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څــکـــه مــعـــززیـم هــریــو کـــار زهٔ دَ عـزت کـوم
څـــکــــه پیــــروی زهٔ دَ قـــراٰن او دَ ســنـــت کــوم
زهٔ پـه هریو کـار کښې پیروی دَ مـصـطفیٰ ﷺ کوم
زهٔ پــه هــرګفتار کښې پیروی دَ مـجتبیٰ ﷺ کـوم
کــارپــه دے دُنیــا کښې زهٔ دَ میـنـے محبت کـوم
څـکــه مــعـــززیـم هــریــو کـــار زهٔ دَ عـزت کوم
زهٔ پــه هریو کـار کښې رضـا غواړمه دَ پاك نبی ﷺ
زهٔ پــه هریو کـار کښې رضـا غواړمه دَ هاشمی ﷺ
کـار کښــې همیشـه زهٔ دَ نبی ﷺ ښـهٔ اطاعت کوم
څـکــه مــعـــززیـم هــریــو کـــار زهٔ دَ عـزت کوم
زهٔ غــواړمـــه دا چې مـانـه ربّ نـاراضـه نشی تـل
دیـن سره ښائستـهٔ مې وی دُنیا کښې دغه هر محفل
کـار همیشــه هـرځـائے نورانی زهٔ هرساعت کوم
څـکــه مــعـــززیـم هــریــو کـــار زهٔ دَ عـزت کوم
خـوښ مـې هریـو کار دے طریـقـه دَ خاتم الرُّسل ﷺ
خـوښ مـې هـرګـفـتـار دے طـریـقـه دَ خاتم الرُّسل ﷺ
زهٔ احـمـد هـرځـائے کښې دَ نبی مـدحـه صفت کُوم
څـکــه مــعـــززیـم هــریــو کـــار زهٔ دَ عـزت کوم

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مخ کائنات کښې دَ نبی ﷺ له هر بشر ښکلے دے
مخ دَ محبوب ﷺ دَ کائنات دَ ربّ اکبر ښکلے دے
مخ والضُّحیٰ ئې دَ دُنیا په هر صفت ښکلے دے
مخ والضُّحیٰ ئې دَ دُنیا په حقیقت ښکلے دے
قسم دے ډیر حسین صورت دَ پیغمبر ﷺ ښکلے دے
مخ کائنات کښې دَ نبی ﷺ له هر بشر ښکلے دے

په والضُّحیٰ سره ئې ذکر په قرآن کښې شوے
په نُور رڼا سره ئې ذکر په جهان کښې شوے
نورانی نور دَ لبرانو ډیر دلبر ښکلے دے
مخ کائنات کښې دَ نبی ﷺ له هر بشر ښکلے دے

ذکر ئې شوے په محفل دَ عالمانو کښې هم
ذکر ئې شوے په محفل دَ امامانو کښې هم
قسم دے دا حسین بشر له بره نمر ښکلے دے
مخ کائنات کښې دَ نبی ﷺ له هر بشر ښکلے دے

ذکر ئې شوے په ټولی کښې دَ نبیانو دے هم
خاتم یاد شوے په دُنیا دَ مُرسلانو دے هم
احمده ! ذکر ئې هر ځائے کښې په هردر ښکلے دے
مخ کائنات کښې دَ نبی ﷺ له هر بشر ښکلے دے

★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثواب شته په تعریف دَ مصطفیٰ ﷺ باندې ډیر ډیر
اجر شته په تعریف خیر الوریٰ ﷺ باندې ډیر ډیر
اجر شته په آخر کښې په توصیف دَ محمد ﷺ
قسم دے شته اجر په دے وینا باندې ډیر ډیر
اجر شته ثوابونه دَ اللّٰه په لوئے دربار
شته دې باندې عطا په دې دُنیا باندې ډیر ډیر
اجر شته ثوابونه وائی دغه عالمان
اجر په دغه کار شته په هرخوا باندې ډیر ډیر
اجر شته دے فلاح په دغې کار باندی احمده !
اجر شته دَ رسول ﷺ په اقتدا باندې ډیر ډیر

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته لـه هر سیرت نه دے سیرت دَ محمد ﷺ
ښائسته لـه هر صورت نه دے صورت دَ محمد ﷺ
ښائسته په هرګفتار سره محبوب دَ پاك اللّٰه نبی ﷺ
ښائسته په هريو کار سره محبوب دَ پاك اللّٰه نبی ﷺ
حسین لـه هر صفت نـه دے صفت دَ محمد ﷺ
ښائسته لـه هر سیرت نه دے سیرت دَ محمد ﷺ
ښائسته په انواراتو دے محبوب دَ پاك اللّٰه نبی ﷺ
ښائسته په عباداتو دے محبوب دَ پاك اللّٰه نبی ﷺ

حسین له هر عادت نه دے عادت دَ محمد ﷺ
شائسته له هر سیرت نه دے سیرت دَ محمد ﷺ
شائسته په هر ادا سره محبوب دَ پاك الله نبی ﷺ
شائسته هر یو وفا سره محبوب دَ پاك الله نبی ﷺ
شائسته له هر ساعت نه دے ساعت دَ محمد ﷺ
شائسته له هر سیرت نه دے سیرت دَ محمد ﷺ
شائسته له هر جمال نه دے جمال دَ مصطفیٰ نبی ﷺ
شائسته له هر کمال نه دے کمال دَ مصطفیٰ نبی ﷺ
احمده! ډیر حسین دے هر نسبت دَ محمد ﷺ
شائسته له هر سیرت نه دے سیرت دَ محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

صاحب دَ لوئے مقام او لوئے عزت دے محمد ﷺ
شائسته دَ کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ
صاحب دَ لوئے مقام دے لا مکان ته رسیدلے
صاحب دَ لوئے مقام دے هر اسمان ته رسیدلے
عالی دَ کائنات په هر نسبت دے محمد ﷺ
شائسته دَ کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ
صاحب دَ لوئے مقام دے داسے وائی هر بشر
صاحب دَ لوئے مقام دے داسے وائی بحر وبر
عالی په کائنات کښې هر ساعت دے محمد ﷺ

ښائسته ده کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ
صاحب دَ لوئے مقام دے داسے وائی اولیاء
صاحب دَ لوئے مقام دے داسے وائی اتقیاء
قسم دے دَ هر چا دَ در برکت دے محمد ﷺ
ښائسته ده کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ
صاحب دَ لوئے مقام دے داسے وائی مخلوقات
صاحب دَ لوئے مقام دے نُور دے نُور په ټول جهات
هر یو بشر له سپوري دَ رحمت دے محمد ﷺ
ښائسته ده کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ
صاحب دَ لوئے مقام دے وائی وائی دا پیریان
صاحب دَ لوئے مقام دے وائی وائی ټول جهان
قسم دے په رُتبه کښې ډیر اُوچت دے محمد ﷺ
ښائسته ده کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ
صاحب دَ لوئے مقام دے داسے وائی عالمان
صاحب دَ لوئے مقام دے احمد وائی دَ مردان
قسم دے مجسمه محبت دے محمد ﷺ
ښائسته ده کائنات په هر صفت دے محمد ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمونږ نبی ﷺ دے ټول مخلوق په بهترین ستائیلے
ربّ په طٰهٰ ﷺ ستائیلے ربّ په یٰسین ﷺ ستائیلے

زمونږ نبی ﷺ دے په بهترو کښي بهتر هغه دے
زمونږ نبی ﷺ دے رهبرانو کښي رهبر هغه دے
هم په لقب ئي رحمة للعٰلمين ﷺ ستائيلے
ربَ په طٰهٰ ﷺ ستائيلے ربَ په يٰسين ﷺ ستائيلے
زمونږ نبی ﷺ دے په امام دَ مُرسلانو ﷺ ياد دے
زمونږ نبی ﷺ دے په امام دَ اماما نو ﷺ ياد دے
په هر ښائسته ٔ لقب ئي دلته کښي حسين ستائيلے
ربَ په طٰهٰ ﷺ ستائيلے ربَ په يٰسين ﷺ ستائيلے
زمونږ نبی ﷺ دے مقتدا دَ هر بشر هغه دے
زمونږ نبی ﷺ دے مقتدا دَ هر افسر هغه دے
په ټول جهان کښي عربيانو په امين ﷺ ستائيلے
ربَ په طٰهٰ ﷺ ستائيلے ربَ په يٰسين ﷺ ستائيلے
زمونږ نبی ﷺ دے هم رڼا دَ هر يو در هغه دے
زمونږ نبی ﷺ دے احمد وائی نُور نظر هغه دے
مخلوق دُنيا کښي هر طرف ته خلقو په نيازبين ستائيلے
ربَ په طٰهٰ ﷺ ستائيلے ربَ په يٰسين ﷺ ستائيلے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته ٔ په ښکلی ذات دے زمونږه پيغمبر ﷺ
رحمت دَ کائنات دے زمونږه پيغمبر ﷺ
رحمت دَ هر اسمان دے تاجدار دَ مدينې ﷺ

رحـمـــت دَلامــکـــان دے سـردار دَ مـدیـنـې ﷺ
عـظـیـم پـه ټـول حالات دے زمـونـږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ کـائـنـات دے زمــونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمـــت دَ هــریـو کـور دے خــاتـم الانبیــاء ﷺ
رحـمـــت دَ هـریـو لـور دے خـــاتـم الانبیـــاء ﷺ
جـــامـع دَ کـمـالات دے زمـونـــږه پیــغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ کـائـنـات دے زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ هــریـشــر دے مـحبوب دَربَ اکبـر ﷺ
رحـمــت دَلــراوبــر دے مـحبوب دَربَ اکبـر ﷺ
حسیـن پــه عبـادات دے زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ کـائـنـات دے زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ هـر مــالدار دے خیـر الـوریٰ نبـي ﷺ
دَ سـر سـپـوري غـمخـوار دے خیـر الـوریٰ نبي ﷺ
حسیـن پـه مـعـامـلات دے زمونـږه پیـغـمبر ﷺ
رحـمــت دَ کـائـنـات دے زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ هـر غــریــب دے نُـور الـهُدیٰ نبـي ﷺ
دَ هـــریـشـــر طبیـــب دے نُــور الـهُــدیٰ نبـــي ﷺ
کــامـلـــه پـــه حـــالات دے زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمــت دَ کـائـنـات دے زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ
رحـمـــت ددې مـــردان دے رحـمـت دَ ټـول جهـان

احمده! عالیشان دے په هر چا مهربان
شائسته په ټول عادات دے زمونږه پیغمبر ﷺ
رحمت دَ کائنات دے زمونږه پیغمبر ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تا بعدار دَ محمد ﷺ شه
دُښمن هر ځائے کښي دَ بد شه
دَ شیطان په لاره مه ځه
تا بعداره دَ احدُ شه
هر سنت دَ ژوند حصه کړه
په دے ښکلے ترابد شه
دَ بدعت نه نفرت اُوکړه
لرے دَ مرتد شه
رڼا واخله دَ سنت
فکر منده دَ لحد شه
هوښیاران وائي بد مه کړه
دَ ښه کار سره بلد شه
اے احمده! وفادار شه
تل ملګرے دَ احمد ﷺ شته

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ نبی ﷺ په شان جانان

نشته نشته په جهان
نۀ شته ښکلے په صورت کښې
داسے نشته يو انسان
نۀ شته داسے په سيرت کښې
مهربانه عاليشان
هر صفت سره ممتاز دے
وائي وائي عالمان
کۀ اخلاق دَ هغۀ ګورے
ګوره ګوره دا قرآن
هر ادا ئې ده ښائسته
ګل ګلاب يا دَ ريحان
په خَوَلَۀ کښې ئې خوشبو ده
مشك عنبر دَ هر مکان
مرتبه ئې ده اُوچته
ده اُوچته له آسمان
زۀ احمد ئې مدح خوان يم
داسے وائي تول مردان

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هر چا دَ زړګي سر دے
دا زمونږه پيغمبر ﷺ دے

هر بشر ته هغه ګران دے
نُور نبی اخر زمان ﷺ دے
دَ هر در مشك وعنبر دے
دا زمونږه پیغمبر ﷺ دے
هر بشر له امام دے
رڼا نُور ماهِ تمام دے
بهترین په لرا وبر دے
دا زمونږه پیغمبر ﷺ دے
دَ هر چا دَ زړۀ سکون دے
بهترین نه په ژوندون دے
هر یو قول ئې معتبر دے
دا زمونږه پیغمبر ﷺ دے
دَ هر چا دَ سر دے سیورے
بهترین نه دے کۀ ګورے
تل محبوب دَرَبِ اکبر دے
دا زمونږه پیغمبر ﷺ دے
ملائك ئې خدمتګار دی
هر طرف ته ئې انوار دی
نُور سره ئې رڼا نمر دے
دا زمونږه پیغمبر ﷺ دے

احمد وائم پرے درود
چې بنده دے دَ معبود
په لقب باندې سحر دے
دا زمونږه پیغمبر ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَنبیانو چې امام ﷺ دے
دا نبی خیر الانام ﷺ دے
کۀ عیسیٰؑ دے کۀ آدمؑ
کۀ عرب دے کۀ عجم
دَ هر در ماهِ تمام دے
دا نبی خیر الانام ﷺ دے
هر ولی ئې تابعداره
قدرمنده عزت داره
دَ هر چا دَرسلام دے
دا نبی خیر الانام ﷺ دے
خپله رب ئې کړې صفت
راشه دا دے حقیقت
نُور زمونږ دَ دین اسلام دے
دا نبی خیر الانام ﷺ دے
اُمتی ئې زۀ احمدیم

اُمّتـــــــى دَمـــــــحـــــــمـــــــد ﷺ يـــــم

ډيــــر عــــــالــــــى ئــــي هـــــر مـــقــــــام دے

دا نبــــــــــى خيـــــــــر الانـــــــــام ﷺ دے

★★★★★★★★

تـــمـــت بـــحـــمـــد الـلّـــه تـعــالــىٰ وبـتـــوفـيــقـــه

ربــنـــا تــقـبــل مـنـــا انـك انـت الـسـمـيـع الـعـلـيـم وتـب

عـــلـيـــنـــا انك انـــت التـــوّاب الــــرحيـــم★

وصــلـــى الــلّـــه تعالىٰ على خيرخلقـه محمد

وآلــــــه واصـــحـــــابــــه واهــل بيتـــــه اجـمـعـيــن

ومـــن تبــعـهـــم بـــــا حســـــان الـــىٰ يـــوم الـديــن.

بسم الله الرحمٰن الرحيم

دريمه برخه

حمد باری تعالیٰ

ذات دَ پاك الله احد شته
لم يلد دا لم يولد شته
دا خالق مالك زمونږ دے
دا خالق دَ محمد ﷺ شته
دا خالق دَ هر بشر دے
دا خالق دَ نيك او بد شته
دا خالق دَ هر آسمان دے
دا خالق په هر بلد شته
اے احمده! يو دے يو دے
دا احد شته دا صمد شته

حمد باری تعالیٰ

لويه خدايه هر انسان دے ستا محتاجه
هر كافر او مسلمان دے ستا محتاجه
هر نبی او رسول ستا دَ در محتاج دے
هم نبی آخر زمان ﷺ دے ستا محتاجه
بادشاهان چې دلته خومره دَ جهان دی

هريو شاه دَ هر مکان دے ستا محتاجه
وزيران چې ځومره دلته په جهان دي
هر وزير دَ هريو شان دے ستا محتاجه
دا چې ځومره په دُنيا کښې دي وليان
هر ولی ددې جهان دے ستا محتاجه
دا چې ځومره په دُنيا کښې امامان دي
هر امام بنۀ قدردان دے ستا محتاجه
عزت مند خلق چې ځومره په دُنيا دي
دا مخلوق دَ هريو اَن دے ستا محتاجه
د دُنيا دَدر چې ځومره دا سخيان دي
هر سخی هر مهربان دے ستا محتاجه
د دُنيا دَدر چې ځومره عالمان دي
دَدوی دلته هر بيان دے ستا محتاجه
دا ښُکلا ددې جهان دَ هريو در
هريو ګل دَ ګلستان دے ستا محتاجه
دَ يخنی ګرمی سره هريو سپرلے هم
په بهار پسے خزان دے ستا محتاجه
هر ماشوم ددې جهان په هريو در
دَ بډها سره هر ځوان دے ستا محتاجه
فريښتے دي ستا محتاجه دَ هر در

تـول مـخـلـوق دَ پاس أسمان دے ستا محتاجـه
هـريـو څيـز دَ کـائنـات دے ستـا محتـاجـه
دا احـمـد دي مـردان دے ستـا مـحتـاجـه

حمد باری تعالیٰ

رهـنـمـا دَ هـر بشـر شتـه
هـر بشـر دَ پـاسـه سـر شتـه
ذات ئـي يـو دے پـه دُنيـا کښـي
يـو دے يـو بـه مـعتبـر دے
نـه دَ چـا دَ در مـحتـاج دے
يـو بـي نيـازه ربَ اکبـر شتـه
دَ هـريـو مـابـام خـالـق دے
يـو خـالـق دَ هـر سحـر شتـه
دَ بـادشـاه وزيـر دُنيـا کښـي
مُـرَبـی دَ هـريـو در شتـه
هـر امـام ولـی عـالـم لـه
د هـر چـا د در رهبـر شتـه
زمـکـے بـره أسـمـانـونـه
يـو مـالك دَ لـر او بـر شتـه
دَ بـاغـونـو لـويـو غـرونـو
يـو مـالك دَ سـمـنـدر شتـه

دَ ښائسته ښائسته رنګونو

جوړونکے شهٔ خبر شته

اے احمده ! هغه يو دے

مهربانه مينه ور شته

حمد باري تعالیٰ

هر ځيز ددې دُنيا په هر مکان دے يادوي

مولیٰ هريو مخلوق دَپاس اٰسمان دے يادوي

ناري دے که نُوري دے ستانه غواړي هرساعت

محتاج دے هر بشر ستا دَدُنيا په حقيقت

غريب دے دَدُنيا او هريو خان دے يادوي

مولیٰ هريو مخلوق دَپاس اٰسمان دے يادوي

ذَره ذَره دُنيا کښې هر طرف ته دَجهان

هوا کښې دغه بره الوتونکی ټول مارغان

دا ټول په هر مقام ددې جهان دے يادوي

مولیٰ هريو مخلوق دَپاس اٰسمان دے يادوي

دُنيا کښې هرطرف ته چې دی څومره مخلوقات

موجود چې په دُنيا کښې څومره دی دا موجودات

هر بوټی دَدُنيا هريو ميدان دے يادوي

مولیٰ هريو مخلوق دَپاس اٰسمان دے يادوي

مخلوق دَدرياب ونو ټول مخلوق دَسمندر

مخلوق دَ ځنګلونو ټول مخلوق دَ هريو در
په چُپه خُله دا هر ځۀ په هر اَن دے يادوي
مولىٰ هريو مخلوق دَ پاس اسمان دے يادوي
ولي دے کۀ نبي دے هريو ستا ذکر کوي
کۀ نيك دے کۀ عاصي دے هريو ستا ذکر کوي
احمد علي دُنيا کښې په مردان دے يادوي
مولىٰ هريو مخلوق دَ پاس اسمان دے يادوي

حمد باري تعالىٰ

لويه خدايه هر بشر دے ستا بنده
هر رسول او پيغمبر دے ستا بنده
کۀ ولي دے کۀ عالم ددې جهان دے
صحابي دَ هريو در دے ستا بنده
دَ غريب سره مالدار هريو بشر
دَ دُنيا هريو افسر دے ستا بنده
وزيران او بادشاهان ددې جهان
هريو فرد دَ بحر وبر دے ستا بنده
دا چې څومره په دُنيا کښې امامان دي
هر امام دَ لر او بر دے ستا بنده
کۀ ظالم دے کۀ مظلوم ددې جهان دے
هر سخي دَ مال وزر دے ستا بنده

هر صادقه وفاداره ستا بنده دے
هر کاذبه هر بدتر دے ستا بنده
هر کافر سرے هم ستا ددر محتاج دے
هر يو فرد دَهر لښکر دے ستا بنده
ملائکه بنديګان دي ستا د در
هر يو جن پټ دَنظر دے ستا بنده
دا احمد علی دُنيا کښې هر ساعت
په هر ځائے کښې په هر ور دے ستا بنده

حمد باري تعالیٰ

پيدا کړے هر بشر تا لويه خدايه
هر غريب سره افسر تا لويه خدايه
أسمانونه عرش کرسی لوح وقلم
پيدا کړے هر يو در تا لويه خدايه
جنتونه هر دوزخ تا پيدا کړے
هر نعمت هر يو ګوهر تا لويه خدايه
ملائك دے دجهان ټول پيدا کړي
پيريان ټول پټ دَنظر تا لويه خدايه
دريابونه ونی بوټی دَ جهان
دَ دُنيا هر سمندر تا لويه خدايه
دانبيان وليان دي ټول تا پيدا کړي

هر امام دَ بحر و بر تا الويه خدايه
کتابونه دا تهول تا دي نازل کړي
پيدا کړے پاس قمر تا الويه خدايه
ستوري تهول تا پيدا کړي دَ آسمان دي
منوَره بره نمر تا الويه خدايه
ورځے شپے دَ جهان تا دي پيد کړي
پيدا کړے هر سحر تا الويه خدايه
مشك عنبر دے دَ جهان تا پيدا کړي
هريو ګل کړه معطر تا الويه خدايه
دا احمد تا پيدا کړے په مردان کښي
پيدا کړے لر او بر تا الويه خدايه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زار درنه شم زار نبي ﷺ، ګرانه عاليشانه
ګرانه ګرانه ګرانه، زار شمه لتانه
نُور دَ تهول جهان ئې تهٔ
نُور دَ هر آسمان ئې تهٔ
نُور دَ لامکان ئې تهٔ
نُورئې نوراني نبي ﷺ، ګرانه قدردانه
زار درنه شم زار نبي ﷺ، ګرانه عاليشانه
ستا هريو قدم اُوچت

ستا په نُور حرم اُوچت
هم عرب عجم اُوچت
لوئے مقام دے ستا نبی ﷺ، پاس له هر آسمانه
زار درنه شم زار نبی ﷺ، ګرانه عالیشانه
ستا ده هر ادا ښکلے
ستا ده حق وینا ښکلے
دا ده په هر خوا ښکلے
نشته نشته دغه شان ، اے نبی سلطانه ﷺ
زار درنه شم زار نبی ﷺ، ګرانه عالیشانه
ستا هر یو صفت اُوچت
نُور دَ هدایت اُوچت
نُور دَ شریعت اُوچت
سپین ښکلے صورت لرے ، ښکلے مهربانه ﷺ
زار درنه شم زار نبی ﷺ، ګرانه عالیشانه
حُسن دَ دُنیا ئي تۀ
ښکلے په هر خوائي تۀ
ښکلے مقتدائي تۀ
ښکلے ئي محبوب نبی ﷺ، دوست دَ پاك سبحانه
زار درنه شم زار نبی ﷺ، ګرانه عالیشانه
تۀ دَ مخلوقات ئي خوښ

تــــــۀ دَ مـــوجـــودات ئـــي خـــوښ
ذات او پـــــه صـــفـــات ئـــي خـــوښ
تــۀ مـحبـوب زمـائـي هـم، ګرانـه پـه مـا ګرانـه
زار درنـــه شـم زار نبـی ﷺ، ګـرانـه عـاليشـانـه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ميـــاشــــت ده ښــائسـتـــۀ ښــــۀ قـدرانــــه
پـــه کښـــي پيـــدا چـــي مـــحـــمـــد ﷺ دے
ده عــــزتــــمــــنــــده ښـــــۀ عـــاليشـــانـــه
پـــه کښـــي پيـــدا چـــي مـــحـــمـــد ﷺ دے
دغـــــه سپـــــرلـــــے دَ هـــــريـــــو دار دے
دغـــــه سپـــرلـــے دَ هـــرګـــلــــزار دے
دغـــــه ښـــائســـــت دَ هــــرديــــار دے
ميـــاشـــت ده دا ښـــکـــلـــے اے مســلــمـــانـــه!
ميـــاشــــت ده ښــائسـتـــۀ ښــــۀ قـدرانــــه
پـــه کښـــي پيـــدا چـــي مـــحـــمـــد ﷺ دے
ده عــــزتــــمــــنــــده عـــــاليشـــــانـــــه
پـــه کښـــي پيـــدا چـــي مـــحـــمـــد ﷺ دے
دغـــــه سپـــــرمے دَ بـــحـــرويـــر دے
پـــه هـــرصـــفـــت ښـــۀ مـعـطّـــر دے
لـــکـــه خـــوشبـــو کښـــي مشك وعـــنبـــر دے

راشه خبر شۀ اے انسانه!
میاشت ده بنائسته بنۀ قدرانه
په کښې پیدا چې محمد ﷺ دے
ده عزتمنده بنۀ عالیشانه
په کښې پیدا چې محمد ﷺ دے
دغه سپرلے هم دَ مکې دے
دغه سپرلے د مدینې دے
ددې جهان دَ هر حصې دے
ځان کړه خبر ترینه اے ځوانه!
میاشت ده بنائسته بنۀ قدرانه
په کښې پیدا چې محمد ﷺ دے
ده عزتمنده بنۀ عالیشانه
په کښې پیدا چې محمد ﷺ دے
دغه سپرے دَ هر قلم دے
اثر اغستے ترے عالم دے
هغه عرب دے که عجم دے
احمد خبره کړه آسانه
میاشت ده بنائسته بنۀ قدرانه
په کښې پیدا چې محمد ﷺ دے
ده عزتمنده بنۀ عالیشانه

پـــه کښـــې پيـــدا چـــې مـــحـــمـــد ﷺ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اول هـــر ځـــائـــے کښـــې ذکـــر دَ الـلّـــه مـــزه کـــوی
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ مـــزه کـــوی
قـــرآن کښـــې اول ذکـــر دَ الـلّـــه راغـلـــے دے
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ راغلـــے دے
دا ذکـــر پـــه هـــر ځـــائـــے کښـې پـــه هـرخوا مزه کـوی
اول هـــر ځـــائـــے کښـــې ذکـــر دَ الـلّـــه مـــزه کـــوی
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ مـــزه کـــوی
کـلـمـه کښـې ذکـر شـتـه دے دَ اللّـه غـنـی سبحان
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دے دَ نبيـــانـو دَ سـلـطـان ﷺ
هر ځـائـے کښـې هـر سـاعـت دغـه بيـا بيـا مزه کوی
اول هـــر ځـــائـــے کښـــې ذکـــر دَ الـلّـــه مـــزه کـــوی
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ مـــزه کـــوی
پـه مـونـځ کښـې اول ذکـر دَ اللّـه غـنـی غـفـار دے
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دَ مـحـمـد خيـر الابـرار ﷺ دے
قـســم دے دغــه ذکــر دَ طـــٰه ﷺ مـــزه کـــوی
اول هـــر ځـــائـــے کښـــې ذکـــر دَ الـلّـــه مـــزه کـــوی
بيـــا ذکـــر وروسـتـــه دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ مـــزه کـــوی
أذان کښـــې اول ذکـــر دَ الـلّـــه ربُّ الـعـــزت دے

بیا ذکر ورپسې دَ محمد ﷺ دَ رسالت دے
احمده! ذکر دغه زما ستا مزه کوی
اول هر ځائې کښې ذکر دَ اللّٰه مزه کوی
بیا ذکر ورپسې دَ مصطفیٰ ﷺ مزه کوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ذکر دَ پاك اللّٰه ربُّ العزت مزه کوی
بیا ذکر دَ رسول ﷺ دَ رسالت مزه کوی
دَ زړۀ علاج دے دغه په دُنیا کښې دَ بیمار
دَ زړۀ سکون دے دغه په دُنیا کښې دَ ابرار
قسم دے دغه ذکر هر ساعت مزه کوی
ذکر دَ پاك اللّٰه ربُّ العزت مزه کوی
بیا ذکر دَ رسول ﷺ دَ رسالت مزه کوی
دَ زړۀ زنګ هم په دے سره ختمیږي دَ جهان
دَ زړۀ زنګ هم په دے سره ختمیږي دَ انسان
قسم دے په دُنیا دا عبادت مزه کوی
ذکر دَ پاك اللّٰه ربُّ العزت مزه کوی
بیا ذکر دَ رسول ﷺ دَ رسالت مزه کوی
قسم دے دا دواده هم غذا دَ هر بشر
قسم دے دا رحمت دے په دُنیا کښې دَ هر در
قسم دے دَ دُنیا دغه نعمت مزه کوی

ذکـــر دَ پـــاك الـلـٰــــه ربُّ الـعــزت مــزه کـوی
بیـــا ذکـــر دَ رســول ﷺ دَ رســـالـــت مـزه کـوی
نیـکـــان پـــه دې ســره دی مـعـطَـره پــه هــر در
نیـکـــان پـــه دې ســره دی مـنـوَر پـــه هــر در
قســـم دے دَ دُنیـــا دغــــه دولـــت مــزه کـــوی
ذکـــر دَ پـــاك الـلـٰــــه ربُّ الـعــزت مــزه کـوی
بیـــا ذکـــر دَ رســول ﷺ دَ رســـالـــت مـزه کـوی
ښـائسـتــهٔ پـــه دغــي ذکــر ددُنیـا دی ټول کسـان
احـمـد عـلـی ! ښـائسـتـهٔ دے په دې ذکر ټول مـردان
ذکـــر دغـــه پـــه مـیـنـــه مـحبـت مـزه کـوی
ذکـــر دَ پـــاك الـلـٰــــه ربُّ الـعــزت مــزه کـوی
بیـــا ذکـــر دَ رســول ﷺ دَ رســـالـــت مـزه کـوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ذکــر پـــه کـــائـنـات کښــې دَ رحـمـان مـزه کوی
بیـــا ذکـــر دَ نبـــی اٰخـــرزمـــان ﷺ مــزه کــوی
قـــراٰن دَ پـــاك الـلـٰــــه پـــه دے خبــره دے ګـواه
جهـــان دَ پـــاك الـلـٰــــه پـــه دے خبــره دے ګـواه
حَسِیـن پــه هــر صـفـت دغـــه بیـــان مـزه کوی
ذکــر پـــه کـــائـنـات کښــې دَ رحـمـان مـزه کوی
بیـــا ذکـــر دَ نبـــی اٰخـــرزمـــان ﷺ مــزه کــوی

هــر څيــز دَ کــائـنــات ددې خبـرې کــړې اقــرار
هــر څيــز دَ کُــل جهــات ددې خبـرې کـړې اقـرار
پـــه ژبـــه دَ مـــخـلـوق دغـــه اعـلان مــزه کــوی
ذکــر پــه کــائـنــات کنبـــې دَ رحـمـان مـزه کوی
بيــا ذکـــر دَ نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ مـــزه کــوی
ګــواه پــه دے خبره هم جبرئيـلؑ او ميـکـائيـلؑ دے
ګــواه پـــه دے خبــره اســرافيـلؑ اوعــزرائيـلؑ دے
مـحبوب دَ ټـول جهــان دَ پـاك سبحـان مزه کوی
ذکــر پــه کــائـنــات کنبـــې دَ رحـمـان مـزه کوی
بيــا ذکـــر دَ نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ مـــزه کــوی
احـمـد عـلـــی ! اقـرار ددې خبـرے کـړے تـا دے
اقـــرار ددې خبــرے هــر چــا کــړے پــه دُنيـا دے
نبيــانـو کنبـې دَ دوجهــان سـلـطـان ﷺ مزه کوی
ذکــر پــه کــائـنــات کنبـــې دَ رحـمـان مـزه کوی
بيــا ذکـــر دَ نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ مـــزه کــوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لـويــه خـدايــه دا ژوندون زمـا ښـائسـتـۀ کـړے
نــورانـــی ئـې دَ نبـــی ﷺ پـــه طــريـقــه کـړے
بهتــريــن ئــې دَ نبـــی ﷺ پـــه هــر ادا کـــړے
عـــزت مـنـد ئـې دَ دُنيــا پـــه هـرحصـه کـړے

هر ویـنا کښې مې تابع دَ محمد ﷺ کړې
په سنت سره ښائسته مې ګلدسته کړې
دَ نبی ﷺ په نُور رڼا مې نُور رڼا کړې
رڼا بلـه مې دَ شپې یوه ډیوه کړې
هر ادا دَ پاك رسول ﷺ زما نصیب کړې
بهترین مې دَ نبی ﷺ په تذکره کړې
دَ احمد علی وینا دغه دُعا ده
دا قبوله اے مولیٰ په هر حصه کړې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ملګرتیا په دے دُنیا کوه دَ حق
تل وینا په دے دُنیا کوه دَ حق
تل سنت دَ محمد ﷺ دَ لارے مل کړه
اقتدا په دے دُنیا کوه دَ حق
ګنده کار چې دَ جهان په در اُنکړے
کار صفا په دے دُنیا کوه دَ حق
دَ ابلیس لعین سره وفا ونکړے
تل وفا کوه په دے دُنیا کوه دَ حق
اے احمده! حق ښکاره کړه په هر در
کار هم دا په دے دُنیا کوه دَ حق

★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـــــه راشـــــه اقتــدا اُکــــړه دَ حـــق
پـــه دُنیـــا کښـــې مـلـګــرتیـــا اُکـــړه دَحـق
حــق نبـــی ﷺ دے حــق ئـې کــار دے دَ جهـــان
کـــار دُنیـــا کښـــې دلتـــه دا اُکـــړه دَ حـق
حـق نبـی ﷺ دے حق هر قـول دَ پـاك نبـی ﷺ دے
راشـــــه راشـــــه حـــق ویـــنـــا اُکـــړه دَ حـــق
حـــق نبـــی ﷺ دے دیـن ئـې حـق دے دَ جهـــان
بــــې وفــــا نشــــے وفـــــا اُکـــــړه دَ حــــق
حـــق قـــراٰن دے حـــق سـنـت دَ مـحـمـد ﷺ دے
اقتــــدا دې رښـــــا اُکــــــړه دَ حـــــق
اے احـمـده ! حـق چـې پـرے نـۀ دے هیـڅ کـلـه
مــلــګـــرتیـــا دلتـــه هـــرخـــوا اُکـــړه دَ حـق

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـصیـب چـې شـی دچـا دلتـه مـزے دَ مدینـې
یــادیــږی تـل هـغــه تــه ورځـے شپـے دَ مدینـې
نـصیـب چـې شـی دَ چـا دلتـه مسکن دغـه حسین
نـصیـب چـې شـی دَ چـا دلتـه چمن دغـه حسیـن
هیــریــږی نــۀ هیـڅ کـلــه تـذکـرے دَ مدینـې
یــادیــږی تـل هـغــه تــه ورځـے شپـے دَ مدینـې

نصيب چې شي دَ چا دلته ديدن دَ مصطفىٰ ﷺ
نصيب چې شي دَ چا دلته چمن دَ مصطفىٰ ﷺ
هيرېږي کله دغه نظارے دَ مدينې
ياديږي تل هغه ته ورځے شپے دَ مدينې
نصيب چې شي دَ چا دلته خوشبو د دغې در
قسم دے نُوراني به وي دُنيا کښې معطّر
دَ نُور نه تهولے ډکے دي کوځے دَ مدينې
ياديږي تل هغه ته ورځے شپے دَ مدينې
نصيب چې شي دَ چا دلته رنا دَ دغې در
احمد وائي دُنيا کښې په دُنيا دے بختور
ښائسته ښکلے دي تهولے منارے دَ مدينې
ياديږي تل هغه ته ورځے شپے دَ مدينې

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دَ سنت په رنګ کښې رنګ شهٔ
هر باطل سره په جنګ شهٔ
دَ شيطان سره کينه کړه
دَ مولىٰ دَ در ملنګ شهٔ
دَ ظالم نهٔ لرے اُوسه
دَ مظلوم سره په خنګ شهٔ
دَ نيکي په کار کښې مست شهٔ

لکه بوتی مست دَ بنګ شۀ
دَ رسول ﷺ په دین مئین شۀ
حیا داره دَ پالنګ شۀ
هر بدعت کار دے عبث
لرے لرے ددې سنګ شۀ
دَ سنت نُور کښې غوټه شۀ
مرتبه کښې راشه دنګ شۀ
اے احمده ! نُور دا نور دے
لائق راشۀ دَ هر ننګ شۀ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې په لاره څوك دَ سيد الوریٰ ﷺ شی
قدر منده به هغه دَ دې دُنیا شی
عزت منده د دُنیا به په هر در شی
چې نصیب ئې دَ رسول ﷺ د دررنا شی
هريو غم به ددۀ لرے دَ جهان شی
نُورانی چې څوك په نُور دَ مصطفیٰ ﷺ شی
خوشبودار به په جهان کښې تمام ګرځی
معطره چې په ذکر دَ طٰهٰ ﷺ شی
دَ دُنیا فکر به لرے ئې دَ زړۀ شی
فکرمند چې په دُنیا کښې دَ عقبیٰ شی

دَ عقبیٰ فکر دے ښۀ تا لـه احمده !
دا فانی دُنیا ده یوورځ به فنا شی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور سنت دے په هر کُور کښې
رڼا ګانې دی په ګور کښې
دَ جهان دَ در عطر دی
مشك عنبر دی په هر لور کښې
دا ښُکلا دَ هر بشر ده
پکاریږی هر پیغور کښې
دَ عزت دَ سر دا تاج دے
دا قوَت دے په هر زور کښې
اے احمده ! دا ممتاز دے
په اطراف دا خلور کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر سنت ښُکلا جمال دے
هر سنت دَ بشر ډهال دے
هر سنت کښې تل عزت دے
نُور دَ حال او استقبال دے
کامیابی دَ هر بشر ده
په دي نُور ښائسته بلالؓ دے

دا ګلونه دَ چمن دي
دا يو نُور دَ اعتدال دے
دا رڼا يوه ډيوه ده
کۀ ماضي دے او کۀ حال دے
هر ساعت په دې کښې نُور دے
نُور دُنيا کښې لا مثال دے
واخله واخله دا احمده!
قيمتي له هر يو مال دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په سنت مې بدن رنګ دے
دَ باطل سره په جنګ دے
هر بدعت نه کړې نفرت
هر يو نيك سره په څنګ دے
دَ شيطان نۀ ئې نفرت دے
ورله کانړو کښې يو سنګ دے
په رسول الله ﷺ مئين دے
ددې درځکه ملنګ دے
په اسلام باندې مئين دے
دَ اسلام دَ درپتنګ دے
په سنت دے خوشبوداره

دا قابل څکه دَ ننګ دے
اے احمده! په سنت دا
عزت مند دے څکه دنګ دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ سنت بدله ثواب دے
بهترینه په هر باب دے
هر یو خیز په دے ښائسته دے
کۀ آفتاب دے کۀ مهتاب دے
دَ ګلونو دا ښکلا ده
کۀ ریحان دے کۀ ګلاب دے
دا خوشبو دَ ټول جهان ده
دا یو ډهال دَ هر عذاب دے
دا سکون دَ هر یو کور دے
دا دَ هر یو سوال جواب دے
دا یو لعل ددي جهان دے
هغه لعل دے چي نایاب دے
دا دے تاج دَ هر عزت
ډیر زیات ښکلے بي حساب دے
اے احمده! نور دے نور دے
دا بیان دَ هر کتاب دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ هغه محمود دے
تمول خلقو ته مقصود دے
په دُنیا کښې مدینه کښې
نوراني ئې تمول وُجود دے
دَ شیطان دے لوئې دُښمن
په لقب سره مسعود دے
دَ برکت هر ځائے سبب دے
په کُوم ځائے کښې چې موجود دے
دَ بدعت نهٔ ئې نفرت دے
لرے هر ځائے دَ مردود دے
هر سلام په مینه اخلی
ذکر شوے په درود دے
اے احمده ! خوښ دَ خلقو
خوښ په خپله دَ معبود دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې محبوب دَ دوجهان دے یار زما دے
دا محبوب دَ پاك سبحان دے یار زما دے
چې محبوب دَ ملائکو دَ آسمان دے
دا عالی دے عالیشان دے یار زما دے

چې امام ﷺ دَ مُرسلانو په دُنیا دے
دا نبی اٰخرزمان ﷺ دے یارزما دے
چې رحمت دَ هر بشر دَ هر یو کُور دے
دَ سر سپوري مهربان دے یارزما دے
چې شافع دے دَ محشر په لوئے میدان
دا ښائسته حسین انسان دے یار زما دے
چې ساقی دے دَ کوثر هغه احمده !
حق ئې حق چې تول بیان دے یارزما دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ دَ محبوبانو دے محبوب
دا سے نشته په دُنیا کښې بل مطلوب
هر صفت ئې په دُنیا کښې عالیشان دے
بهترین دے دَ دُنیا په هر اُسلوب
په رحمت دَ دوجهان سره هغه یادیږی
هر صفت ئې په دُنیا کښې خُوب دے خُوب
اولین او اخرین ددې جهان دے
په سکون سره یادشوے دَ قُلُوب
اے احمده ! هر صفت سره ښائسته دے
صبرناك دے هم شاکر لکه ایُوب

★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
شائسته ښکلے فقرے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترینه قربان ددې جهان زما بدن
قربان ترینه قربان په دې دُنیا هریو چمن
قربان دَ نُور جلوے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترینه قربان ټول آسمانونه دَ جهان
قربان ترینه قربان دا ټول ګلونه دَ جهان
قربان دَ هر نعرے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترینه قربان زما یاران دَ ټول جهان
قربان ترینه قربان دغه یاقوت دغه مرجان
قربان دَ مسئلے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
بُنیاد دَ هر بُنیاد دے په دُنیا دَ هریو در
علاج دَ هر فساد دے په دُنیا دَ هریو در
قربان هر یو جملے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
یو سل پرے آیاتونه دَ قرآن دی ټول شاهد

دوه سوه حدیثونه دَ جهان دی تول شاهد
خبر یمه له دے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت
احمد علی ! قربان ترے په دُنیا کښې په هر در
قربان ترینه قربان شه دَ دُنیا هر یو سحر
قربان دَ نُور جلوے نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان دَ عقیدے نه زۀ دَ ختم نبوت

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نعره دَ نُور او دَ عظمت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دَ نُور او دَ جمال ده
نعره دَ حال او استقبال ده
رڼا هر ځائے دَ هدایت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دَ هر یو امَتی ده
دا د هر څۀ نه قیمتی ده
وینا هم دا دَ شریعت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره ده دا دَ صالحانو
دَ لویو لویو عالمانو

نعره قسم دے دَ عزت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره زمونږ دَ هر امام ده
دا دَ خوَاصو او عوام ده
نعره هر ځائے دَ صداقت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دَ هريو صحابیؓ ده
دَ عجمی او عربی ده
نعره په جمع دَ امت ده
نعره دَ ختم نبوت ده
نعره دا دلته دَ احمد ده
نعره زمونږه دَ ابد ده
نعره دا دلته هر ساعت ده
نعره دَ ختم نبوت ده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان دَ هر يان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان زۀ دَ لوئي شان نه زۀ دَ ختم نبوت
قربان ترينه قربان دی آسمانونه دَ جهان
قربان ترينه قرآن دی چمنونه دَ جهان
قربان دَ حق اعلان نۀ زۀ دَ ختم نبوت

قربان زهٔ دَلوئي شان نه زهٔ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان دی علماء ددې جهان

قربان ترینه قربان دی اولیاء ددې جهان

قربان دَ نُور عرفان نه زهٔ دَ ختم نبوت

قربان زهٔ دَلوئي شان نه زهٔ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان دے هریو حُسن دَ هردر

قربان ترینه قربان دے هریو حُسن دَ بشر

قربان دَ حق نشان نه زهٔ دَ ختم نبوت

قربان زهٔ دَلوئي شان نه زهٔ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان دی ټول اصحابؓ دَ محمد ﷺ

قربان ترینه قربان دی ټول احباب دَ محمد ﷺ

قربان هر مهربان نهٔ زهٔ دَ ختم نبوت

قربان زهٔ دَلوئي شان نه زهٔ دَ ختم نبوت

قربان ترینه قربان شهٔ د قلم دغه بیان

احمد علی ! قربان شهٔ ترینه هرځائے هر مکان

قربان دَ ربّ احسان نهٔ زهٔ دَ ختم نبوت

قربان زهٔ دَلوئي شان نه زهٔ دَ ختم نبوت

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په مونږه ګران دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ وطن دے

ځکه چې داګُور کلے دَ پاك نبی ﷺ چمن دے

دا دے چمن دَ پاک رسول ﷺ
دا دے مسکن دَ پاک رسول ﷺ
دا دے مدفن دَ پاک رسول ﷺ
علاج دُنیا کښې دَ هر روح دَ هر یو تن دے
څکه چې دا کُور کلے دَ پاک نبی ﷺ چمن دے
دلته اصحابؓ دَ محمد ﷺ شته
رڼا کتاب دَ محمد ﷺ شته
ښکلی احبابؓ دَ محمد ﷺ شته
کُور کلے دغه دَ حُسینؓ او دَ حَسنؓ دے
څکه چې دا کُور کلے دَ پاک نبی ﷺ چمن دے
دلته انوار دَ مصطفیٰ ﷺ دی
انوار خوارۀ دلته هر خوا دی
ځیزونه تول دلته رڼا دی
ښار دے دا ښار دَ هر شیطان نه په اَمن دے
څکه چې دا کُور کلے دَ پاک نبی ﷺ چمن دے
دلته جنت دَ مصطفیٰ ﷺ شته
عالی نسبت دَ مصطفیٰ ﷺ شته
عالی رحمت دَ مصطفیٰ ﷺ شته
قدرمند هر ځائے دَ رسول ﷺ په پاک لمن دے
څکه چې دا کُور کلے دَ پاک نبی ﷺ چمن دے

مـــدیـــنــــه ښـــکـــلـــې ئـــې ګـــفـتـــار دے
ذکـــــر ئـــــې ښـــکـــلـــې مـــزیـــدار دے
احــــمـــــده ! ذکـــــر دَ بهـــــــــار دے
ښـکلـې هرځائـې دَ پاك رسول ﷺ په پاك بدن دے
څـکـه چـې داګُـور کـلـے دَ پـاك نبـی ﷺ چمن دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زلـفـې تـورے تورے مصطفیٰ ﷺ درسره خوند کوی
تـورے تـورے زلـفـې پـه هـر خـوا درسره خوندکوی
ښـکلی دی ښائسته دی خورم قسم په تول جهان کښې دا
ښـکـلـی دی ښـائستـه دی په مکان او لامکان کښې دا
دغــه تـورے زلـفـې پــه دُنیـا درسره خـونـد کـوی
زلـفـې تـورے تورے مصطفیٰ ﷺ درسره خوند کوی
ښـکـلـی پـه رکوع کښې دا دی ښکلی په قیام کښې دا
ښـکـلـی دی دا ښـکـلـی د دُنیا پـه هـر مقام کښې دا
مـخ بـانـدے خورے بدرالدجیٰ ﷺ درسره خوند کوی
زلـفـې تـورے تورے مصطفیٰ ﷺ درسره خوند کوی
یـا دے پـه هرلـور بـانـدې دی یادې هرآسمان کښې دا
دغــه شـان هـم یـادې دی دَ پاك اللّٰـه قـرآن کښې دا
زلـفـې خـوشبـودارے مـجتبـیٰ ﷺ درسره خوند کوی
زلـفـې تـورے تورے مصطفیٰ ﷺ درسره خوند کوی

يادے دا احمد کړے په اشعارو کښې مردان کښې نن
ذکر ئې دے شوے دَ دُنيا په هر مکان کښې نن
زلفے حُسندارے ښهٔ اعلىٰ درسره خوند کوى
زلفے تورے مصطفىٰ ﷺ درسره خوند کوى

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دَ زړهٔ سکون دَ زړهٔ قرار
زما دے سيَدالابرار ﷺ
سکون راحت دَ هر بشر
سکون راحت دَ هر يو در
سکون دُنيا کښې دَ هر ښار
زما دے سيَدالابرار ﷺ
سکون دُنيا کښې ښهٔ تمام
دُنيا کښې نُور عالى مقام
سکون دَ هر محفل دربار
زما دے سيَدالابرار ﷺ
سکون دُنيا کښې دَ غريب
دَ هر يو دردلته طبيب
دَ هر بشر دلته غمخوار ﷺ
زما دے سيَدالابرار ﷺ
سکون دَ ټولو عاشقانو

سکون دَ ټول عالمانو
دوست دَ مولیٰ غني غفار
زما دے سیَدالابرار ﷺ
دَ هر کوخے لارے رڼا هم
دَ هر کوخے لارے ښُکلا هم
رهبر دُنیا کښي دَ هر لار
زما دے سیَدالابرار ﷺ
سکون احمده! دَ نیکانو
امام ﷺ دُنیا کښي دَ نبیانو
په وجود ټول دے خوشبودار
زما دے سیَدالابرار ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنیا کښي پاك رسوله! ﷺ عاشقان دے یادوي
هر ځائے کښي هرساعت په هر مکان دے یادوي
هر ځائے کښي هرساعت کوی ستا ذکر عاشقان
هر ځائے کښي هرساعت کوی ستا ذکر امتیان
په مینه محبت هر مسلمان دے یادوي
هر ځائے کښي هرساعت په هر مکان دے یادوي
هر ځائے کښي هر ساعت کوی ستا ذکر اولیاء
هر ځائے کښي هر ساعت کو ی ستا ذکر علماء

دیــنــداره پـــه دُنیــا کښــې تــول کسـان دے یــادوی
هر ځائے کښې هرساعت پـه هر مکان دے یادوی
صـــادق ســـره دُنیــا کښــې یــادوی دے تـول عـرب
عـــرب دے یـــادوی پـــه بهتـریـن عـالـی نسـب
پـــه دے وصف ســـره تـول عـجـمیـان دے یـــادوی
هر ځائے کښې هرساعت پـه هر مکان دے یادوی
امیـــن دے یـــادوی دَ دې دُنیـــا تـــول عـــربیـــان
حسیـــن دے یـــادوی ددې دُنیـــا تـــول عـــربیـــان
لـــقـــب ســـره تـــول خـــلـق عـــالیشـــان دے یـــادوی
هر ځائے کښې هرساعت پـه هر مکان دے یادوی
خـــاتـم دے یـــادوی تـــول پـــه لـقـب دَ مـرسلانـو
خـــاتـم دے یـــادوی پـــه دے دُنیـــا کښـــې دَ نبیـــانـو
شـــاهـــان دزمـــانـــے ددې جـهـــان دے یـــادوی
هر ځائے کښې هرساعت پـه هر مکان دے یادوی
نیـازیـن دے یـادوی تـول مـخـلـوقـات دَ پـاك اللّـه
هرځائے کښې هرساعت تول موجودات دَ پاك اللّه
عـــالـی ئـې پــه صـفت څـکـه سلطان دے یادوی
هر ځائے کښې هرساعت پـه هر مکان دے یادوی
مـحبـوب دے یـادوی دَ مـخـلـوقـاتـو دا مـخـلـوق
مـطـلـوب دے یـادوی دَ مـخلوقـاتـو دا مـخلـوق

رحمت دَ هر یو کور دَ هر انسان دے یادوی
هر ځائے کښې هر ساعت په هر مکان دے یادوی
خوشبو دے یادوی په دے دُنیا کښې هر بشر
دُنیا کښې در ته وائی دَ دُنیا دَ در سحر
احمد وائی ټول خلق په مردان دے یادوی
هر ځائے کښې هر ساعت په هر مکان دے یادوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ نبی ﷺ ښکلے روضه، دَ انوارو ده چینه
مدینه ده مدینه، په کښې شته دے سکینه
دلته هر ځائے دے رحمت
دا دے ځائے دَ محبت
دا دے کور دَ برکت
په دُنیا کښې دے یو لعل، دَ ګتمے ده نګینه
مدینه ده مدینه، په کښې شته دے سکینه
دا دے کور دَ پاک نبی ﷺ
دَ عثمانؓ اؤ دَ علیؓ
دَ دُنیا دَ هر ولی
دَ نفاق ګند نه صفا، دا صفا ده آئینه
مدینه ده مدینه، په کښې شته دے سکینه
دَ وفا دا دے دغه کور

دَ حيـــــــــادے دغــــــــــــه کُـــــور
دَ رڼـــــــــادے دغــــــــــــه کُـــــور
دَ ګـلـونـو بـــاغيـچــه ، ګـلـدستـه ده حسينـه
مـديـنـه ده مـديـنـه ، پـه کښـي شتـه دے سکـيـنـه
هــــم ئـــــي ښـــکـــلـــے هـــــر دريـــــار
هــــم ئـــــي ښـــکـــلـــے هـــــر ګـــلـــزار
اے احــــــمـــــده ! هـــــــر ګـــــفـتـــــار
دا ده ښـــکـــلـــے مـــديـنـــه ، مـعـطّـره مـديـنـــه
مـديـنـه ده مـديـنـه ، پـه کښـي شتـه دے سکـيـنـه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مبــارك دے دَ نبـــي ﷺ ښــائستــۀ قدم دَ مـديـنـي
خـورم قسـم چـي ډيـر دے ښـکـلـے پاك حرم دَ مدينـي
ډيـر دے ښـکـلـے ډيـر دے ښـکـلـے په دُنيا کښـي دغـه در
ډيـر دے ښـکـلـے ډيـر دے ښـکـلـے په رڼا کښـي دغـه در
لــرے شـو دَ نـفــاق دے تـول تـورتـم دَ مـديـنـے
خـورم قسـم چـي ډيـر دے ښـکـلـے پاك حرم دَ مدينـي
مبـــارك دے دغــــه دردا پـــه نبـي آخـرزمـان ﷺ
مبـــارك دے دغــــه دردا دے دُنيـــا کښـي عـالـيشـان
هـر يـو در دے عــالـيشــان ښــۀ مـحـتـرم دَ مـديـنـي
خـورم قسـم چـي ډيـر دے ښـکـلـے پاك حرم دَ مدينـي

ښکلی ښکلی په کښې اُوسی تول اصحاب رضی الله عنهم دَ محمد ﷺ
ښکلی ښکلی په کښې اُوسی تول احباب دَ محمد ﷺ
دَ عظمت اقرار دے کړے تول عجم دَ مدینې
خورم قسم چې ډیر دے ښکلے پاك حرم دَ مدینې
هریو درئې دَ دُنیا دَ در چمن دے عالیشان
احمد وائی وائی حقیقت دے دا بیان
ذکر کړے لوئې مقام هریو قلم دَ مدینې
خورم قسم چې ډیر دے ښکلے پاك حرم دَ مدینې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې وی عاشق دَ نبی ﷺ ښۀ او خراب پیژنی
هغه په دنیا کښې هریو کار دَ ثواب پیژنی
هغه په دُنیا کښې له بدعت نه تل نفرت کوی
هر ځائے هر محفل کښې هغه غنې ګلاب پیژنی
لرے دَ بدعت نه وی سنت سره کوی مینه
هر ځائے هر شیطان دَ پاره دلته جواب پیژنی
آل سره ئې مینه وی دَ پاك رسول الله ﷺ دَ در
پیژنی ښۀ پیژنی مقام دَ اصحاب رضی الله عنه پیژنی
هغه حدیث پیژنی ښۀ مینه ورسره کوی
ډك دَ هر حکمت نه هغه ښکلے کتاب پیژنی
پیژنی هم پیژنی میزان هغه احمده ! نن

دا رنګ دَ محشر په میدان هغه حساب پیژنی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سپین مخ دَ مصطفیٰ ﷺ دے ، رڼا دے نُور رڼا دے
قمر دوُی په وجه ، خندا دے په خندا دے

باعث دَ هر یو در دے ، هم سیّدالبشر ﷺ دے
محبوب زما اوستا دے ، حسین بدرالدجیٰ ﷺ دے
قمر دوُی په وجه ، خندا دے په خندا دے

امام دَ مُرسلانو ، دُنیا کښې دَ نیکانو
قسم دے مقتدا دے ، رڼا دَ هر صبا دے
قمر دوُی په وجه ، خندا دے په خندا دے

رحمت دَ کل عالم دے ، رتُبه کښې مقدم دے
شفیع خیر الوریٰ ﷺ دے ، صادقه په وینا دے
قمر دوُی په وجه ، خندا دے په خندا دے

سلطان دے دَ مخلوق ، جانان دے دَ مخلوق
لقب ئې هم طٰهٰ دے ، لقب ئې مصطفیٰ ﷺ دے
قمر دوُی په وجه ، خندا دے په خندا دے

احمد ئې ثناخوان دے ، مدّاح ئې دَ جهان دے
اعلیٰ دے ډیر اعلیٰ دے ، ممتاز په هر ادا دے
قمر دوُی په وجه ، خندا دے په خندا دے

★★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور کښې شۀ غوپه دَ محمد خیر البشر ﷺ
ځان بانديږ ښکاره کړه دَ رسول ﷺ دَ دراثر
ځان بانديږ ښکاره کړه هر ادا دَ محمد ﷺ
راشه راشه اُکړه اقتدا دَ محمد ﷺ
واخله ډیوه واخله نوراني دَ هریو در
ځان بانديږ ښکاره کړه دَ رسول ﷺ دَ دراثر
ځان بانديږ ښکاره کړه هریو نُور دَ محمد ﷺ
دغه ده توښه په کائنات کښې دَ لحد
ځان کړه دَ دُنیا دَ پاره نُور دَ هر سحر
ځان بانديږ ښکاره کړه دَ رسول ﷺ دَ دراثر
ځان په دغې نُور بانديږ دُنیا کښې کړه اُوچت
ځان په دغې نُور بانديږ هرخوا کښې کړه اُوچت
ځان نه ډیوه جوړه کړه دُنیا کښې لکه نمر
ځان کړه خوشبوداره په سنت دَ محمد ﷺ
راشه واخله مینه محبت دَ محمد ﷺ
هریو ادا نه دَ نبي ﷺ اُوسه خبر
ځان بانديږ ښکاره کړه دَ رسول ﷺ دَ دراثر
نُور رنا سنت سره ښائسته کړه خپل بدن
وائي احمد وائي خپل ښائسته کړه ټول وطن

هر ځائے په دے مشك سره كړه دلته معطّر
ځان بـاندې ښكاره كړه دَ رسول ﷺ دَ دراثر

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نشته دے نشته په ‌لتانه پيغمبر نبی بل
نشته دے نشته په ‌لتانه يو رهبر نبی بل
په نُور كامل په هر صفت سره كامل نبی ئي
نشته دے نشته په ‌لتانه يو افسر نبی بل
په اولين او آخرين كښې ستا جُدا مقام دے
داسے دُنيا كښې نشته نشته بختور نبی بل
دَ نبوت سلسله تا باندے رب بنده كړله
پيدا به نشی په ‌لتانه په يو در نبی بل
په كائنات كښې ئي محبوب دَ محبوبانو ټولو
داسے به نۀ وي په دُنيا كښې يو رهبر نبی بل
دَ اوَلين او آخرين دَ سر ئې تاج رسوله ! ﷺ
نشته دے نشته ستا پشان عالی بشر نبی بل
احمد ليكلے ئي خلاصه دَ كائنات دَ خلقو
نشته دے نشته كائنات كښې نُور قمر نبی بل

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے پاك رسوله ! ﷺ ستا نه وروستو پيغمبر نشته دے
دا عقيده لرم چې ستا په شان بشر نشته دے

تـــۀ اوَلیـــن ئـــې اٰخـــرین ئې پــه دُنیا کښې نبی ﷺ
دَ هــر بهتــر نــه بهتــرین ئې په دُنیا کښې نبی ﷺ
زۀ عــقیــده لــرم چــې ستـــا پشــان بهتــر نشتـــه دے
دا عــقیــده لــرم چې ستــا پــه شــان بشــر نشتــه دے
ربّ پـه قراٰن کښې ستا تعریف کوی ختم الرُّسله ! ﷺ
هم لامکـان کښې ستا تعریف کوی ختم الرُّسله ! ﷺ
وائـمــه څکــه ستــا پــه شــان ښـۀ بختور نشتـه دے
دا عــقیــده لــرم چې ستــا پــه شــان بشــر نشتــه دے
تــولــو نبیــانــو ستــا دَ لــوئــے مقــام اقــرار کــړے دے
تــولــو ولیــانــو ستا دَ لــوئــے مقــام اقــرار کــړے دے
روښـانـه ستا په شان دُنیا کښې ښائسته نمر نشته دے
دا عــقیــده لــرم چې ستــا پــه شــان بشــر نشتــه دے
خپــلــو پــردو ستـــا دَ مــقــام اقــرار پــخپـلــه کــړے
دُوی هــر ســحــر ســره مــاښــام اقــرار پخپـلــه کــړے
ښائستۀ دُنیا کښې ستاپه شان څوك په نظر نشته دے
دا عــقیــده لــرم چې ستــا پــه شــان بشــر نشتــه دے
ستــا لــوئــې مــقــام او مــرتبــے نــه تــول جهان خبر دے
احــمــده ! واوره پـــه دُنیــا کښې تـول مــردان خبــر دے
نشتـه دے نشتـه ستـا پـه شان عـالی افسر نشته دے
دا عــقیــده لــرم چې ستــا پــه شــان بشــر نشتــه دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے هر امام نه دے امام ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے حسین خیر الانام ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے حسین هغۀ رهبر دَ رهبرانو
ښکلے دے حسین هغۀ رهبر دَ عالمانو
ښکلے هر کلام نه دے کلام دَ مدینې
ښکلے دے حسین خیر الانام ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے حسین هغۀ خاتم دَ مُرسلانو ﷺ
ښکلے دے حسین هغه خاتم دے دَ نبیانو ﷺ
داسے وائی خلق خاص او عام دَ مدینې
ښکلے دے حسین خیر الانام ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے حسین هغه امین دے دَ عرب
هم هغه صادق دے بهترین دے دَ عرب
ښکلے دے دَ پاک نبی ﷺ پیغام دَ مدینې
ښکلے دے حسین خیر الانام ﷺ دَ مدینې
ښکلے په دُنیا کښې دَ هر نُور نه هغه نُور دے
ښکلے په هر خوا کښې دَ هر نور نه هغه نُور دے
ښکلے دَ دُنیا دے نُور تمام دَ مدینې
ښکلے دے حسین خیر الانام ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے هر قول دَ مصطفیٰ ﷺ خیر البشر ﷺ

وائـــی احـــمـــد وائـــی دلتـــه دغـــه مـخـتـصـر
ښـکـلـے شـریـعـت دے تـول اسـلام دَ مـدیـنـې
ښـکـلـے دے حسیـن خیـر الانـام ﷺ دَ مـدیـنـې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـکـلـے دے ښـائـسـتـۀ دے هـریـو در دَ مـدینې
ښـکـلـے دے زمـونـړه پیـغـمـبـر ﷺ دَ مـدینـې
ښـکـلے دے ښـائـسـتـۀ دے ورتـه نـۀ رسـی ګلونه
ښـکـلے دے ښـائـسـتـۀ دے ورتـه نـۀ رسی لعلونه
ښـکـلـے دَ هـرچـانــه دے دلبـر دَ مـدیـنـې
ښـکـلـے دے زمـونـړه پیـغـمـبـر ﷺ دَ مـدینـې
ښـکـلے دے ښـائسـتـۀ دے په دُنیا کښې له هرچانه
ښـکـلے دے حسیـن دے خورم قسم دے عالیشانه
ښـکـلـے دے هـرچـانـه لـوئـے رهبر دَ مـدینې
ښـکـلـے دے زمـونـړه پیـغـمـبـر ﷺ دَ مـدینـې
ښـکـلے دے ښـائـسـتـۀ په کائنات کښې له أفتاب نه
ښـکـلے دے ښـائـسـتـۀ په کائنات کښې له مهتاب نه
ښـکـلـے دے دَ ښـکـلـو لـوئـے افـسـر دَ مـدینـې
ښـکـلـے دے زمـونـړه پیـغـمـبـر ﷺ دَ مـدینـې
ښـکـلـے دے دَ سـتـورو نـه دُنیا کښې پـه أسـمان
ښـکـلـے دے احـمـده ! دَ دُنیـا پــه هـریـیـان

ښکلے دے عالی نُور دَ نظر دَ مدینې
ښکلے دے زمونږه پیغمبر ﷺ دَ مدینې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے په دُنیا کښې دے گلزار دَ مدینې
ښکلے دے دَ دوجهان تاجدار ﷺ دَ مدینې
ښکلے هر صفت سره دُنیا کښې په هر در
ښکلے دے ښائسته دے هر بهتر نه دے بهتر
ښکلے دے محبوب دَ ربّ غفار دَ مدینې
ښکلے دے دَ دوجهان تاجدار ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے ښائسته دے داسے وائی عالمان
ښکلے دے ښائسته دے داسے وائی ټول جهان
حُسن دَ دُنیا دے دَ هردار دَ مدینې
ښکلے دے دَ دوجهان تاجدار ﷺ دَ مدینې
ښکلے هر بشر نه دے دُنیا کښې په هر در
ښکلے هر افسر نه دے دُنیا کښې په هر در
هر سردار نه ښکلے دے سردار دَ مدینې
ښکلے دے دَ دوجهان تاجدار ﷺ دَ مدینې
ښکلے دے ښائسته دے وائی داسے هر انسان
وائی احمد وائی په دُنیا کښې دَ مردان
ښکلے دے ښائسته خیر الابرار ﷺ دَ مدینې

شکلے دے دَ دوجهان تاجدار ﷺ دَ مدینې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نیك انسان روان وی مصطفیٰ ﷺ پسے
نۀ وهی دے منډے په دُنیا پسے
هر یو خبره دَ نبی ﷺ چې ده
ګرځی نیك انسان دغې رښا پسے
نُور پسے دے منډے دَ دُنیا وهی
نۀ وهی دے منډے په جفا پسے
کار دَ سعادت په دې جهان کوی
نیك انسان روان وی حق وینا پسے
کار دَ هر فلاح په دې دُنیا کوی
ښۀ انسان روان وی په رښتیا پسے
هر یو حیادار دَ دۀ ملګرے وی
ګرځی نه دُنیا کښې بې حیا پسے
کار به هر یو دلته دَ سنت کوی
نۀ وی دے منډے په ګډا پسے
لار به دَ سنت بدله نه کړے دے
وروستو به روان وی په طٰهٰ ﷺ پسے
وُلیدل احمد علی نیکان خلق
منډے وهی تول په مجتبیٰ ﷺ پسے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کۀ نۀ وے
مونږ به ناپوهه انسانان وو رسول ﷺ کۀ نۀ وے
مونږ به ناپوهه په هر در وو دلته
مونږ دَ بدتر نه به بدتر وو دلته
مونږه به ډك دَ هر ضرر وو دلته
مونږ به ازغی دَ ګلستان وو رسول ﷺ کۀ نه وے
مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کۀ نۀ وے
مونږ به تيرو کښي دَ جهان اُوسيدو
مونږ به تيرو کښي په هر آن اُوسيدو
مونږ به تول لرے دَ رحمٰن اُوسيدو
مونږ به تيرو کښي تول روان وو رسول ﷺ کۀ نۀ وے
مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کۀ نۀ وے
مونږ به محروم دَ سعادت نه وو تول
مونږ به محروم دَ هدايت نه وو تول
مونږ به محروم دَ شريعت نه وو تول
مونږ به ملګری دَ شيطان وو رسول ﷺ کۀ وے
مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کۀ نۀ وے
مونږ به دَ خير نه وو محروم دَ جهان
مونږ به محروم وے ددې نُور دَ قرآن

ګمراه به دلته کښې وي هر يو انسان
مونږ به تيرو کښې دَ جهان وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے
مونږ به ذليله دربدر پاتې وو
مونږ به اخته په هر يو شر پاتې وو
ذليل به تول دَ لر او بر پاتې وو
مونږه به خوار په هر مکان وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے
مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے
زمونږ ملګرے به ابليس لعين وو
زمونږ ملګرے به خسيس لعين وو
ګمراه غريب به هر رئيس لعين وو
مونږ به په جمع شيطانان وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے
مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے
مونږ به وولړے نيغے لار نه تل
مونږ به وولړے هر ګلزار نه تل
احمده! نور نه دَ انوار نه تل
مونږ به مشرکه کافران وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے
مونږ به دَجهل غلامان وو رسول ﷺ کهٔ نهٔ وے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوبه! ﷺ عاشقان بشکلی ستا در ته در چليږي
درځي دوی نهٔ صبرېږي، په جمع عاشقان

عـجیـب ښـکـلـے قـانـون دلتـه دَ مینـے محبت دے
هـر سـر پـه دغـی مـیـنـے سـره دلتـه کښې اُوچت دے
دیـنـداره خلق دلتـه پـه دے مینـۀ ښـۀ پـو هـیـږی
درځـی دوی نـۀ صبـریـږی، پـه جـمـع عـاشـقـان
عـجـیـب ښـکـلـے دسـتـور دے دَ دُنیـا دَ محبت
دَ سـر سـیـورے دُنیـا کښې دے دُنیا کښې دے عزت
قسـم دے عـالـمـان ددغـې مـیـنـے نـۀ زاریـږی
درځـی دوی نـۀ صبـریـږی، پـه جـمـع عـاشـقـان
دا میـنـه دَ بـدن دَ پـاره روح دے دَ جهـان
دا میـنـه دَ هـرتـن دَ پـاره روح دے دَ جهـان
هوښیار سړے پـه میـنـه باندې دلتـه خوشحالیږی
درځـی دوی نـۀ صبـریـږی، پـه جـمـع عـاشـقـان
دا میـنـه ده ښُـکـلا دَ هـر بـدن او دَ وطـن
دا میـنـه ده ښُـکـلا پـه دې دُنیـا کښې دَ چمن
احـمـد عـلـی ! پـه میـنـه باندے خلق ښائستـۀ کیږی
درځـی دوی نـۀ صبـریـږی، پـه جـمـع عـاشـقـان

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ دُنیـا دَ در مـحـبـوب او مـحـتـرم دے
مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دَ کُـل عـالـم دے
رسـالـت ئـې دَ دُنیـا دے هـر بشـر لـه

هــدايـــت ئـــي دَدُنيـــا دے هــر بشــر لـــه
مـــعــــززه پـــــه عـــرب او پـــــه عـجـم دے
مــحــمــد رســول الــلّـــه ﷺ دَ کُـل عـــالـم دے
شــريــعـــت ئــي تــول جهــان لـــره رڼــا ده
نبـــوت ئـــي تـــول جهــــان لـــره رڼـــا ده
قـــدرمـــنــــده ددُنيــــا پـــه هـــر قــدم دے
مــحــمــد رســول الــلّـــه ﷺ دَ کُـل عـــالـم دے
هـــر ســنـــت ئـــي نُــوررڼـــا دَ هـــريــو درده
صـــداقـــت ئـــي نُــوررڼـــا دَهـــريـــو درده
دَ هــــر درعـــلاج دُنيـــا کښــي دَ هـــر غـم دے
مــحــمــد رســول الــلّـــه ﷺ دَ کُـل عـــالـم دے
هـــــر ادا ئــــي مثـــالــــی ددي جهــــان ده
هـــر ادا ئـــي مثـــالـــی دَ پـــاس آســمــان ده
ميـنــــه ميـنــــه پــه دُنيـا کښـي مـجسـم دے
مــحــمــد رســول الــلّـــه ﷺ دَ کُـل عـــالـم دے
هـــريـــو قـــول ئـــي دَدُنيـــا دَ در رڼـــا ده
هـــريـــو قـــول ئـــي دَدُنيـــا دَ در ښُـــکــلا ده
ذکـــر کـــړے تـــا الحــمــده! پـــه قـلـم دے
مــحــمــد رســول الــلّـــه ﷺ دَ کُـل عـــالـم دے

★★★★★

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

محمد ﷺ زمونږ دَ ټولو مقتدا دے
دَ هر چا دَزړهٔ سکون دَزړهٔ دوا دے
کهٔ غریب دے کهٔ مالدار په دې جهان
کهٔ بادشاه دے کهٔ وزیر دَ یو مکان
په اعلاؤ کښې دَ ټولو نه اعلیٰ دے
محمد ﷺ زمونږ دَ ټولو مقتدا دے
کهٔ عالم دے کهٔ ولی ددې جهان دے
کهٔ امام دے کهٔ رهبر دَ یو مکان دے
هر بشر لره تسکین دلته هر خوا دے
محمد ﷺ زمونږ دَ ټولو مقتدا دے
کهٔ شاګرد دے کهٔ اُستاد ددې جهان
دَاحمد علی دے واورهٔ دا بیان
دَ هر چا دَستر ګو تور په دې دُنیا دے
محمد ﷺ زمونږ دَ ټولو مقتدا دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

محمد رسول اللّٰه ﷺ عالی په ذات دے
رهنما دَ ټول جهان دَ مخلوقات دے
په عرب او په عجم کښې بل څوك نشته
خورم قسم په ټول عالم کښې بل څوك نشته

بهتـرین زمـونـږ نبی ﷺ پـه تهول حـالات دے
مـحـمـد رسـول اللـه ﷺ عـالـی پـه ذات دے
دَ دُنیـا دَدر شـاهـان ئـي غـلامـان دی
وزیـران ئـي دَ جهـان تهـول خـادمـان دی
مثـالـی پـه هـر صـفـت پـه عبـادات دے
مـحـمـد رسـول اللـه ﷺ عـالـی پـه ذات دے
تهـول اصـحـابؓ ئـي دَ اسـمـان رنـا دی ستـوری
تهـول احبـابؓ ئـي دَ اسـمـان رنـا دی ستـوری
خـورم قسـم چـي بهتـریـن پـه معـامـلات دے
مـحـمـد رسـول اللـه ﷺ عـالـی پـه ذات دے
هـریـو قـول کښـي ئـي رنـا ده دَ سـحـر
هـریـو قـول کښـي ئـي ښـکـلا ده دَ سـحـر
اے احـمـده! ښـۀ عـالـی پـه تهول صـفـات دے
مـحـمـد رسـول اللـه ﷺ عـالـی پـه ذات دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه هـر چـا دَ پـاك رسـول ﷺ ادب لازم دے
دا ادب پـه تهـول عـجـم عـرب لازم دے
کـامیـابـی ده دَ رسـول ﷺ پـه مـحبت کښـي
مسـلـمـان لـه دغـه درس مـکـتـب لازم دے
عـزت راشـه دَ نبـی ﷺ پـه در کښـي پـروت دے

مسلمان له دغه در مشرب لازم دے
سنت راشه دَ نبی ﷺ بنۀ طریقه ده
په بدعت سره هر ځائے غضب لازم دے
دَ انوارو لاره راشه دَ نبی ﷺ ده
دا ده بنۀ هم دلته دا مطلب لازم دے
بهتر دین دَ محمد رسول الله ﷺ دے
هر بهتر له بهتر لقب لازم دے
اے احمده! دَ نبی ﷺ مذهب اسلام دے
کامیابے له دغه دین مذهب لازم دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لازم په مسلمان دے دَ رسول الله ﷺ ادب
راغلے په جهان دے دَ رسول الله ﷺ ادب
امام دے کۀ ولی دے کۀ عالم دے د دُنیا
راغلے په انسان دے دَ رسول الله ﷺ ادب
استاد دے کۀ شاګرد دے دَ دُنیا دَ هر مکتب
لازم په هر مکان دے دَ رسول الله ﷺ ادب
وزیر کۀ بادشاه دے مرتبه کښي ډیر اوچت
لازم په هر سلطان دے دَ رسول الله ﷺ ادب
غریب دے کۀ مالدار دے دا دے فرض په هر چا
بُنیاد دَ هر ایمان دے دَ رسول الله ﷺ ادب

بـډهـا کـهٔ جهـان دے پـه هغـه بـانـدې لازم دے
راغـلـے پـــه هـرځـوان دے دَرسـول اللّٰــه ﷺ ادب
احـمـدعـلـی ! دُنیـا کښـې دالازم دے پــه هــرچـا
لازم پـــه ټـول مــردان دے دَرســول الـلّٰــه ﷺ ادب

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ټول کـائـنـات کښې ثـانـی نـهٔ لـری زمونـږه نبی ﷺ
پـه ټول صفات کښې ثـانـی نـهٔ لری زمونږه نبی ﷺ
ښـکـلـے ښـائستـهٔ ئې دَ دُنیا هرعبادت ښکلے دے
بـــره اَسـمـــان تـــه لامـکــان تـــه دَ دُنیـا تـلـے دے
لـوئـے مـقـامات کښې ثـانـی نهٔ لری زمونږه نبی ﷺ
ټـول کـائـنـات کښې ثـانـی نـهٔ لری زمونـږه نبی ﷺ
ښـکـلـی اخلاق ئـې پـه دُنیـا لـعـل وګـوهـريـاديـږی
ښـکـلـی اخـلاق ئـې دَ دُنیـا مشك وعـنبـريـاديـږی
هم مـعـامـلات کښې ثانـی نـهٔ لری زمونږه نبی ﷺ
ټـول کـائـنـات کښې ثـانـی نـهٔ لری زمونـږه نبی ﷺ
ټــول پـــه سیـــرت ســره ښـائستـــه دے دَ دُنیــا دَ دَر
ټــول پـــه صـــورت ســره ښائستــهٔ دے نـورانـی بشـر
پـه عبـادات کښې ثـانـی نـهٔ لـری زمونـږه نبی ﷺ
ټـول کـائـنـات کښې ثـانـی نـهٔ لری زمونـږه نبی ﷺ
هـــره ادا ئــې ده ښـائستـــهٔ داسے احـمد ليـکـلـے

رڼـا ئـي دلتــه کـائـنــات کښـي دَ لـحد ليـکلـې
پـه کـمـالات کښـي ثـانـی نۀ لری زمونـږه نبی ﷺ
ټول کـائـنـات کښي ثـانـی نۀ لری زمونـږه نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنيا کښي دلتـه چا چي مـصطفیٰ ﷺ ليدلې دے
هـغـــۀ دَ مُــرسـلانـو مـقتـدا ﷺ ليـدلـې دے
امــام او مــقـتـدا دَ هــر نبــی ﷺ ددي جهـــان دے
امــام او مـــقـتــدا دَ هـــر ولـــی ددي جهـــان دے
دُنيا کښي چي يو کـس خيـر الوریٰ ﷺ ليدلې دے
هـغـــۀ دَ مُــرسـلانـو مـقتـدا ﷺ ليـدلـې دے
امـــام دَ هـــر امـــام دے دَ دُنيـــا ددغـــي در
امــام دَ هــر امــام دے پـــه هــر خــوا ددغــي در
قسم دے چـا چـي دلتـه کښي طٰهٰ ﷺ ليدلې دے
هـغـــۀ دَ مُــرسـلانـو مـقتـدا ﷺ ليـدلـې دے
خـوشبـو پــه دے دُنيا کښي دَ دُنيا دَ ګـلستان دے
قسم دے پاس قمر غوندي ښائسته په دي جهان دے
قسم دے چـا چـي دلتـه کښـي بيا بيا ليدلې دے
هـغـــۀ دَ مُــرسـلانـو مـقتـدا ليـدلـې دے
رحـمـت دَ کُـل عــالـم دے مـحـمـد خيـر البشـر ﷺ
عـلاج دَ هــريـو غـم دے مـحـمـد خيـر البشـر ﷺ

قسم دے پـه سيرت ئـې نُـور صـفـا ليدلے دے
دُنيا کښې دلتـه چا چې مـصـطفیٰ ﷺ ليدلے دے
مـحبوب دَربَ اکبـر دے هم مـحبوب دَ مـخلوقات
احـمـد عـلـی جامع هغـه دے دلتـه دَ صـفـات
سبب دَ هـر سـکـون دلتـه کښې مـا ليدلے دے
دُنيا کښې دلتـه چا چې مـصـطفیٰ ﷺ ليدلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه ګل کښې چې چا حُـسن پـه دُنيا ليدلے دے
قسـم دے دۀ دا حُسـن دَ طـٰـهٰ ﷺ لـيـدلـے دے
دُنيـا کښـې هـريـو حُسـن ددې در نـه تـقسيم شوے
هرخـوا کښې هـريـو حُسـن ددې در نـه تقسيم شوے
قسـم دے چا چې حُسـن پـه کُوم خـوا ليـدلے دے
قسـم دے دۀ دا حُسـن دَ طـٰـهٰ ﷺ لـيـدلـے دے
دُنيـا کښـې هـريـو حُسـن ، هـريـو نُـور دَ هـريـو در
دُنيـا کښـې رڼـا ګـانـے دَ قـمـر او ددې نـمـر
دا حُسـن پـه دُنيـا کښې چې نـن چا ليـدلـے دے
قسـم دے دۀ دا حُسـن دَ طـٰـهٰ ﷺ لـيـدلـے دے
دُنيـا کښـې ښـکـلـے حُسـن دَ دُنيـا دَ هـر سحـر
دُنيـا کښـې ښـکـلـے حُسـن دَ دُنيـا دَ هـر بشـر
ښـائسـت چې دلتـه چا پـه يو ادا ليـدلـے دے

قسم دے دۂ دا حُسن دَ طٰهٰ ﷺ لیدلے دے
ښائسته صورت چا دلته چې لیدلے دَ ګلونو
ښائسته صورت چا دلته چې لیدلے دَ باغونو
دا حُسن دلته هر ځائے چې ئې بیا لیدلے دے
قسم دے دۂ دا حُسن دَ طٰهٰ ﷺ لیدلے دے
دا حُسن دَ دُنیا دے تول دَ سیَد البشر ﷺ
احمد علی ! دُنیا دا په نبی ﷺ ده معطر
حُسن چې دلته چا دَ اولیاء لیدلے دے
قسم دے دۂ دا حُسن دَ طٰهٰ ﷺ لیدلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په دُنیا کښې دَ جهان دے یو سپرلے
دا نبی اٰخر زمان ﷺ دے یو سپرلے
طریقه ئې دَ جهان ده هدایت
دَ مکان او لامکان دے یو سپرلے
دَ هر در دَ پاره نُور دَ شریعت دے
پیدا کړے رب رحمٰن دے یو سپرلے
دَ دُنیا دَ در ښکلا ده هر ساعت
بهترین دَ ګلستان دے یو سپرلے
هر طرف ته هم په دُوی سره خوشبو ده
اے احمده ! حق بیان دے یو سپرلے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ هغه امام دَ مُرسلین ﷺ دے
په لقب باندي صادقه ﷺ او امین ﷺ دے
په ظاهره ئي ظهور شوے آخر کښي
مرتبه او په مقام کښي اولین دے
مزمل ﷺ او مدثر ﷺ ئي القابات دی
په طٰهٰ ﷺ سره یاد شوے په یٰسین ﷺ دے
دَ رحمت سپوږي دُنیا ته دے راغلے
په محبوب باندی یاد شوے دَ متین دے
دَ محشر په ورځ ملګرے دَ امت دے
په لقب باندي شفیع دَ مذنبین ﷺ دے
صفتونه ئي بیشمیره دَ جهان دی
اے احمده! هر صفت ئي بهترین دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په انبیاؤ کښي عالی صفت انسان دے نبی ﷺ
وایه دا څوک دے دا نبی آخرزمان ﷺ دے نبی ﷺ
داسے بشر په ټول جهان کښي چا لیدلے نهٔ دے
داسے بشر په یو مکان کښي چا لیدلے نهٔ دے
دَ رحمت سپوږي په دُنیا دَ هر مکان دے نبی ﷺ
وایه دا څوک دے دا نبی آخرزمان ﷺ دے نبی ﷺ

زۀ ئـي قـربـان شـم دَ وطـن او دَ حـرم نـه خـلـقـه!

زۀ ئـي قـربـان شـم پـه دُنيا دَ هـر قـدم نـه خـلـقـه !

داسـے دُنيا کښـې خـورم قسم ډير عالیشان دے نبی ﷺ

وايـه دا څـوك دے دا نبی اٰخـرزمـان ﷺ دے نبی ﷺ

راتـه وطـن ئـي پـه دُنيا کښـې هـر ساعـت يـاديږي

راتـه مـدفـن ئـي پـه دُنيا کښـې هـرساعـت يـاديږي

پـه هـر صـفـت سـره کـامـله دا سلطان دے نبی ﷺ

وايـه دا څـوك دے دا نبی اٰخـرزمـان ﷺ دے نبی ﷺ

زۀ طـلبـګـارئـي دَ ديـدن يـم دا ارمـان لـرمـه

وائـي احـمـد دغـه ارمـان پـه دې جهـان لـرمـه

پـه کـائـنـات بـانـدې دَ ربّ فـضـل احـسان دے نبی ﷺ

وايـه دا څـوك دے دا نبی اٰخـرزمـان ﷺ دے نبی ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وريـږي پـرے رحـمـت دَ رحـمـتـونـو دے بـاران

دا کُـور کـلـے دے ښار دَ سـلـطـانـانـو دَ سـلـطـان ﷺ

مـدفـن دَ مـحـمـد عـربـي ﷺ يـاد دے پـه دُنيـا

چـمـن دَ مـحـمـد عـربـي ﷺ يـاد دے پـه دُنيـا

دا ښـار دے پـه دُنيـا کښـې دَ ګـلـونـو ګـلستـان

دا کُـور کـلـے دے ښار دَ سـلـطـانـانـو دَ سـلـطـان ﷺ

هـر ګـل ددغـې در دے ښـۀ ښـائستـۀ پـه هـرصفت

یاد شوے هریو ګل ددغې دردے په عظمت
عالی په کائنات کښې ددے دردے هر مکان
دا کُورکلے دے ښار دَ سلطانانو دَ سلطان ﷺ
خوشبوئې خوره شوے په دُنیا کښې ځائے په ځائے ده
خوشبوئې خوره شوے تل وینا کښې ځائے په ځائے ده
قسم دے معزز دے په دُنیا کښې عالیشان
دا کُورکلے دے ښار دَ سلطانانو دَ سلطان ﷺ
دا کورکلے هم ښار دے دَ صدیقؓ او دَ عمرؓ
دا کورکلے هم ښار دے دَ عثمانؓ او دَ حیدرؓ
احمد وائی عالی ئې په دُنیا کښې دے بیان
دا کُورکلے دے ښار دَ سلطانانو دَ سلطان ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګلونه دا ښائسته ښائسته دَ چا کلی کښې دی
ګلونه دا زمونږ دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
صدیقؓ دے که عمرؓ دے دا ګلونه دَ جهان دی
ښائسته ښائسته ګلونه هم علیؓ او دا عثمانؓ دی
ګلونه دغه ښکلی دَ طٰهٰ ﷺ کلی کښې دی
ګلونه دا زمونږ دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
ګلونه دَ ریحان دی هر طرف ته په جهان
ګلونه عالیشان دی هر طرف ته په جهان

ګلونه رنګ په رنګ دَ مجتبیٰ ﷺ کلی کښې دی
ګلونه دا زمونږ دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
ګلونه دلته کښې دی دَ ښُکلا دَ هریو در
ګلونه دلته کښې دی په هرخوا دَ هریو در
ګلونه دا زمونږ دَمقتدا کلی کښې دی
ګلونه دا زمونږ دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
دیدن له ئې راځی تول عاشقان ددې دُنیا
دیدن له ئې راځی دلته نیکان ددې دُنیا
ګلونه دا زمونږه دَ پیشوا کلی کښې دی
ګلونه دا زمونږ دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
ګلونه دا تازه دی دلته هرساعت
ګلونه دا تازه دی دلته دَ راحت
احمده! دا دَ سیِّدالوریٰ ﷺ کلی کښې دی
ګلونه دا زمونږ دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مزې دَ دوجهان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزې په هر مکان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزې دی او مزې دی د دُنیا په دغې در
ښائسته دا نظارې دی دَ دُنیا په دغې در
مزې دَ مسلمان دَمصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی

مزے دَ دوجهان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزے دَ هر بشر دی داسے وائی عالمان
مزے دَ مسافر دی داسے وائی عالمان
مزے دَ هر انسان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزے دَ دوجهان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزے دَ اولیاء دی په دې در دَ محمد ﷺ
مزے دَ علماء دے په دې در دَ محمد ﷺ
مزے په هویوان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزے دَ دوجهان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزے دلته کښې هر ځائے دی دا وائی هر امام
احمد علی خبره شوه ستا دلته کښې تمام
مزے په هر میدان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی
مزے دَ دوجهان دَ مصطفیٰ ﷺ کلی کښې دی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سفر دَ مدینې، سره دَ مور مزه کوی
بیا تلل په مدینه کښې په هرلور مزه کوی
سلام مزه کوی دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
قیام مزه کوی دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
بیا ذکر دَ نبی ﷺ دَ هر یو کور مزه کوی
بیا تلل په مدینه کښې په هرلور مزه کوی

چمن مزه کوی دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
مدفن مزه کوی دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
سفر کښې دَ خپل پلار سره خپل ورور مزه کوی
بیا تلل په مدینه کښې په هرلور مزه کوی
هر ګل مزه کوی دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
محفل مزه کوی دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
دَ خوب دَ پاره هلته کښې هر ګور مزه کوی
بیا تلل په مدینه کښې په هرلور مزه کوی
خوشبو مزه کوی دَ محمد خیر الانام ﷺ
احمد علی بیان کړلو هم دلته کښې تمام
پیاده مزه کوی په سورلے سُور مزه کوی
بیا تلل په مدینه کښې په هرلور مزه کوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته دَ پاك نبی ﷺ یاران دی تول
ګلونه دُوی دَ ګلستان دی تول
صدیقؓ عمرؓ هریو مقام لری لوئے
عثمانؓ حیدرؓ هریو مقام لری لوئے
حضرت بلالؓ سره حسّانؓ دی تول
ګلونه دُوی دَ ګلستان دی تول
ښُکلا هر ځائے کښې دَ هریو چمن ده

ښـکـلا هـرځـائـے کـښـې دَ هـريـو وطـن دے
تـول قـدر مـنـد دي عـالـيشـان دي تـول
ګـلـونـه دُوی دَ ګـلستـان دي تـول

دَلـوئـے مـقـام نـه ئـې الـلـه خبـر دے
ښـائـسـت دُنيـا کـښـې دَ هـريـو سـحـر دے
پـه طـريـقـه نيـغـه روان دي تـول
ګـلـونـه دُوی دَ ګـلستـان دي تـول

عـالـی مـقـام ئـې پـه دُنيـا يـاديـږی
عـالـی مـقـام ئـې پـه هـرخـوا يـاديـږی
دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ چـې عـاشـقـان دي تـول
ګـلـونـه دُوی دَ ګـلستـان دي تـول

هـريـو صـفـت ئـې د دُنيـا ښـکـلـے دے
احـمـده ! دغـه پـه ويـنـا ښـکـلـے دے
لـعـلـونـه دُوی ددې جهـان دي تـول
ګـلـونـه دُوی دَ ګـلستـان دي تـول

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـونـږ لـه دے ربّـه ! چـې نبی آخرزمان ﷺ راکړے
ستا دے احسان چې مونږ له تا دغه جانان ﷺ راکړے
مـقـام اُوچـت لـری دُنيـا کـښـې لـه هـر چانه هغه
مـقـام اُوچـت لـری دُنيـا کـښـې انبياء نـه هغـه

ستا دے احسان چې دَ نبیانو دے سلطان ﷺ راکړے

مونږ له دے ربّه ! چې نبی اٰخرزمان ﷺ راکړے

مقام اُوچت لری دُنیا کښې کُل مخلوق نه هغه

مقام اُوچت لری هر خوا کښې کُل مخلوق نه هغه

ستا دے احسان چې پیغمبر ﷺ دے عالیشان راکړے

مونږ له دے ربّه ! چې نبی اٰخرزمان ﷺ راکړے

مقام اوچت ئې له اٰسمانه په دُنیا یادیږی

مقام اُوچت ئې له هرچانه په دُنیا یادیږی

ستا دے احسان چې تا رهبر دَ ټول جهان راکړے

مونږ له دے ربّه ! چې نبی اٰخرزمان ﷺ راکړے

مقام اُوچت لری محبوب ځکه دَربّ هغه دے

مقام اُوچت لری محبوب دَ ټول عرب هغه دے

ستا دے احسان چې تا عجم له نُور عرفان راکړے

مونږ له دے ربّه ! چې نبی اٰخرزمان ﷺ راکړے

مقام اُوچت لری ګواه په دې احمد علی دے

مقام اُوچت لری ګواه په دې هر یو ولی دے

ستا دے احسان چې دَ هر زړهٔ دے اطمینان راکړے

مونږ له دے ربّه ! چې نبی اٰخرزمان ﷺ راکړے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستا دے احسان ربّه ! چې مونږ له تا قراٰن راکړے

ورسره نُور دے دَ سنت دَ ټول جهان راکړے
ستا دے احسان چې تا انوار دَ محمد ﷺ راکړي
ستا دے احسان چې تا انوار دا دَ ابد راکړي
ستا دے احسان چې تا بُنيا دَ هر ايمان راکړے
ستا دے احسان ربّه! چې مونږ له تا قرأن راکړے
ورسره نُور دے دَ سنت دَ ټول جهان راکړے
ستا دے احسان چې تا خوشبو دَ محمد ﷺ راکړے
ستا دے احسان چې تا خوشبو دَ هر لحد راکړے
ستا دے احسان چې تا واضحه حق بيان راکړے
ستا دے احسان ربّه! چې مونږ له تا قرأن راکړے
ورسره نُور دے دَ سنت دَ ټول جهان راکړے
ستا دے احسان چې تا رحمت دَ محمد ﷺ راکړے
ستا دے احسان چې تا شفقت دَ محمد ﷺ راکړے
ستا دے احسان چې تا دا دريه در أذان راکړے
ستا دے احسان ربّه! چې مونږ له تا قرأن راکړے
ورسره نُور دے دَ سنت دَ ټول جهان راکړے
ستا دے احسان چې تا احکام دَ شريعت راکړي
حکمونه ټول دے په دُنيا دَ محبت راکړي
ستا دے احسان چې دَ شيطان نه تا امان راکړے
ستا دے احسان ربّه! چې مونږ له تا قرأن راکړے

ورسره نُور دے دَ سنت دَ تول جهان راکړے
ستا دے احسان چې تا احمدلره قلم ورکړے
ستا دے احسان چې تا نبی ښۀ محترم ورکړے
ستا دے احسان چې تا نبی ﷺ ښۀ عالیشان راکړے
ستا دے احسان ربّه ! چې مونږ له تا قرآن راکړے
ورسره نُور دے دَ سنت دَ تول جهان راکړے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په عاشقانو به اختر شی
چې مدینې ته کله ورشی
چې ئې نصیب دغه وطن شی
چې ئې نصیب دغه چمن شی
چې ئې نصیب دغه سفر شی
په عاشقانو به اختر شی
چې ئې نصیب دغه رڼا شی
چې ئې نصیب دغه فضا شی
چې ئې نصیب دغه سحر شی
په عاشقانو به اختر شی
چې ئې نصیب دغه دربار شی
چې ئې نصیب دغه بهار شی
په خوشحالو باندې به سر شی

پـــــه عــــاشـــقـــانــو بــــه اختـــر شـــی
چـــي ئـــي نـــصيـــب دغـــه کـــوڅـــے شـــی
چـــي ئـــي نـــصيـــب دا نـــظــــارے شـــی
تـــول پــــه وجـــود بــــه مـــنـــوَر شـــی
پـــــه عــــاشـــقـــانــو بــــه اختـــر شـــی
احـــمـــده ! ښـــۀ بـــه پــــه ســـکـــون شـــی
ښــــائستــــه بـــــه تـــول ددۀ ژونــــدون شـــی
دَ هــــر بهتـــر نـــــه بـــــه بهتـــر شـــی
پـــــه عــــاشـــقـــانــو بــــه اختـــر شـــی
چـــي مـــديـــنـــي تـــــه کـــلـــه ورشـــی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـلـګـری راتـــه وائـــی دَ طـــهٰ ﷺ کلـی تــه ځـو
ديـدن لـــه پـــه دُنيــا دَ مـصـطفیٰ ﷺ کلـی تـه ځـو
وريـــږی هـلـتـــه هـرســاعـت رحـمـت پــه هريـو در
هـــرځـــائـــے دَ مـديـنـــي دے نُـورانـی تـول منوَر
راځـــی پــــه جـمـع تـول چـي دَ رنـا کلـی تــه ځـو
ديـدن لـــه پـــه دُنيــا دَ مـصـطفیٰ ﷺ کلـی تـه ځـو
ښـائستـــۀ ئـــي هـــريـو لار ده دَ انـوارو نـــه ده ډکـــه
بهتـــر ئـــي هـــر کـوڅـــه ده دَ دُنيـا لـــه هـرفـلـکـــه
راځـــی چـي مـونـږ دَ سيَدالـوریٰ ﷺ کلـی تـه ځـو

ديـدن لـه پـه دُنيـا دَ مصـطفىٰ ﷺ كلى تـه ځـو
صـديق ؓ عـمـر ؓ عثـمـان ؓ دَ هغـه دردي سـاكـنـان
بـلال ؓ سـره حسَـان ؓ د دغـه دردي سـاكـنـان
راځـى چـې روانيـږو دَ وفـا كـلـى تـه ځـو
ديـدن لـه پـه دُنيـا دَ مصـطفىٰ ﷺ كلى تـه ځـو
حسـن ؓ سـره حسيـن ؓ دَ هـغـه دردي سـاكـنـان
وريـږى مـديـنـه كښـې هـر سـاعـت دَ نُور بـاران
پـه جـمـع ټـول مـحبوب لـه دَ دُنيـا كلى تـه ځـو
ديـدن لـه پـه دُنيـا دَ مصـطفىٰ ﷺ كلى تـه ځـو
مسـكـن دَ هـر مسـكـن نـه ښـهٔ اعلىٰ دے پـه جهان
چـمـن دَ هـر چـمـن نـه ښـهٔ اعلىٰ دے پـه جهان
احـمـده ! دَ دُنيـا شـمـس الضـحىٰ كلى تـه ځـو
ديـدن لـه پـه دُنيـا دَ مصـطفىٰ ﷺ كلى تـه ځـو

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راغـے مسـافـر دَ پـاك رسول اللّٰـه ﷺ وطن نـه
خيـژى خـوشبـوئـى ئـې دَ قـدم نـه دَ بـدن نـه
راغـے مسـافـر دَ مـصـطـفىٰ خيـر الـورىٰ ﷺ دَ در
راغـے مسـافـر دَ مـجتبـىٰ بـدر الـدجـىٰ ﷺ دَ در
راغـے مـديـنـې نـه دَ ښائسـتـهٔ ښـكـلى چـمن نـه
خيـژى خـوشبـوئـى ئـې دَ قـدم نـه دَ بـدن نـه

ښــهٔ دے ښــهٔ خبـر دَ مـدیـنـي دَ انـواراتـو نــه
ښـهٔ دے ښـهٔ خبـر دَ مـدیـنـي دَ ټول صـفـاتـو نـه
راغــے مســـافــر دَ انــواراتــو دَ ګــلشــن نـــه
خیــږي خــوشبــوئـی ئـي دَ قـدم نــه دَ بـدن نــه
راغــے مســافــر دَ مـدیـنــي نــه خـوشبـوداره ټول
راغــے مســافــر دغـه حصـي نــه خـوشبـوداره ټول
مـونـږ تــه خـوشبـوئــی ئـي محسوسیږی دَ چلن نـه
خیــږي خــوشبــوئـی ئـي دَ قـدم نــه دَ بـدن نــه
راغــے مســافــر وائـی احــمــد پــه هــرصـفـت سـره
راغــے مســافــر دَ مـدیـنــي نــه دَ رحـمـت سـره
راغــے مســافــر دَ پــاك رسـول ﷺ دَ درلـمـن نـه
خیــږي خــوشبــوئـی ئـي دَ قـدم نــه دَ بـدن نــه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زهٔ غـــریـــب نـــهٔ یـمـــه ایـمـــان لـــرمـــه
دَ دوجهـــان ښــکــلــے جــانــان ﷺ لـــرمـــه
ربَ نـــصـیـــب کـــړے مـــي رڼــا دَ جهــــان
ربَ نـــصـیـــب کـــړے مـــي ښُــکــلا دَ جهـــان
رهبـــر دُنیـــا کښــي زهٔ قـــرآن لـــرمـــه
دَ دوجهـــان ښــکــلــے جــانــان ﷺ لـــرمـــه
ربَ نـــصـیـــب کـــړے مـــي خیـــر الـبشـــر ﷺ

دَ هر يو در دَ پاره نُور قمر
رڼا ښُکلا دَ هر آسمان لرمه
دَ دوجهان ښکلے جانان ﷺ لرمه

ربَ نصيب کړے مې عزت دَ جهان
په دين اسلام باندې غيرت دَ جهان
دغه دولت په هر مکان لرمه
دَ دوجهان ښکلے جانان ﷺ لرمه

ربَ نصيب کړے مې حيا دَ نبي ﷺ
ربَ نصيب کړے مې ادا دَ نبي ﷺ
زۀ د دُنيا دغه سامان لرمه
دَ دوجهان ښکلے جانان ﷺ لرمه

زما شافع شته په محشر کښې دَ ربَ
دولت لرمه په دُنيا دَ ادب
اخلاق ښائسته دَ دوجهان لرمه
دَ دوجهان ښکلے جانان ﷺ لرمه

بد نصيب نۀ يم خوش نصيب زۀ يمه
په هر سنت نُور ته قريب زۀ يمه
سنت رڼا زۀ حق بيان لرمه
دَ دوجهان ښکلے جانان ﷺ لرمه

****

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

روان پــــه لاره دَ یسیـــن ﷺ زۀ یـــمـــــه
پـــه مـصـطـفیٰ ﷺ بـانـدې مـئیـن زۀ یمـــه
دَ مــصــطـفــیٰ ﷺ پـــه هـريـو كـار بـانـدې زۀ
دَ مــصــطـفــیٰ ﷺ پـــه هـر گـلـزار بـانـدې زۀ
مــئيــن مــئيــن پـــه دې حسيــن زۀ يـمـــه
پـــه مـصـطـفیٰ ﷺ بـانـدې مـئيـن زۀ يمـــه
پـــه هـــريـــو گـل دَ مـصـطـفــیٰ ﷺ بـانـدې زۀ
پـــه هـر مـحـفـل دَ مـصـطـفیٰ ﷺ بـانـدې زۀ
مــئيــن مــئيــن زۀ پـــه اميـن ﷺ زۀ يـمــــه
پـــه مـصـطـفیٰ ﷺ بـانـدې مـئيـن زۀ يمـــه
پـــه والــضـحیٰ ښـکـلـی ښـائستـــه صـورت
دَ پـــاك رســول ﷺ پـــه نـــورانـــی سيـــرت
مــئيــن مــئيــن ښـــۀ پـــه يـقيـن زۀ يمـــه
پـــه مـصـطـفیٰ ﷺ بـانـدې مـئيـن زۀ يمـــه
زلـــفـــے والـيـــل ښـکـلــے ښـائستـــه دَ جهـــان
قســـم دے ښـــکـــلــی دی لـــرم دا ايـــمـــان
مــئيــن مــئيــن پـــه بهـتـريـن زۀ يـمـــه
پـــه مـصـطـفیٰ ﷺ بـانـدې مـئيـن زۀ يمـــه
زۀ يـم مـــئيــن دَ مـصـطـفــیٰ ﷺ پـــه الل

مـــئيـــن احـــمـــد ئـــي دے پـــه هـــر کـــمـــال
مـــئيـــن بهتـــــر پــــــه اوّليـــن زۀ يـــمــــــه
پـــه مـــصـــطـــفـىٰ ﷺ بـــانـــدي مـــئيـــن زۀ يـــمـــه

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راځـــے چـــې تـــول پـــه جـــمـــع دَ جانان کلی تـــه ځـــو
راځـــے چـــې دَ نبـــي اٰخـــرزمـــان ﷺ کلـــي تـــه ځـــو
راوخـــلـــے اجـــازت دغـــي ســـفـــر دَ پـــاره تـــول
راوخـــلـــے اجـــازت ددغـــي در دَ پـــاره تـــول
دُنيـــا کښـــې دَ نبيـــانـــو دَ ســـلـــطـــان کلـــي تـــه ځـــو
راځـــے چـــې دَ نبـــي اٰخـــرزمـــان ﷺ کلـــي تـــه ځـــو
راځـــے چـــې شـــو تيـــار ددې ســـفـــر دَ پـــاره تـــول
راځـــے چـــې شـــو تيـــار ددغـــي در دَ پـــاره تـــول
دُنيـــا کښـــې مـــونـــږه دغـــه عـــالـشيـــان کلـــي تـــه ځـــو
راځـــے چـــې دَ نبـــي اٰخـــرزمـــان ﷺ کلـــي تـــه ځـــو
راځـــے چـــې شـــوروان ددغـــي در ديـــدن دَ پـــاره
راځـــے چـــې شـــو روان ددغـــي در چـــمـــن دَ پـــاره
راځـــے چـــې دَ مـــحـــبـــوب دَ پـــاك ســـبـــحـــان کلـــي تـــه ځـــو
راځـــے چـــې دَ نبـــي اٰخـــرزمـــان ﷺ کلـــي تـــه ځـــو
راځـــے چـــې شـــو روان چـــې دلـــتـــه نـــۀ شـــو نـــورايـــســـار
راځـــے چـــې شـــو روان چـــې نُـــور اُنـــکـــړو انـــتـــظـــار

راځـــے چـــي دَګـلـونـو دَریـحــان کـلـی تــه ځــو
راځـــے چـــي دَ نبـــی اٰخـــرزمـان ﷺ کـلـی تــه ځــو
راځـــے چـــي شـــو روان دَ صبـــر حــد شـــولـــو تــمـــام
راځـــے چـــي شـــو روان مـــونـــږه دیدن لـــه امـام ﷺ
احـــمـــد وائـــی راځـــے دَمهـریــان کـلـی تـــه ځــو
راځـــے چـــي دَ نبـــی اٰخـــرزمـان ﷺ کـلـی تــه ځــو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رڼـــا دَ مـــحـــمـــد ﷺ ســـره جهـــان وُځـلـیــدۀ
دُنیـــا خـــولا دُنیـــا وه پـــاس اسـمـــان اُوځـلـیــدۀ
رڼـــا شـــول دَ دُنیـــا دَدر دُنیـــا کښـــي مـحـلات
خـــوارۀ شـــول هـــر طـــرف تـــه ټول انوار او بــرکــات
دُنیـــا کښـــي هـــر طـــرف تـــه هــر مکــان وُځلیدۀ
دُنیـــا خـــولا دُنیـــا وه پـــاس اسـمـــان اُوځـلـیــده
قــدم چـــي کـلـــه راغـــے پـــه دُنیـــا دَ محـمـد ﷺ
قــدم چـــي کـلـــه راغـــے دَرڼـــا دَ مـحـمـد ﷺ
ځـــنـــګـــل ســـره دُنیـــا کښـــي بیــابــان وُځـلـیـدۀ
دُنیـــا خـــولا دُنیـــا وه پـــاس اسـمـــان اُوځـلـیــده
هـــر ځــائـــے دَ هـــر مکــان شو پـه نبـی ﷺ سـره حسین
ښـائسـتــۀ شـو هـــر طــرف ټول نورانی شولو رنګین
پـــه حُســـن دَ نبـــی ﷺ هـــریـــو انســـان وُځـلیـدۀ

دُنيا خولا دُنيا وه پاس اسمان اُوځليده

عجم کښې ښُکلا راغله په دُنيا کښې شو سحر

عرب کښې ښُکلا راغله هرطرف شو منوَر

احمده! بيا په نُور ئې لامکان وُځليدهٔ

دُنيا خولا دُنيا وه پاس اسمان اُوځليده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې په دُنيا کښې مدينې تهٔ ځې

خوند کړى چې دَ پاك رسول ﷺ کوڅې ته ځې

څهٔ ښکلے منظر ددې سفر به وى

څهٔ ښکلے منظر ددغې دربه وى

څوك چې دَرسول الله ﷺ روضې ته ځې

څهٔ ښکلے مزه به دا سفر کوى

دلته دا سفر چې يو بشر کوى

څوك چې دَ ګلونو باغيچې ته ځې

خوند کړى چې دَ پاك رسول ﷺ کوڅې ته ځې

زړهٔ بدن ددهٔ به وى خوشحاله تول

ډك به دا سفروى دَ کماله تول

څوك چې دَ انوارو دے چينې ته ځې

خوند کړى چې دَ پاك رسول ﷺ کوڅې ته ځې

روح به ئې خوشحاله په دُنيا کښې وى

روح بــه ئـي خــوشــحــالــه پــه هرخوا کېښي وی
اے احــمــده ! څــوك چــي دے حــصــي تــه ځــی
خـونـد کـړی چــيِ دَ پــاك رسـول ﷺ کوځي تـه ځی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر دی ښـکـلـی ښـکـلـی خو خیر الانام ﷺ ته نۀ رسی
دُوی کـېـښـي یـو بشـر هـم دَ رسـول ﷺ مقام تـه نـۀ رسی
هـریــو پیــغــمبر مـنـمـه شان ښــه ډیراوچت لـری
لـوئـے مـقـام هـر ځـائـے کـېښي دَ انوارو دَ عـزت لـری
هـریــو پیــغــمبر مـنـمـه ډیر لـوئـے فـضیـلت لـری
دا مــي عـقـیـده ده چــي زمـونـږ امام ﷺ تـه نـۀ رسـی
ډیر دی ښـکـلـی ښـکـلـی خو خیر الانام ﷺ ته نۀ رسی
وګـوره تـورات چــي پــه خپـل ځـائـے اُوچت مقام لری
وګـوره زبـور چــي پــه هــر ځــائـے کـېـښـي احـتـرام لـری
وګــوره انــجـیــل چــي تـل عـزت سـحـر ماښام لـری
دغـــه کــلامــونــه اخــری کــلام تــه نــۀ رســی
ډیر دی ښـکـلـی ښـکـلـی خو خیر الانام ﷺ ته نۀ رسی
حُـسـن دَ یـو سفؑ دے چـي ئـي ذکر په دُنیا کـېـښي دے
حُـسـن دَ یوسفؑ دے چي ئـي ذکـر په هرخوا کـېـښي دے
حُـسـن دَ یـوسفؑ دے چـي ئـي ذکـر په ویـنا کـېـښي دے
حُـسـن کـېـښـي هـيـڅ کـلـه بـيـا ماهِ تـمام ﷺ تـه نۀ رسی

ډیر دی ښکلی ښکلی خو خیر الانام ﷺ ته نهٔ رسی
ما احمد ئې ذکر دَ رښا او حُسن کړے دے
ما ذکر ئې دلته دَ وفا او حُسن کړے دے
ما ذکر ئې دلته دَ حیا او حُسن کړے دے
یو دین دَ دُنیا هم دَ رسول ﷺ پیغام ته نهٔ رسی
ډیر دی ښکلی ښکلی خو خیر الانام ﷺ ته نهٔ رسی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر دی ښکلی ښکلی خو زما جانان ﷺ ته نهٔ رسی
ښکلی ټول ګلونه پاك نبی سلطان ﷺ ته نهٔ رسی
ښکلی ښکلی دغه په دُنیا کښې چې ګلونه دی
ښکلی ښکلی دغه په دُنیا کښې چې لعلونه دی
دُوی دَ مدینې ښکلے ښائسته ذیشان ته نهٔ رسی
ډیر دی ښکلی ښکلی خو زما جانان ﷺ ته نهٔ رسی
ښکلی ښکلی شته دے په دُنیا کښې مخلوقاتو کښې
ښکلی ښکلی شته دے ښهٔ ښائسته ټولو صفاتو کښې
ښکلی دغه ټول زمونږه مهربان ته نهٔ رسی
ډیر دی ښکلی ښکلی خو زما جانان ﷺ ته نهٔ رسی
ښکلی ښکلی شته دے بره بره اسمانونو کښې
ښکللی ښکلی شته دے دَ دُنیا په جهانونو کښې
دغه ټول خیزونه دَ نبی ﷺ مکان ته نهٔ رسی

ډیر دی ښکلی ښکلی خو زما جانان ﷺ ته نهٔ رسی
ښکلی ښکلی شته دے د دُنیا په انسانانو کښې
ښکلی ښکلی شته دے په نبیانو کښې ولیانو کښې
دغه تول احمده ! دَ محبوب سبحان ته نهٔ رسی

★★★★★

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفیقه
ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك
انت التواب الرحیم وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خیر خلقه
محمد واٰله واصحابه اجمعین ومن تبعهم باحسان
الیٰ یوم الدین.......................................

بسم الله الرحمٰن الرحيم

څلورمه برخه

حمد باری تعالیٰ

مــالك دَ كــائــنــات دَ هــر مــكــان ئـي مـولـیٰ
خــالـق پـروردیـګــار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـیٰ
مــالك دَ اسـمــانـونـو ئي هر ځـاتـه ده معلومـه
مــالك دَ جهـانـونـو ئـي هـر ځـاتـه ده معلومـه
مــالك دَ هــر ځـنـګـل دَبیـابـان ئـي مـولـیٰ
خــالـق پـروردیـګــار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـیٰ
مـالك دَ لویو غـرونو ئـي هـر څوك ترینه خبر دی
مـالك دَ دریـابـونـو ئـي هـرڅـوك تـرینـه خبـر دی
مــالك دَ هــریــو ګــل دَ ګـلستــان ئــي مـولـیٰ
خــالـق پـروردیـګــار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـیٰ
مــالك تــهٔ دَ كــرســی ئــي هـم دَلـوح او دَ قـلـم
مــالك ئــي دَ عــرب ســره دُنیــا كښــي دَ عـجـم
مــالك دَ هــر كــافــر او مسـلــمـان ئـي مـولـیٰ
خــالـق پـروردیـګــار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـیٰ
مــالك دَ هــریــان ئــي دَ دُنیـــا دَ هــر بشــر
مــالك ئـي پــه دُنیــا كښــي ددُنیـا ددغـي نمـر

مــالك دَ هــر غـلام او دَ سـلـطـان ئـي مـولـىٰ
خـالـق پـروردیـګـار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـىٰ
مـالك دَ مـو سـمـونـو ئـي دُنیـا کښـي دَ جهـان
مـالك دَ بـارانـونـو ئـي دُنیـا کښـي دَ جهـان
مـالك دَ هـر کـافـر او مسـلـمـان ئـي مـولـىٰ
خـالـق پـروردیـګـار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـىٰ
مـالك هـم دَ ګـرمـي ئـي ددُنیـا ددغـي در
مـالك هـم دَ یـخـنـي ئـي دَدُنیـا دَ دغـي در
مـالك هـم سپـرلـی او دخـزان ئـي مـولـىٰ
خـالـق پـروردیـګـار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـىٰ
مـالك تـۀ دَ احـمـد ئـي پـه دُنیـا کښي پـه هردر
مـالك تـۀ دَ مـابـام ئـي هم مـالك ئـي دَ سـحـر
مـالك دَ هـر صـفـت دَ هـریـان ئـي مـولـىٰ
خـالـق پـروردیـګـار دَ ټـول جهـان ئـی مـولـىٰ

حمد باري تعالىٰ

کـریـم ئـي تـۀ رحیـم ئـي تـۀ رحـمـان ئي مولـىٰ
پـه هـر چـا پـه هـر ځـائـے کښي مهربان ئي مولـىٰ
نبیـان دے ټول مـحتـاج دي پـه دُنیـا کښي پـه هردر
ولیـان دے ټول مـحتـاج دي پـه دُنیا کښي پـه هردر
هـادي دَ کـائـنـات دَ هـرانسـان ئـي مـولـىٰ

پـه هـر ځا پـه هـرځـائے کښې مهربان ئې مولیٰ
وزیـر دے کـۀ بادشاه دے ستا مـحتاج دے پـه هر در
صالح دے کـۀ گـمراه دے ستا محتاج دے پـه هر در
عـظیـم پـه هـرصـفـت ښـۀ عـالیشـان ئې مـولیٰ
پـه هـر ځا پـه هـرځـائے کښې مهربان ئې مولیٰ
خـــالـق دَ ټـول جهـــان ئـې ددې زمـکـے اوآسـمـان
رازق دَ ټـول جهـــان ئــې پـــه دُنیـــا دَ هـــرحیـوان
مـوصـوف پـــه هـرصفـت ددې جهـان ئـې مـولیٰ
پـه هـر ځا پـه هـرځـائے کښې مهربان ئې مولیٰ
ذرَه ذرَه مـحتـــاج ده پـــه دُنیـــا کښـــې ستـــا دَ در
احـمـدعـلـی هـم غـوارې ستـانـه دلتـه هرسحر
اگـــاه دَ هـــربشـــر دَ هـــر مـــکـــان ئـــې مـولیٰ
پـه هـر ځا پـه هـرځـائے کښې مهربان ئې مولیٰ

حمد باری تعالیٰ

خـــالـق دَ کــائـنـــات دَ هـــرآسـمـــان دے الـلّٰـــه
مـــالك دَمـــخــلـــوقـــاتـــو دَ جهـــان دے الـلّٰـــه
لـرم دا عـقیـده چې شـریك نـه لری پـه ذات کښې
لـرم دا عـقیـده چې شریك نـه لری صـفـات کښې
رحیـم ســره کـــریـم دے هـم رحـمٰـن دے الـلّٰـــه
مـــالك دَمـــخــلـــوقـــاتـــو دَ جهـــان دے الـلّٰـــه

خبــــر دے دَ هـــر چـــانــــه دا لـــرم زهٔ عـقـيـده
عـــالـــی دے عـــاليشـــانــه دا لـــرم زهٔ عـقـيـده
مـعـمـــار دَ هـــريـــو څيـــز دَ هـــر مـكـــان دے اللّٰـــه
مـــالك دَمـــخـلـوقـــاتـــو دَ جهـــان دے اللّٰـــه
هـــر څيـــز تـــه ئـي نـظـــر دے ددُنيـــا ددغـــی در
ښـكـــاره دی ورتــــه هـــر څـــهٔ ددُنيـــا دَبـحـــر و بـــر
مـــالك دَ هـــر ے دَ ګـتـيـے دَ تـــاوان دے اللّٰـــه
مـــالك دَمـــخـلـوقـــاتـــو دَ جهـــان دے اللّٰـــه
رازق دَ مـخـلـوقـــاتـو پـــه دُنيـــا كښـي پـــه هـــر در
مـــالك دَ تـيـولـــو ستـــورو دے مـــالك دے دَ قـمـــر
مـــالك دَ هـــريـــو غـــر دَ هـــر ميـدان دے اللّٰـــه
مـــالك دَمـــخـلـوقـــاتـــو دَ جهـــان دے اللّٰـــه
مـــالك دَ ونـــو بـــوټـــو دَ دُنيـــا دَ هـــر چـمـــن
مـــالك دَمـــو سـمـــونـــو پــــه دُنيـــا دَ هـــر وطـن
مـــالك دَ آبـــادي او بيــــابـــــان دے اللّٰـــه
مـــالك دَمـــخـلـوقـــاتـــو دَ جهـــان دے اللّٰـــه
مـــالك زمـــا او ستـــا دے احـمـد وائـــی پـــه هـــر در
هـــر چـــا نـــه پـــه دُنيا كښـي هغـه ذات دے ښـــهٔ خبر
مـــالك زمـــا دُنيـــا كښـــي دَ بيـــان دے اللّٰـــه
مـــالك دَمـــخـلـوقـــاتـــو دَ جهـــان دے اللّٰـــه

حمد باري تعالىٰ

اے مولىٰ پـه ټـول جهـان کښې ستا دے ذکـر
پـه مکـان او لامکـان کښې ستا دے ذکـر
دَ دُنیـا پـه دے هـوا کښې بـره بـره
لاندې بـاندې هـر اَسمـان کښې ستا دے ذکـر
پـه ښکـاره سـره هـم دغـه شـان پـه پټـه
هـر ځنګل او بیـابـان کښې ستا دے ذکـر
هـر ذرّه ذرّه دُنیـا کښې ستـا کـړی ذکـر
هـریـو غـر پـه هـر میدان کښې ستا دے ذکـر
دَ یخنے سـره ګـرمـې کښې دغـه کیـږي
پـه سپـرلـی او پـه خـزان کښې ستا دے ذکـر
یـو ځـائے نشتـه چـې خـالـې وی ستا دَ ذکـره
دَ دُنیـا پـه هـر اَذان کښې ستـا دے ذکـر
هـر نبـی ولـی پـه هـر ځـائے کښـې یـاد کـړے
دَ دُوی هـر ځـائے پـه اعلان کښې ستا دے ذکـر
علـمـاء پـه هـر محفـل کښې یـادوی تـا
خوشحـالے کښې پـه خفګان کښې ستا دے ذکر
مسـافـر دے پـه سـفـر کښې یـادوی تـل
پـه هـر ګـران او پـه اَسـان کښې ستا دے ذکـر
پـه تـورات زبـور انـجیـل کښې ستـا دے ذکـر

اَخــــری کتـــاب قـــراٰن کښــې ستـــا دے ذکـــر
دا جهــــان ټـــول پـــه ذکـــر مــاړۀ نـــه شـــول
دَاحـــمـــدعـــلـــی بیـــان کښـــې ستـــادے ذکــر

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـــــریـــو قـــول دَ مـــحـــمـــد ﷺ
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرلــــحــــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــربشــــر
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرســــحــــر
نُـــوردے نُــــوردا دَابـــــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرلــــحــــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــروطـــن
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرکــــفــــن
نُـــوردے نُــــوردَنیك اوبـــــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرلــــحــــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرمــکـــان
نُـــوردے نُــــوردَ هــــراسـمـــان
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرولـــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــرلــــحــــد
نُـــوردے نُــــوردَ هــــري لار
نُـــوردے نُــــوردَهــــرګــــفتــــار

دا علاج دے هم مدد
نُور دے نُور دَ هر لحد
اے احمده! دا دے نُور
دَ هر زړۀ دے دا سُرور
دا بنُکلا ده دَ مرقد
نُور دے نُور دَ هر لحد

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کۀ تۀ لري شوے دَ نُور سنت دَ باب نه
ځان محروم به کړے دَ لوئي اجر وثواب نه
دَ آخر دَ لوئي مقام نه به شي لرے
لرے شي به دَ دُنیا دَ ښۀ احباب نه
کۀ تۀ لري شوے د دین دَ محمد ﷺ نه
بچ به نشے په دُنیا کښي دَ خراب نه
رښا ګاني دَ دُنیا درله بیا نشته
کۀ تۀ لري شوے دَ پاك نبی ﷺ اصحابؓ نه
په بدعت کښي مبتلا کۀ په جهان شوے
بچ به نشے په آخر کښي دَ عذاب نه
ناکامي دَ دوجهان ده په دُنیا کښي
کۀ تۀ لري شوے دَ پاك اللّٰه کتاب نه
راشه راشه هر سنت له اے احمده!

دَ نجات دے دا سبب يو دَ اسباب نه

نعتِ مصطفٰیﷺ

لوئي مقام دَ محمدﷺ دے دَ خبرو
قيمتی دی دا خبرے له سروزرو
دا ګلونه دَ جهان ګنهه دُنيا کښي
دا دی غوره دَ دُنيا دَ ملغلرو
خوشحالی په دے خبرو کښي ده پته
دا علاج دے دَ دُنيا دَ مرورو
اقتدا دې خبرو کړه احمده !
په قسمت کښي داوی تل دَ بختورو

نعتِ مصطفٰیﷺ

لوئي مقام دے ستا دَ زلفو
احترام دے ستا دَ زلفو
دا ښکلا دَ ټول جهان ده
حُسن تمام دے ستا دَ زلفو
دا بيان دَ ټول جهان دے
خاص وعام دے ستا دَ زلفو
تذکره ده هر طرف ته
ګام په ګام دے ستا دَ زلفو
دَ هر چا ښکلا په دے ده

نُور تمام دے ستا دَ زلفو
اے احمده! ذکر بشۀ دے
بشۀ کلام دے ستا دَ زلفو

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثناخوان دَ پاك رسول ﷺ دَ هر يو دريم
ثناخوان دَ محمد خيرالبشر ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ ټول آل دَ محمد ﷺ يم
په دُنيا کښې په هر حال دَ محمد ﷺ يم
ثناخوان ئې صديقؓ او دَ عمرؓ يم
ثناخوان دَ محمد خيرالبشر ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ احباب دَ محمد ﷺ يم
مدح خوان زۀ دَ اصحابؓ دَ محمد ﷺ يم
مدح خوان زۀ دَ عثمانؓ او دَ حيدرؓ يم
ثناخوان دَ محمد خيرالبشر ﷺ يم
ثنا خوان يم دَ حُسينؓ او دَ حسنؓ
مدح خوان يم په دُنيا ئې دَ وطن
ثناخوان ئې په دُنيا په لر او بر يم
ثناخوان دَ محمد خيرالبشر ﷺ يم
ثناخوان ئې زۀ احمد دَ بښکلى کُوريم
ثناخوان ئې دَ دُنيا زۀ په هر لُوريم

مدح خوان ددغي هر يو سحريم
ثناخوان دَ محمد خير البشر ﷺ يم

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

په سنت باندې ښائستهٔ شهٔ مبارك شهٔ
دَ تيرورنا ډيوه شهٔ مبارك شهٔ
دَايمان او اتحاد په غټ قوَت
دَ سنت په نُور بنياد په غټ قوَت
يوه جوړه نمونه شهٔ مبارك شه
دَ تيرورنا ډيوه شهٔ مبارك شهٔ
په سيرت باندې روان دَ محمد ﷺ شهٔ
شريعت باندې روان دَ محمد ﷺ شهٔ
بهترين په هر حصه شهٔ مبارك شهٔ
دَ تيرورنا ډيوه شهٔ مبارك شهٔ
بهترين دَ پاك نبى ﷺ په صداقت شهٔ
بهترين دَ پاك نبى ﷺ په نصيحت شهٔ
دَ ګلونو ګلدستهٔ شهٔ مبارك شهٔ
دَ تيرورنا ډيوه شهٔ مبارك شهٔ
واخله واخله طريقه دَ محمد ﷺ
داسے وائى په دُنيا كښي دا احمد
ښائستهٔ ښكلے ائينه شهٔ مبارك شهٔ

دَ تیرو ورنا ډیوه شۀ مبارك شۀ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کۀ په عقل باندې هر سړے لقمان شی
بیا را جمع هریو شکلے حق بیان شی
هر قول نه ګل شی جوړ ددې جهان
خوشبو داره بیا هر ګل ددې جهان شی
دَ دُنیا دَ در لعلونه شی تول جمع
دا لعلونه دَ دُنیا دَ بدخشان شی
هر موسم نه سپرلے جوړ شی دَ جهان
دَ دُنیا دَ در نه ختم دا خزان شی
دا اوصاف تول یو صفت دَ محمد ﷺ دے
کۀ صفات ورسره جمع دَ اسمان شی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشۀ اُوکړه دَ نبی ﷺ سره وفا
اُوکړه اُوکړه هاشمی ﷺ سره وفا
جوړ چې نشے بې وفا په یو مقام
اُوکړه اُوکړه مدنی سره وفا
په وفا باندې جنت دَ محمد ﷺ شته
اُوکړه هریو صحابیؓ سره وفا
دا انوار تول په جهان دَ محمد ﷺ دی

اُوکـــــړه اُوکـــــړه هــــر ولــــی ســـــره وفـــــا
پــــه وفـــا کښــي دَ نبــی ﷺ رضـــا پــرتـــه ده
اُکـــــړه هــــرښــــــۀ اُمتــــی ســـــره وفـــــا
لــــرے اُوســـــه اے احـــمـــده ! دَ جــفـــا نـــه
اُوکـــــړه اُوکـــــړه دَ مـــکــــی ﷺ ســـــره وفـــــا

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

یـــار مـــي یـــار دي دُنیـــا دے هــغـــه کــــس
چــي تـــابـع دَمـصـطـفـیٰ ﷺ دے هغـه کـس
چـــي تـــابـــع دَ مــحــمـــد خیـــر البشـــر ﷺ وی
ســـردارنـــو کښـــي ســـردار دے هــغـــه کــــس
چـــي روان پــــه طـــريـــقـــه دَمـــحـــمـــد ﷺ وی
بهتـــريـــن پــــه هـــره لار دے هــغـــه کــــس
چـــي رښـــاوی دَنبـــی ﷺ پــــه نُـــور ســـنــت
دَ دُنیـــا دَ در هـــوښیـــار دے هــغـــه کــــس
مبتـــلا چـــي پـــه بـدعـــت او شـــرك کښـي نـۀ وی
داســـے وائـــي تـــول بیـــمـــار دے هــغـــه کـــس
مبتـــلا چـــي پـــه گـــنـــاه کښـــي دَ جهـــان وی
زهیـــريـــلـــه دَدر ښـــامـــار دے هــغـــه کــــس
چـــي پـــه زړۀ کښـي ئـي دَ پـــاك نبـی ﷺ وی مینـه
اے احـــمـــده ! تـــل ســـردار دے هــغـــه کــــس

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زار دَ هر سنت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ شریعت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ هر یو امر دَ نبی ﷺ نه شم
زار زهٔ دَ مکی او مدنی نه شم
زار دَ هر صفت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ هر سنت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ هر ادا دَ مصطفیٰ ﷺ نه زهٔ
زار دَ نُور رڼا دَ مصطفیٰ ﷺ نه زهٔ
زار دَ هدایت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ هر سنت دَ محمد ﷺ نه شم
زار ئي په دُنیا کښې زهٔ دَ آل نه شم
زار ئي په دُنیا کښې دَ جمال نه شم
زار دَ هر نسبت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ هر سنت دَ محمد ﷺ نه شم
زار ئي دَ اصحابو دَ دُنیا نه شم
زار ئي دَ دُنیا دَ هر وفا نه شم
زار دَ صداقت دَ محمد ﷺ نه شم
زار دَ هر سنت دَ محمد ﷺ نه شم
زار ئي دَ چمن نه زهٔ احمد شمه

زارئـــيِ دَوطـــن نـــه زهٔ احـــمـــد شـــمـــه
زار دَ عبـــادت دَ مـــحـــمـــد ﷺ نـــه شـم
زار دَ هـــر ســنـــت دَ مـــحـــمـــد ﷺ نـــه شـم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زار دَ مـــديـــنـــي مـــنـــوري نـــه شـم
زار دَ مـصـطـفـىٰ ﷺ بـشـكـلـے روضـي نـه شم
زار دَ دغـــي در دَ هـــريـــو ګـــل نـــه شـم
زار دَ دغـــى در دَ هـــر مـــحـــفـــل نـــه شـم
زار دې دُنيـــا دَ بـــاغـيـــچـــي نـــه شـم
زار دَ مـــديـــنـــي مـــنـــوري نـــه شـم
زار دَ دغـــي در دَ هـــر بشـــر نـــه شـم
زار د دغـــى در دَ هـــر رهبـــر نـــه شـم
زار د دغـــى در دَ دروازي نـــه شـم
زار دَ مـــديـــنـــي مـــنـــوري نـــه شـم
زار د دغـــي در بـشـــائـسـتـــهٔ قـــرآن نـــه شـم
زار د دغـــي در هـــريـــو بيـــان نـــه شـم
زار د دغـــي در لاري كـــوڅـــي نـــه شـم
زار دَ مـــديـــنـــي مـــنـــوري نـــه شـم
زار دَ دغـــي در دَ هـــريـــو نُـــور نـــه شـم
زار د دغـــي در دَ پـــاك حـــضـــور ﷺ نـــه شـم

زار د دغـــې در هـــرې جـنـــګـلـــې نــــه شم
زار دَ مــــديـــنـــي مــنـــورې نــــــه شــم
زار تـــريــنــــه احــمـــد زۀ دَ مـــردان شــمــه
زار تـــريــنـــه دُنيـــا كښې پـــه هـــرآن شــمــه
زار د دغـــــې در دَ تـــــذكــــرې نــــــه شــم
زار دَ مــــديــــنــــي مــنـــورې نـــــه شــم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زار دَ مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ دَ هـــر ادا نــــه شم
زار دَ مـــحـــمـــد بـــدالـــدجـــىٰ ﷺ نــــه شـم
زار دَ امـــــامـــــانـــو دَ امـــــام نــــــه شـم
زار دَ مـــقـتــــدا دَ خـــــاص وعـــــام نــــه شـم
زار دَ مـــجتبـــىٰ شـــمـــس الـضـحـىٰ ﷺ نـــه شم
زار دَ مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ دَ هـــر ادا نــــه شم
زار زۀ دَ ســــاقـــى خيـــر الابـــرار ﷺ نــــه شـم
زار دَ مُـــــرســلانـــو دَتـــاجـــدار ﷺ نـــــه شــم
زار دَ مـــحـــمـــد خيـــر الـــورىٰ ﷺ نــــه شـم
زار دَ مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ دَ هـــر ادا نــــه شم
زار دَ پـــاك نبـــى ﷺ ښـكـلـى كتـــاب نـــه شم
زار دَ پـــاك نبـــى ﷺ دَ تـــول اصـحـــاب ؓ نـــه شم
زار دَ كـــائـنـــات زۀ دَ خيـــر خـوا نــــه شـم

زار دَ مصطفیٰ ﷺ دَ هر ادا نه شم
زار دَ پاك نبی ﷺ دَ هر قدم نه شم
زار زۀ دُ دُنیا دَ محترم نه شم
زار زۀ دَ خاتم الانبیاء ﷺ نه شم
زار دَ مصطفیٰ ﷺ دَ هر ادا نه شم
زار دَ دوجهان نه دَ رحمت شمه
زار دَ مصطفیٰ ﷺ نه هر ساعت شمه
زار دَ مجسَم دَ نُور رڼا نه شم
زار دَ مصطفیٰ ﷺ دَ هر ادا نه شم
زار تر رینه احمد زۀ دَ دُنیا شمه
زار تر رینه هر وختي په هر خوا شمه
زار دَ مزمل ﷺ نه دَ طٰه ﷺ نه شم
زار دَ مصطفیٰ ﷺ دَ هر ادا نه شم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مقتدا چي دَ چا سیَد البشر ﷺ شی
رهنما نه دَ دُنیا دَ بحر و بر شی
چي روان په طریقه دَ محمد ﷺ شي
په دُنیا او په آخر به بختور شی
چي ژوندون کښي ئي رڼا دَ سنت راشی
دَ هر در دَ پاره نُور به دَ سحر شی

چـي پـابـنـد دَ شـريـعـت دَ مـحـمـد ﷺ شـي
بهتــريــن بـــه دَ دُنيـــا پـــه لــراو بــر شـــي
پـــه قـدم بـــانــدي قـدم چـــي دَ نبـــي ﷺ ږدي
رهبـــرانـــو لـــره دلتــــه بـــه رهبـــر شـــي
چـــي قـدم خـوك دَ نبـــي ﷺ پـــه قـدم كيـــږدي
اے احـــمـــده ! عـــزتـــمـــنـــده بـــه بهتـــر شـــي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډير پـه دي دُنيـا كښي اے مـحبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
تـــوري تـــوري زلـــفـي دَ وَالّيـْـل پـــه دي قـران لـرے
توري توري زلفي ښكلے ښكلے پـه هـر در لـرے
تـــوري تـــوري زلـــفـي دَ دُنيـــا ښـــهٔ مـعـطَـر لـرے
تـوري تـوري زلـفـي پـه دُنيـا كښي عـاليشان لـرے
ډير پـه دي دُنيـا كښي اے مـحبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښـكـلے ښـائستـهٔ مـخ دے دَ دُنيـا دَ هـر بشـر نـه دے
ښـكـلے ښـائستـهٔ مـخ دے دَ دُنيـا دَ هـر سحر نـه دے
مـخ ښـكـلـے ښـائستـهٔ لك دَ ګـل دَ ګلستان لـرے
ډير پـه دي دُنيـا كښي اے مـحبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښـكـلـے پـــه دُنيـــا كښـــي دَ دُنيـــا دَ در قـدم لـرے
ښـكـلے هـر صـفـت هـم پـه عـرب او پـه عجم لـرے
ښـكـلے هـر صـفـت د دي دُنيـا پـه دي قـران لـرے

ډیر په دې دُنیا کښې اے محبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښکلے هر صفت لرے دُنیا کښې د دُنیا دَ در
نُور دَ عظمت لرے دُنیا کښې دَ دُنیا دَ در
ښکلے په دُنیا کښې دَ دُنیا دَ در مکان لرے
ډیر په دې دُنیا کښې اے محبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښکلے په یارانو کښې بلالؓ سره صدیقؓ لرے
ښکلے دَ دُنیا د در دُنیا کښې دا رفیق لرے
ښکلے په یارانو کښې عمرؓ لرے عثمانؓ لرے
ډیر په دې دُنیا کښې اے محبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښکلے په یارانو کښې حضرت علیؓ حیدر لرے
ښکلے هر یو یار دلته دَ هر چا نه بهتر لرے
ښکلے په یارانو کښې اصحابوؓ کښې حسانؓ لرے
ډیر په دې دُنیا کښې اے محبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښکلے یو یار لرے دَ ګل پشان ښائسته ښکلے
ښکلے هر ګفتار لرے دَ ګل پشان ښائسته ښکلے
ستورې دَ دُنیا دې دغه ستورې دَ آسمان لرے
ډیر په دې دُنیا کښې اے محبوبه ! ﷺ عاشقان لرے
ښکلے په دُنیا کښې دَ دُنیا تول شریعت دے ستا
وائي احمد وائي نور دے نور هر عبادت ستا
ښکلے هر ادا لرے او ښکلے هر بیان لرے

ډیر په دې دُنیا کښې اے محبوبه ! ﷺ عاشقان لرے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عمل اُوکړه په سنت
دا دے نُور دَ شریعت
دا فلاح ده دَ جهان
دا دے سیورے دَ رحمت
دا دے حُسن دَ انسان
دَ انسان دے دا عظمت
دا دے نُور دَ کُل جهان
نُور دے نُور دَ عبادت
دا رضا دَ محمد ﷺ
دا سبب دَ شفاعت
دَ کوثر دَ ښکلی جام
دا سبب دے هر ساعت
پوره وزن دَ میزان
دا کُنجی ده دَ جنت
دَ پل صراط ملګرے
بهترین دا عبادت
دا رضا دَ پاك نبی ﷺ
دَ هر درد دے هدایت

پــــه کښــــي میـــنـــــه ده پــرتـــــه
ختــــــمــــــوُی هـــــــرشـــــــرارت
احـــــمـــــده ! خــــلاصــــــــــه دا
شتــــــه پـــــه دے هـــرصـــفـــت

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـــا چــــي مــحبــوب دَ دوجهــــان ولُیــدۀ
هـــغـــــــۀ نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ ولُیــدۀ
حـــق ئــــي لیـــدل دی دَ دُنیـــا پـــــه در
نـــــۀ ده دهـــوکـــــه ددي دُنیـــــا دَ نـــظـــر
چــاچــي مــطــلــوب دَ مسـلــمــان ولیــدۀ
هـــغـــــــۀ نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ ولیــدۀ
حـــق ئـــي لیـــدل دی عـــقـیـــده لـــرمـــه
دا عـــقـیـــده پـــه هـــرحـــصـــه لـــرمـــه
چـــا چـــي مـــطـــلـــوب دَ هـــرانســـان ولُیــدۀ
هـــغـــــــۀ نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ ولیــدۀ
حــق ئـــي لیـدل دی دَ هـــر چـــا پـــه خـــوب کښـــي
حــق ئـــي لیــدل دی دَ دُنیـــا پـــه خـــوب کښـي
احــــمـــــده ! نُــــورئـــــي دَ قـــــرآن ولیــدۀ
چــــاچـــــي نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ ولیــدۀ
تـــــاچـــــي نبـــی اخـــرزمـــان ﷺ ولیــدۀ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوک چې قرآن پېژني نُور دَ جهان پېژني
لاړ دَ جنت پېژني چې څوک چې رحمٰن پېژني
څوک چې نبی پېژني هر صحابیؓ پېژني
څوک چې ولیان پېژني نُو امامان پېژني
څوک چې فلاح پېژني روح دَارواح پېژني
څوک چې نیکی پېژني هغه احسان پېژني
څوک چې ذلت پېژني هغه عزت پېژني
څوک چې ګناه پېژني هغه نقصان پېژني
څوک چې وفا پېژني هغه جفا پېژني
څوک چې نقصان پېژني هغه شیطان پېژني
څوک چې لحد پېژني قول دَاحمد پېژني
حق دا بیان پېژني کار دَایمان پېژني

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نشته نشته په دولت کښې څهٔ سکون
نشته نشته په بدعت کښې څهٔ سکون
په قرآن او په سنت کښې سکون پروت دے
نشته نشته بغاوت کښې څهٔ سکون
په نیکی کښې سکون پروت دے دَ جهان
نشته نشته شرارت کښې څهٔ سکون

محبت کښې سکون پروت دَ ټول جهان دے
نشته نشته عداوت کښې څهٔ سکون
دَ اصلاح په هريو کار کښې سکون شته دے
نشته نشته شيطانت کښې څهٔ سکون
په سُستے کښې سکون نشته دَ بشر
نشته نشته په غفلت کښې څهٔ سکون
نشته نشته دَ شيطان په محبت کښې
دَ ابليس په محبت کښې څهٔ سکون
اے احمده! سکون نشته په تيارے کښې
نشته نشته ضلالت کښې څهٔ سکون

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشه راشه تلاوت کښې شته سکون
کار کښې هرځائے په سنت کښې شته سکون
بې دينې کښې سکون نشته په جهان
راشه راشه شريعت کښې شته سکون
په ګناه کښې سکون نشته په يو در
راشه هرځائے عبادت کښې شته سکون
نشته نشته دَ شيطان په اطاعت کښې
دَ نبی ﷺ په اطاعت کښې شته سکون
نشته نشته په کارونو دَ ذلت کښې

راشـــه راشـــه پـــه عـزت کبنـي شتـه سـکـون
نشتـــــه نشتـــــه دَدُنيـــا پـــه عــداوت کبنـــي
راشـــه ميـنـــه مـحبـت کبنـــي شتـه سـکـون
اے احـمـد عـلـى ! هـر كـار دَسـنـت بنـۀ دے
د دُنيـــا دغـــي دولـــت کبنـــي شتـــه سـکـون

نعتِ مصطفىٰ ﷺ

څـوك چـې پـــه مـحبـوب پسـي ژړيـړی نـــه
دغـــه عـاشـق نـــۀ دے چـې کـړيـړی نـــه
ميـنـــه دَرســول ﷺ دَايـمـــان جـزء کـنـم
يـو عـمــل بـغيـــر لـــدې قبـليـــړی نـــه
څـوك چـې دَنبـى ﷺ رضـا پسـے نـــۀ ځـى
داسـے انســان يـو ځـائـے کـاميـابيـړی نـــه
څـوك چـې دَنبـى ﷺ سـنـت تـه سپك ګـوری
داسـے انسـان يـو ځـائـے خـوشـحـاليـړی نـه
څـوك چـې دَسـنـت سـره کـوی ميـنـــه
داســـے انســـان ځـــی بـــره اُدريـــړی نـــه
څـوك چـې پـــه اسـلام پسـي خـنـدا کـوی
اے احـــمـــده ! ديـــن ورســـره نشتـــــه دے
څـوك چـې دَرســول الـلّـه ﷺ شـرميـړی نـــه

★★★★★★★★

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړهٔ مې دَیار کلی نه صبرېږی نه
زړهٔ دے دا په بل ځهٔ قلارېږی نه
یاد چې ورته کور دَ محمد ﷺ شولو
اُوس په منتونو منع کیږی نه
یاد چې ورته نُور دَ محمد ﷺ شولو
اُوس دا په بل یو څیز خوشحالیږی نه
یاد چې ورته دوست دَ ربَ اکبر شولو
اُوس ئې په بل ځائے کښې علاج کیږی نه
یاد چې ورته خاتم الرُّسل ﷺ شولو
اُوس په بل یو څیز باندې مړیږی نه
یاد چې ورته سیّدالوریٰ ﷺ شولو
اے احمده! ځکه ایساریږی نه

نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مینے محبت ته څوک رسیږی نه
بې له محمده ﷺ ملاویږی نه
څوک چې مینه زړهٔ کښې دَ نبی ﷺ لری
هغهٔ زړهٔ بل چا پسے کړیږی نه
څوک چې مُرسلان ددې دُنیا منی
بې له محمد ﷺ ترې هار جوړیږی نه

څـوك چـې كـلـمـــه وائـــى او اللّـــه مـنـــى
دا تـــوحيــد بــغيـــر نبـــى ﷺ قبـليـــږى نـــه

څـوك چـې پـــه نبـــى ﷺ بـــانـدې ايـمـــان لـرى
دا بـــې لــــه اصـــحـــابــو ؓ پـــوره كيـــږى نـــه

څـــوك چـــې دَ نبـــى ﷺ دَ لار نـــــه لـــرى دى
دوى دى تـــول پـرانـــدۀ ورتـــه ښـــكـــاريـــږى نـــه

اے احـــــمـــــده ! لاره دَ نبـــى ﷺ ښـــــۀ ده
څـوك چـې تـريـنــه لــرې دى پــوهيـــږى نـــه

★★★★★

تمت بحمد اللّٰه تعالىٰ وبتوفيقه
ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك
انت التواب الرحيم وصلى اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقه
محمد واٰله واصحابه اجمعين ومن تبعهم باحسان
الىٰ يوم الدين...

دَ مولانا احمدعلی مردانی نُور چهاپ شوی کتابونه

★ **معدن البیان فی ترجمة القرآن** ★
دَ قرآن کریم دَ بعضو سورتونو پښتو منظومه ترجمه

★ **قواعد النحو** ★
(دَ علم النحو ټول قواعد په پښتو نظم کښې)

★ **ګلدسته دَ تجوید** ★
(دَ علم التجوید ټول قواعد په پښتو نظم کښې)

★ **ګلدسته دَ اُصول حدیث** ★
(دَ اُصول حدیث تذکره په پښتو اشعارو کښې)

★ **لُبّ اللباب یعنی خاصیات ابواب** ★
(خاصیات ابواب په پښتو شعرونو کښې)

★ **دَ مونځ تعلیم** ★
(دَ مونځ ټول مسائل په پښتو شعرونو کښې)

★ رڼا دَ سحر (صدارتی ایوارډ یافته) ★
(پښتو نعتونه)

★ ښکلا دَ چمن ★
(پښتو نعتونه)

★ سیرت عشره مبشرةؓ (اُردو) ★

★ سیرت ائمه اربعةؒ (اُردو) ★

★ انمول موتی (اُردو) ★

ناشر

مکتبه عشره مبشرةؓ غزنی سټریټ لاهور

دَ هريو مشهور نعت خوان انتخاب



دَ زړهٔ سکون

نوی او خواږه نعتونه





ليکونکے

احمدعلی مردانی

صدارتی ايوارډيافته

خورونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورستی روډ مردان 0312-9818511

دَ زړهٔ سکون
نوی او خواږه نعتونه
ليکونکے
احمدعلی مردانی